بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** نریوال اقتصاد

**څانګه:** د تجارت اقتصاد

**مؤلف:** عبدالغفور امینی

**ژباړن:** نور الله حقمل

**د ځار کمېټه:**

- محمّد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابي د تعلیمي نصاب رییس
- محمّد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- وفأ الرحمن وفا
- محمّد احسان احسان

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول :** محمّد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** محمّد حسن رمضانی

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

کد ISBN: 9789936300989



Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزیر پیغام

## ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د هماغه ټولنې د توانمندو کاري کادرونو، بشري قواؤ او ماهرو متو په کار او زیار پورې تړلې او د دوی په خوارۍ پورې نغښتې. همدا بشري قوا او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسیدو لارې چارې طی کوي او د یوه نیکمرغه، ودان افغانستان راتلونکې تضمینوی.

انسان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انساني فطرت له اړخه موظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه سوکاله ژوند د اسبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش او خپل ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

له همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعاله انسان نقش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، همیشه مطلوب او په هیڅ حال او احوال کې نه نفی کیږي او نه هم منقطع کیږي.

د پوهنې نظام په ټولنه کې او په خاصه توګه د پوهنې تخنیکی او مسلکی زده کړې مسوولیت او مکلفیت لري چې د اسلامي ارزښتونو، احکامو معقولو او مشروع قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانستان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي او دغه ستر او سپېڅلی هدف ته د رسیدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوی، مسلکي او تخنیکی کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد او مرام دی. همدا په تخنیکی او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولای شي په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند ټګ لاره ، دولتدارۍ او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیستی ، نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقی باید په علمي معیارونو داسې اساس او بنا شي چې زموږ د کارګر نسل مادي او معنوي ودې ته لومړیتوب ورکړل شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده ، بلکه دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو غښتلی کړي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسی او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد وساتي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان او درانه استادان او مربیون باید په بشپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نیکمرغه افغانستان آرمان، یواځې او یواځې د دوی په توانمندو متو، ویښ احساس او نه ستړي کیدونکي جد او جهد کې نغښتی او همدا مسلکي او تخنیکي زده کړې کولای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه کړي.

د دې نصاب د ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، سمووونکو او تدقیق کوونکي د امتنان تر څنګ، پدې بهیر کې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له اغیزمنې ونډې او مرستو څخه د زړه له تله مننه کوو. له درنو او پیاوړو استادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نیکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**
**د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک



| پاڼې | لړلیک | څپرکی |
|---|---|---|
| ۱ | د نړیوال تجارت د منځته راتګ لاملونه | لومړی |
| ۷ | د نړیوال اقتصادځانګړتیاوې | دوهم |
| ۱۱ | د نړیوال اقتصاد تاریخ او نظریاتو ته کتنه | دریم |
| ۱۷ | د خارجي تجارت کلاسیکي نظریات | څلورم |
| ۲۵ | مهم نړیوال مالي سازمانونه | پنځم |
| ۳۲ | د تادیاتو بېلانس | شپږم |
| ۴۵ | د خارجي تجارت د سیاستونو وسایل او د آزاد تجارت اغېزې | اووم |
| ۵۳ | د وارداتو د تعویض تجارتي سیاست | اتم |
| ۶۳ | مخ پر وده هېوادونه اود نړیوالو سیاستونو پایلې | نهم |
| ۷۱ | له باندنۍ نړۍ سره د افغانستان تجارتي اړیکې | لسم |
| ۸۳ | سرچیني او اخځلیکونه | |
| | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سریزه**

په اوسنۍ نړۍ کې د هیوادونو تر منځ اقتصادي اړیکې د یو مسلم امر په توګه پیژندل کیږي. هر هیواد اړ دی، تر څو د بل هیواد له ملي اقتصاد سره اړیکه ولري، اجناس او خدمتونه یو تر بله سره تبادله کړي او همدا رنګه کار، شتمني او د تولید نور عوامل له یوه اقتصاد څخه بل اقتصاد ته ولیږدوي.

ورځ تر بلې د تبادلاتو او انتقالاتو په حجم کې زیاتوالی راځي. په ځانګړې توګه د بهرنیو معاملو ونډه د اجتماعي تولید په پرتله په کوچنیو او خوارو هیوادونو کې زیاته وي، چې د عوایدو کمه سلنه یې د صادراتو له لارې تر لاسه کیږي او زیاته برخه یې د وارداتو لپاره لګول کیږي.

نو په دې اساس نړیوال تجارت د هیوادونو په اقتصادي وده کې د پام وړ اغېز پرې باسي. دا ځکه چې د نړیوال تجارت له پراخیدو سره د استخدام د سطحې د تولید جوړښت، د ملي عاید سطحه، د هیوادونو پولي وضع هم تر ډیره پر نړیوال اقتصاد باندې اتکا کوي.

که څه هم دا فکر کیږي چې دغه اقتصادي اتکا په نړۍ کې په بشپړه توګه رفاهیت زیاتوي او هیوادونه دې ته اړ باسي، څو هغوی پخپله چې د پولي، اقلیمي، طبیعي او یا تخنیکي وضعیت له پلوه اجناس نشي تولیدولای، مصرف کړي. دغه طریقه همدغسې ستونزې را منځته کوي، خو د حل لپاره یې د نړیوال اقتصاد او مکاتبو د پراختیا په مختلفو دورو کې هڅه تر سره شوې او د هغو په اړه مختلف نظریات وړاندې شوي دي. په ځانګړي ډول له دوهم نړیوال جنګ وروسته د وروسته پاتې هیوادونو په ډله کې ځینې هیوادونه شامل شول او بله ډله د پرمختللیو او پر پښو ولاړ اقتصاد تر نامه لاندې، د نوې معضلې په بڼه د نړیوال اقتصاد په ساحه کې رامنځته شوې ده.

**په درناوی**

**عبدالغفور امینی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دكتاب ټوليزه موخه:**

د نړيوال اقتصاد زده کړه او د هيواد په اقتصاد کې په تيوريکي او
عملي توګه  ترې ګټه اخستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د نړیوال تجارت د منځته راتګ لاملونه

**ټولیزه موخه**
د نړیوال اقتصاد په باره کې پوهېدل او د هېواد په اقتصاد کې له هغه څخه تیوریکي او عملي استفاده.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي د زده کړې موخې لاندې موضوعات تعقیبوي.

- د بهرني تجارت د منځته راتلو تاریخ.
- د نفوس زیاتوالی.
- په بهرنۍ سوداګرۍ کې د قیمتي فلزاتو تاثیر.
- د طبقاتو یا اقشارو منځته راتګ.
- د اقتصاد عقیده او د تفکر ډول.

هغه اړیکي چې د ممالکو تر منځ ایجادېږي کولای شو له څو لوریو تفکیک کړو.
په دې لړ کې اقتصادي او سیاسي روابط، اجتماعي روابط، اقتصادي او فرهنګي روابط، او هغه اقتصادي روابط تر مطالعې لاندې نیول کېږي چې د ممالکو ترمنځ ایجادېږي. البته په هغه نړۍ کې چې موږ اوسو، د ممالکو ترمنځ اړیکي خورا ضروري دي او هېڅ هېواد نشي کولای له نورو د ګوښه سیاست په بنه خپل اقتصادي ژوند ته ادامه ورکړي او د ژوند له غوره معیار څخه برخمن شي.
هر هېواد اړ دی چې له ټولو هېوادونو سره اقتصادي او تجارتي اړیکي ولري، یو تر بله اجناس او خدمتونه سره تبادله کړي او یا دا چې د کار، ځمکي او سرمایې په څېر د تولید عوامل له یوه اقتصاد څخه بل هغه ته ولېږدوي. باید وویل شي د ورته نړیوالو معاملاتو په حجم کې ورځ تر بلې زیاتوالی راځي.
د ورکړل شوې احصایې له مخې د مخ پر ودې هېوادونو په ملي عاید کې د خارجي معاملاتو ونډه زیاته ده، آن دغه ممالک له 15څخه تر25 فیصده پورې ملي عواید د صادراتو له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترلاسه کوي. ، په هره اندازه چې د ممالکو ترمنځ اقتصادي او تجارتي روابط پراخ او غښتلي وي په هماغه تناسب يې د توليد جوړښت، د استخدام د سطحې، او عايد د سطحې زياته برخه د نړۍ په اقتصاد باندې متکي کېږي.

په دې ځای کې د اقتصادي اتکا له ټکي څخه مقصد دا دی؛ چې د هېوادونو په لړ کې ډېر هيوادونه شته چې د هغو توليداتو د توليد وړتيا لري، چې لومړی هېواد يې د اقليمي او تخنيکي شرايطو له مخې د توليد وړتيا نه لري، خو په ورته وخت کې دغه پېښه له اقتصادي نظره يو لړ ستونزې زېږوي، چې د حل په موخه يې د اقتصاد په ښونځيو کې داقتصاد ي انکشاف په بېلابېلو پړاونو کې نظريات وړاندې شوی دي. په لومړی مرحله کې هغه عمده عوامل په لنډه توگه مطالعه کوو چې د نړيوال تجارت او اقتصاد د ايجاد لامل گرځي .

۱. **متفاوت اقتصادي ساختمان:** د عواملو له نامساوي توزيع سره متفاوت اقتصادي ساختمان: څرگنده ده چې د توليد عوامل په هر ځای کې په مساويانه توگه نه دي توزيع شوي او نه يوازې دا چې د توليد د عواملو مقدار په هر ځای کې يو ډول نه دې ، بلکي په مختلفو ممالکو کې د توليد عوامل د جنسيت له مخی هم سره ورته نه دي.

د کميت او کيفيت له نظره د توليد د عواملو دغه شته توپير د دې لامل گرزي ترڅو مختلف ممالک متفاوت اجناس توليد کړي او دغه توليدات يو تر بله تبادله کړي.

په دې اساس که چېرته يو هېواد د اقليمي يا تخنيکي شرايطو له کبله يو معين توکی توليد نه کړای شي او يا د نوموړي شي د توليد لگښت د هغوی له ځواک څخه لوړ وي، پدې صورت کې دغه هېواد کولای شي، نوموړی جنس په لږ مصرف سره ترلاسه کړي.

نو يو عامل چې د اقتصادي او تجارتي روابطو لامل گرځي، له متفاوت اقتصادي جوړښت او د توليد د عواملو له نا برابر وېش څخه عبارت ده.

۲. **حمل او نقل په برخه کې اختراعات او** پرمختگونه: دويم عامل چې د اقتصادي او تجارتي روابطو د ايجاد او پراختيا لامل گرځي، له ايجاداتو او اختراعاتو څخه عبارت دي. البته د حمل او نقل يا لېږد را لېږد په برخه کې اختراعات او اکتشافات د دې لامل وگرزيدل تر څو نوي سيمې کشف او له دغو سيمو سره اقتصادي يا تجارتي روابط غښتلي شي.

د يادونې وړ ده چې پرمختللی، ځواکمن يا مستبد هيوادونه په دې و توانيدل چې د ټولو هېوادونو د توليد له عواملو څخه د خپلو اړتياو د رفع کولو په موخه استفاده وکړي.

د نفتو د استخراج او امريکا يا انگليستان ته د هغوي د لېږد او انتقال په موخه د امريکا او دوستانو له لورې د عراق محاصره کېدل او داسې نور د ورته پېښو د ځينې بېلگو په دود وړاندې کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. **د نفوس زیاتوالی:** هغه درېیم دلیل چې د نړیوالو اړیکو د انکشاف او پراختیا د ایجاد لامل ګرځیدلی، د نفوسو له زیاتوالي څخه عبارت دي. له صنعتي انقلاب او د نولسمی پېړۍ په وروسیتوکې د طب د علم له پرمختک سره د نړۍ نفوس په ګړندۍ توګه زیاتوالی وکړ چې د نفوسو دغه زیاتوالی د زیاتی تقاضا د ایجاد لامل شو.

څنګه د پورتنیو دلایلو له مخې په ځیني ممالکو کې داخلي تولید زیاتوالی نشي کولای، بناً هېوادونه اړ شول څو خپلی اړتیاو ې د وارداتو یا Imports له لارې پوره کړي.

۴. **د قیمتي فلزاتو زیاتوالی او د هغوی رول:** جغرافیائي مطالعات، څېړنې او اکتشافات ، زیاتو اروپایي هېوادونو ته د طلا او نقرې د ورود لامل وګرځېدل، څنګه چې طلا او نقرې د مروجو پیسو نقش درلود، ځکه خو طلا او نقره بیه ورځ تربلی لوړه شوه.

د قېمتونو لوړوالی د استخدام دحالت سره جوخت د تولید د تشویق سبب وګرزېد او د تولیداتو لپاره بازارموندنه او همدا راز د داخلي تولید لپاره د خامو توکو برابرول ددې سبب شول چې هېوادونه استعماري هڅو ته وهڅوي.

۵. **د سرمایه دار، او متشبث قشر یا طبقې منځته راتلل:** هغه عوامل چې پورته ورڅخه یادونه وشوه، د دې لامل وګرځېدل چې سرمایه داره او متشبثه طبقه منځته راووړي او هم د منفعت پرستي ذهنیت ته تقویه ورکړي. ضمناً مخ په زیاتیدونکي تقاضا د دې لامل وګرځېده چې متشبثه طبقه د مفاد د حصول په موخه له لرې او ارزانه منابعو څخه د استفادي کولو هلې ځلې پیل کړي. همدا شان د خپلو شخصي ګټو د تامین په موخه یې نوي اجناس په تجارت کې داخل او مشتریانو ته یې معرفی کړل ترڅو د اخیستونکو د معرفت جوړښت ته بدلون ورکړي او خپل مفاد تثبیت کړي.

د نفوسو زیاتوالی، ارزانه کاري ځواک ، انرژي او نویو اختراعاتو د دغه قشر لپاره زمینه مساعده کړه او د مفاد انګیزې پایله د دې سبب شوه چې هر متشبث د خپلو تولیداتو د پلور د بازار د پراختیا هڅې پیل کړي او د بهرنیو بازارونو د موندلو په موخه له نورو ممالکو سره اقتصادي او تجارتي روابط منځته راووړي.

۶. **اقتــصادي عقیـده:** اقتصـادي ذهـنیت، طـرز تفکر او عقـیده داسـې وه؛ چې د مــوثرو اقتــصادي اړیکــو په پراختــیا کــې واقــع شــول، ځــکه هغــه طــرز او تفــکر چې موجــود و، له آزاد اقتــصادي فعــالیت او تشبث څخه یې ملاتړ کاوه او عقیــده په دې وه؛ چـــې په اقتــصادي فعــالیتــونو کــې باید هېــڅ ډول مــداخــله ونه شـــي، بلکې د اقتــصادي فعــالیتــونو رهبـــري باید طب:یعي نظام ته وسپارل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې اقتصادي فعالیتونه د قیمت ، ربحي او شخصي نفع د میکانېزم له مخې ترسره کېږي، داسې عقیده موجوده وه؛ چې اقتصاد په خپله په تجارت کې د غوره کفایت او مولدیت لرونکی دی او یا هره منطقه په تولید کې تخصص موندلای شي چې د طبیعي او تخنیکي شرایطو له مخې تر ټولو ښه مولدیت منځته راوړي. نو د اشخاصو او ملتونو تر منځ تبادله د دې باعث ګرځي ترڅو ټول خلک د ژوند له غوره سطحې څخه برخمن شي.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي لنډيز:

د نړيوال تجارت د منځته راوړلو له علتونو څخه په لاندي توګه يادونه کولای شو.

سياسي، اجتماعي اړيکي، اقتصادي او فرهنګي روابط، هغه څه دي چې د ممالکو تر منځ د بين المللي اقتصاد او اقتصادي راوبطو د ايجاد د لامل په توګه تر مطالعي لاندي نيول کيږي.

په ورځنۍ نړۍ کې د هېوادونو تر منځ اقتصادي روابط يو حتمي او ضروري امر دی ځکه يو هېواد نشي کولای د نورو ممالکو له سياستونو څخه په مجزا توګه اقتصادي ژوند په ښه توګه په مخ يوسي.

هر هېواد مجبور دی چې له ټولو هيوادونو سره اقتصادي او تجارتي روابط ولري، او په ضمن کې يې اجناس او خدمتونه يو تر بله تبادله کړي او يا دا چې د ځمکي ، سرمايې او کار په څير د توليد عوامل له يوه اقتصاد څخه بل اقتصاد ته انتقال کړي.

لکه څنګه چې د توليد منابع په هر ځای کې په مساويانه توګه شتون نلري، بلکي د مختلف جنسيت او کيفيت له نظره دتوليد عوامل په مختلفو ممالکو کې شتون لري، له همدې کبله پکار ده چې هره سيمه په هغه توليد لاس پوري کړي چې په توليد کې يې ځانګړی تخصص لري تر څو د طبيعي او تخنيکي شرايطو له مخي تر ټولو غوره مولديت منځته راوړي او وروسته د هيوادونو تر منځ تبادله شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي پوښتني:

۱. متفاوت اقتصادي جوړښت څه شی دی شرحه یې کړئ؟
۲. په ملي اقتصاد کې د تولید د عواملو نومونه واخلئ؟
۳. په نړیوال اقتصاد کی د حمل او نقل څه اهمیت لري ، واضح یې کړئ؟
۴. په نړیوال اقتصاد کې د نفوسو زیاتوالی څه رول لري؟
۵. په نړیوال اقتصاد کی د قیمتي فلزاتو رول او نقش توضیح کړئ؟
۶. د سرمایه دارې او متشبثې طبقی د منځته راتلو په اړه معلومات ورکړئ؟
۷. د خارجي تجارت د منځته راتلو علتونه بیان کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د نړیوال اقتصادځانګړتیاوې

**ټولیزه موخه:**
د نړیوال اقتصاد د ځانګړنو پېژندل د دویم څپرکي ټولیزه موخه تشکیلوي.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي د زده کړې موخه د لاندې مسایلو په برخه کې د محصلینو د ظرفیت لوړول دي:

- د نړیوال اقتصاد مهمې ځانګړنې.
- د اقتصاد متفاوت سیستمونه.
- د هر هېواد په اقتصاد کې د تولید د عواملو تحرک.
- په خارجي تجارت کې د مختلفو هېوادونو د پولي واحدونو شتون او د هغو بیلګی.

د ځینو په اند د داخلي او نړیوال اقتصاد ترمنځ کوم مطلق توپیر نشته. د دوی په عقیده د نړۍ او دولتونو وېش یوازې سیاسي جنبه لري او که چېرې له سیاسي حدودو او موانعو څخه صرف نظر وشي نو په هغه ډول چې ملي اقتصاد مطالعه کوو، کولای شو نړیوال اقتصاد هم ترمطالعې لاندې ونیسو.

**د مثال په توګه:** د تولید تیوری چې د داخلي اقتصاد لپاره وضع کېږی، په ورته ډول کولای شي په نړیوال اقتصاد کې هم تطبیق شي او د نړیوال اقتصاد لپاره د کومې خارجي تیوري ایجاد ته اړتیا پیدا نشي.

خو زیات علماء خصوصاً ادم سمیت، ریکارډو، او یا د کلاسیکي تیورۍ علما په دې عقیده دي؛ چې په لاس کې شته شتمنی د دې سبب کېږۍ چې د نړیوال اقتصاد د اړیکو لپاره خاصې تیورۍ وضع شي. د دې لپاره چې د ممالکو ترمنځ د نړیوالو اقتصادي اړیکو لپاره ځانګړي تیوري وضع شي، هره یوه یې په لاندې توګه تشریح کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**متفاوت اقتصادي سیستمونه:**

په مختلفو هېوادونو کې مختلف اقتصادي سیستمونه شته.لکه څنګه چې په هېوادونو کې مختلف اقتصادي سیستمونه شتون لري نو په اړوندو ممالکو کې اقتصادي ذهنیتونه هم یو تر بله سره توپیر لري. مختلف اقتصادي سیستمونه د اقتصاد اساسي پوښتنو یانې څه شی دې تولید شي؟ څنګه دې تولید شي؟ او د چا لپاره دې تولید شي؟ ، مختلف ځوابونه وړاندې کوي او ټولنیز حقوقي نظامونه هم د اقتصادي سستمونو تابع دي، نو په دې اساس ټول شرکتونه چې په یوه اقتصادي سیستم کې فعالیت کوي، مجبور دي چې له دغو ځانګړو اقتصادي او حقوقي نظامونو څخه پیروي وکړي.

**د مختلفو اسعارو شتون**

هغه دویم دلیل چې د یوې تیورۍ په واسطه د نړیوال اقتصاد د روابطو مطالعه ((نه)) ایجابوي، د مختلفو اسعارو له شتون څخه عبارت دی. البته هر هېواد ځانته خپل پولي واحد لري، چې د هېواد په داخل کې په دوران یا چلند کې وي ، خو د خارجې تجارت او معاملاتو له پیل سره د نورو ممالکو پولي واحدونه په معاملاتو کې شاملېږي.

نه یوازې دا چې د مختلفو هېوادونو د پولي واحدونو د رانیولو قدرت یو تر بله متفاوت دی، بلکې پولي سیاستونه چې د ممالکو له لوري پیاده کېږي هم یو تر بله توپیر لري، همدا شان د تبادلې د نرخ د تعین موضوع او په ملي اقتصاد باندې د تبادلې د نرخ اغېزې هم په هر هېواد کې سره توپیر لري.

**د تولید د عواملو د تحرک درجه:**

هغه درېم دلیل چې د نړیوالو اقتصادي اړیکو د مطالعې په موخه یو هېواد د ځانګړې تیورۍ وضع کېدلو ته اړ باسي، د تولید د عواملو د تحرک له درجې څخه عبارت دی. معمولاً په یوه هېواد کې د تولید عوامل متحرک وي او په ازادانه توګه کولای شي د هېواد په داخل کې له یوه ځای څخه بل ځای ته ولېږدول شي، خو له یوه هېواد څخه بل هېواد ته د تولید د عواملو د لېږد پروسه په ازادانه توګه صورت نشي نیولای ، بلکې دغه موضوع د یو لړ سیاسي او حقوقي مسایلو تابع ده.

د مثال په توګه د کار عامل یانې کارګران په کور د ننه د خپل اقامت ځای یا محل تعینوي او یا له یوه ځای څخه بل ځای ته تغیر مکان کوي، په داسې حال کې چې له یوه هېواد نه بل هېواد ته د کار د عامل د لېږد په صورت کې د مهاجرت د قوانینو، وېزې درلودلو، د ځانګړې حرفې لپاره لازمه جوازنامه او داسې نورو اسنادو د شتون په توګه یو لړ موانع شتون لري چې د کار د عامل ازادانه حرکت محدودوي. همدا شان د مالي معاملاتو او د هېواد په داخل کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د سرمایې د انتقال په برخه کې کوم خنډ نشته، خو له یوه هېواد څخه بل هېواد ته د سرمایې لېږد او مالي معاملاتو په وړاندې هم یو شمېر محدودیتونه شته، ان په ځینو وختونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دغه ډول معامله په بشپړه توګه ممنوع وي.

کله چې د ممالکو ترمنځ د تولید عوامل ساکن یا غیر متحرک وي، تجارت د تولید د عواملو دغه عدم تحرک د اجناسو او خدمتونو په واسطه جبران کوي. خو د یادونې وړده چې په یوه هېواد کی د دغو اجناسو لېږد له کومې ستونزې سره نه مخ کېږي، خو له یوه هېواد څخه بل هېواد ته د هغوی لیږد د نړیوالو قوانینو، حقوقي او ټولنیزو نظامونو او اقتصادي سیستم تابع ده.

**معاملاتي عادات او رسوم:**

د ملي او نړیوال اقتصاد ترمنځ ستر توپیر د نړۍ د هېوادونو ترمنځ د مختلفو معاملاتي عاداتو او رسومو له توپیر څخه عبارت دی چې ضمناً د یوې ځانګړې تیورۍ لپاره څلورم علت یا دلیل تشکیلوي.

په دې اړه کولای شو د تادیاتو د معیار له تجارتي رسومو څخه یادونه وکړو.

**نا متجانس اقتصادي چاپېریال:** پنځم عامل د هېوادونو ترمنځ له نامتجانس اقتصادي چاپېریال او هغو انتفاعي واحدونو څخه عبارت دی چې د یوه هېواد په داخل کې قرار لري او په مالیاتي سستم مواجع دي، او د ترانسپورتي وسایلو، مخابراتو، اطلاعاتي وسایلو، معادن، بندرونو، لویو لارو، هوایې ډګرونو، برېښنا کوټونو، بانکونو او داسې نورو په څېر له ورته زیر بیناوو څخه استفاده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دویم څپرکي لنډیز:**

د نړیوال اقتصاد د ځانګړنو په اړه ځینی علماء په دې آند دي چې  د ملي اقتصاد او نړیوال اقتصاد تر منځ کوم دپام وړ توپیر نشته،بناً شوني ده چې د ملي اقتصاد تیوری په نړیوال اقتصاد کی هم تطبق شي.

که د دولتونو له سیاسي موانعو او حدودو څخه صرف نظر وشي ، نو په هغه ډول چې ملي اقتصاد مطالعه کېږي، نړیوال اقتصاد هم مطالعه کولای شو، د مثال په توګه د تولید تیوری هم په ملي او هم په نړیوال اقتصاد کې د تطبیق وړ ده .

د نړیوال اقتصاد مهمې ځانګړنې  له متفاوتو اقتصادي سیستمونو، د تولید د عواملو د تحرک له متمایزي درجې، په تجارت کې د مختلفو پولی واحدونو له شتون، له مختلفو معاملاتي عاداتو ، رسومو او نامتجانس اقتصادي چاپېریال او د زیربنا له ډولونو  څخه عبارت دي.

**د دویم څپرکي پوښتنې:**

۱. د بېلابېلو اقتصادي سیستمونو په برخه کې معلومات ورکړئ؟
۲. مختلف اسعار او په نړیوال اقتصاد کې د هغوی شتون شرحه کړئ؟
۳. د تولید د عواملو د تحرک درجه څه مفهوم پیاده کوي ، شرحه یې کړی؟
۴. د نامتجانس اقتصادي چاپېریال نومونه واخلئ؟
۵. د تجارتي عاداتو او رسومو په برخه کې معلومات ورکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## د نړیوال اقتصاد تاریخ او نظریاتو ته کتنه

**ټولیزه موخه**

په دې څپرکې کې د نړیوال اقتصاد تاریخ او نظریات مطالعه کېږي، د نړیوال تجارت د زیږون علتونه ، د افرادو، ټولنیزو موسساتو، ښارونو، ملتونو او کار د تخصص په برخه کې د معلوماتو درلودل د دې څپرکي ځانګړې موخې دي.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي د زده کړې موخې لاندې موضوعات تعقیبوي:

- دکار وېش وپېژني.
- داقتصاد په پراختیا باندې وپوهېږي.
- دنړیوال اقتصاد په اړیکو کې ننۍ ستونزې درک کړي.
- د عایداو د ژوند د سطحې په منځ کې توپیر درک کړای شي.

د دې څپرکې په اوږدو کی د کار وېش، په سوداګرۍ کې د تخصص، له محلي ډول څخه نړیوال ډول ته د تجارت د بدلېدلو او د هغه د پراختیا، په نړیوال تجارت کې د اړوند ورځنیو ستونزو ، د ژوند او عاید په سطحه کې د توپیر، د ګړندي معلوماتي او مواصلاتي انکشاف له کبله د احتکار د زیاتوالي، د انکشافي هېوادونو په وړاندې د مخالفتونو د ایجاد، د چاپېریال د ککړتیا له امله د نویو ناروغیو د منځته راتلو او اړوند ناخوښه پایلو په څېر دبهرنۍ سوداګرۍ مهم موضوعات تر مطالعی لاندې نیول کېږي چې په ورته ساحه کې د محصلینو د پوهې د سطحی په لوړې والي کې خورا مهم رول لوبوي.

د افرادو، موسساتو، ټولنو ، قبایلو،ښارونو او ملیتونو ترمنځ د سوداګریزو اړیکو د ایجاد او منځته راتګ علت د کار او تخصص له وېش څخه عبارت دي. محلي سوداګري هغه مهال نړیوال ډول ته پراختیا موندلی شي چې خپلواک او مطلق دولتونه تشکیل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه دولتونه باید د ټولنیز او حیاتي نظم ضامن وي. له دی حالت پرته په یوه بې نظمه چاپېریال کې ماهر افراد، او متخصیص کسان ددې په ځای چې خپل ځانګړي مهارتونه پکار واچوي، یوازې د خپلو اړتیاو په پوره کولو مجبورېږي، د دوی له مهارتونو څخه د استفادې کولو مناسب فرصت نه برابرېږي.

تر پنځلمسې پېړۍ مخکې په اروپا کې د مطلقه دولتونو له ایجاد سره د مرکانتلیزم دوره شروع شوه، په ورته زمان کې د یونان، هند، فارس او چین په څېر د نړۍ په ټولو سیمو کې مطلقه دولتونو شتون درلود او تر منځ یې تجارتي اړیکي موجودې وې.

د دغه هېواد په تاریخ او ادبیاتو کې د اجناسو د تبادلې زیاتې بیلګې تر لاسه کولای شو، همدا شان په اسیا او منځنې ختیځ کې سوداګریزې لارې په اروپا کې تر مرکانتلستي دورې هم اوږده سابقه لري. هغه څه چې د نن ورځې په مطالعاتو کې د دغو سیمو د شهرت خنډ ګرځیدلي دي، په دې دوره کې د کافي علمی څېړنو او مطالعاتو نه شتون دی. په دې سربېره د لېږد را لېږد د ستونزو له امله هم د ممالکوتر منځ سوداګري محدوده وه. د 16 امي پېړۍ له پیل بیا د 18 مې پېړۍ تر نیمايي پورې د سیاست او اقتصاد په برخه کې یوه انداز لیکنې وشوې چې په عمومي توګه خوري او پراګنده لیکنې وي، له هغه روسته هڅې پیل شوې تر څو دغه لیکنې تنظیم شي او هغوی ته د یوه اقتصادي دیوان په څېر د یوه منظم پرواګرام بڼه ورکړي.

لومړنۍ کس چې دغه ډول تیت او پرک نظریات، لیکنې او سیاستونه یې سره راټول کړل، ( د ملتونو د ثروت ) لیکونکی انګلیسي اقتصاد پوه آدم سیمت و. سره له دې چې په فرانسه کې د صنعت له پلوه، په انګلستان کې د سوداګرۍ له پلوه، او په جرمني کې د خزانې له پلوه ګروپونو په څېر د مختلفو اقشارو ترمنځ د نظریاتو ژور اختلاف شتون درلود، خو بالاخره په یوه مهم متحد نظر باندې سره سلا شول، چې د سوداګرۍ له مناسب بېلانس څخه عبارت دی.

**د نړیوال اقتصاد قیود او موضوع :**

څنګه چې نړیوال اقتصاد د ممالکو ترمنځ د روابطو له تدقیق سره سروکار لري، بناً دغه اقتصادي بحث د ممالکو ترمنځ د اجناسو، خدماتو او تادیاتو د انتقال جریان تر مطالعې لاندې نیسي او د دغه جریان سیاستونه د یوه مملکت پر وړاندې د بل مملکت د ګټو اعظمي کول تحلیل او تنظیم وي.

په ځانګړې توګه د نړیوال اقتصاد موضوع د تجارت له حقیقي نظریاتو، د تجارت له پولي نظریاتو، د اسعارو د تبادلې له بازارونو، د تادیاتو له بېلانس او تعادل یا انډول ته د تادیاتو د بېلانس له سوق کولو څخه تشکیل شوی ده. د تجارت حقیقي نظریات د تجارتي تبادلاتو د منفعت د اساس شننه کوي. د تجارتي سیاست یوه برخه د تجارتي محدودیتونو او قیوداتو د اثراتو له دلایلو یا علتونو څخه بحث کوي، د اسعارو د تبادلې بازارونه د یوه هېواد په پیسو باندې د نورو ممالکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیسو د تبادلی د ډول ښودنه کوي، د تادیاتو بېلانس د نړۍ دنورو ممالکو د درآمد پر وړاندې د یوه هېواد درآمد اندازه کوي، بلاخره د تادیاتو د بېلانس تعادل د اقتصادي رفاهیت او د نا انډولې د له منځه وړلو په موخه د تعادل له میکانیزم څخه بحث کوي. د نړیوالو اقتصادي روابطو په مرسته نشو کولای د اقتصادي نړۍ ټولې ورځنۍ ستونزې په یوه سر له منځه یوسو، ځکه په زیاتره مواردو کې لیدل کېږي چې زیاتره ستونزې سیاسي او کلتوري منشاء لري، خو په اقتصادي شکل تظاهر کوي، له همدې کبله موږ هغو ستونزو ته اشاره کوو، چې تر ډېره بریده اقتصادی بنه لري او په اقتصادي روابطو کې یو مناسب تغیر راوړل یې حل کولای شي.

۱. **د ژوند او عاید د سطحي توپیر:** د ملګرو ملتونو د احصایې له مخې د نړۍ 1/3 میلیارده نفوس په مطلق فقر کې ژوند کوي او نژدې 1/5 میلیارده وګړي د ژوند له لومړنیو روغتیایي اسانتیاو څخه محروم دي. د ملګرو ملتونو د انکشافی پرواګرمونو د مسؤلینو له قوله د نړۍ د نفوسو یو پر پنځه 5/1 برخه د نړۍ د عایداتو 5/4 امه برخه عاید په خپله ولکه کې لري، یانې د نړۍ د نفوسو 5/4 برخه یوازې د نړۍ د عاید 5/1 برخه عاید په خپل اختیار کې لري چې په اقتصادي او حقوقي لحاظ ستره بې عدالتي ګڼل کېږي. له تېرو دېرشو کلونو را پدېخوا ناداري او بېچارګي دوه چنده شوي ده، په زرو ماشومانو کې له 67 څخه زیات ماشومان په هغو کو رنیو کې زېږي چې دورځې تر یوه ډالر هم کم عاید لري.

د شتمنو هېوادونو له لورى له غریبو ټولو سره د اقتصادي مرستو او مساعدت کچه هم مخ په نزول ده ، په دې مانا چې په 1992 ام کال کې د ورته مرستو حجم 61 میلیارده ډالر، خو په 1993 ام کال کې 54 میلیارده ډالرو ته ښکته شوه او غریب یا ناداره هېوادونه نژدی د 2000 میلیارده ډالرو په اندازه قرضداره شوی دي. له دغې موضوع سره په تړاو لاندې سوالونه مطرح کېږي:

ولې دپرمختللیو هېوادونو سړي سر عاید دمخ پرودې هېوادنو په پرتله په ګړندۍتوګه زیاتېږي؟

ولې د روستــه پاته هیوادونو د صــادراتو رشـــد یا وده مخ په تقلـــــیل او د وارداتو وده یې مخ په زیاتیدو ده؟

ولې اقتصادي پراختییایي مرستو په اخرو 40 کلونو کې د فقر او غریبۍ اندازه کمه نه کړه؟

څنګه د ګڼ میلتیزو شرکتونو یا Molti National Companies ,MNCs له تکنالوژۍ څخه یوازې په اړوند هېوادونو کې ګټه اخیستل کېږي؟

ولې پرمخ په ودې نړۍ کې د عوایدو په پرتله د نفوس زیاتوالی ګړندی پرمخ درومي؟

د پورتنیو پوښتنو ځوابونه هغه مهال په ښه توګه درک کېدی شي؛ چې د نړیوال اقتصاد بنسټونه په غوره توګه درک شي.

۲. **د انکشافي مرستو پر وړاندی د مخالفتونو ایجادول:** پرمختللي هېوادونه له نیمې پېړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

را هسې مخ پروديې نړۍ ته د مرستې په نامه قرضې او پورونه ورکوي ، خومخ پر ودې هېوادونه تر ډېره وخته د هغوی د قرضوي مسؤليتونو د مجددې اعادي په درک باندی قادر نه وو او د صادراتي درآمد يوه زياته برخه يې په دغه لار مصرف کېږي. حتی د مکسيکو په څېر يو د منځني عايد لرونکی هېواد هم په 1995 ام کال کی له ژور پولي او مالي بحران سره لاس او ګرېوان شو ، د خپلو منافعو د تضمين په موخه د پرمختلليو هېوادونو عاجلې مرستې 55 ملیارده ډالرو ته رسېږي او له دې جملې څخه 20 يې د امريکا له لورې ژمنه شوی دي، ځکه خو بايد وپوهېږو چې د ورته کمکونو د ناکامۍ علت څه شی دی؟ ايا دا ډول مرستی د کوم هېواد لپاره ګټوری ثابتی شوي دي؟ د ورته مرستو لپاره د پرمختلليو هېوادونو دليل څه شی دی؟ ايا له دا ډول مرستو پرته کومه بله لاره شته؟ ايا د نړۍ اقتصادي ميکانيزم داسې تيار شوي چې دغه مرستې دې د کومک اخيستونکي په ګټه تمامې نشي؟

د ورته پوښتنو ځوابونه بايد د نړيوال اقتصاد له لورې د تجارت د ساختمان او توليد د عواملو د انتقال د ارزيابي د مفهوم په مرسته وړاندې شي.

۳. **د معلوماتي او مواصلاتی وسايلو د انکشاف له امله د احتکار زياتوالی:** د مخابراتو او مواصلاتو په برخه کې مهم اختراعات خصوصاً تلفون، تلګرام، فکس، راديو تلويزيون، کمپيوتر، انټرنېټ او داسې نورو نشراتي او مواصلاتي وسايلو ته لاس رسې د نړۍ پراختيا په ځان کې را ونغښتله او معلومات له تصور نه په لوړه کچه د نړۍ له يوه ګوټ څخه بل ګوټ ته رسېدی شې. د معلوماتو دغه ګړندی لېږد را لېږد د اسعارو د بازار، پولې بازارونو او داسې نورو په برخه کې يو لړ ستونزې ايجاد کړې چې يوه بېلګه يې له احتکار څخه عبارت ده. نن ورځ د تجارت او سرمايه ګذاری زياتره معلومات د اشخاصو او شرکتونو په واسطه د نړيوال تجارت د اصولو او مقرراتو خلاف احتکاري بڼه لري ، چې د سرمايه ګذارۍ دنړيوال بازار ستڼې يې ځانته ور اړولي دي.

۴. **د چاپېريال ککړتيا:** د ګړندۍ اقتصادي ودې له کبله يوه بله ستونزه هم زېږېدلې او هغه دا چې د نړۍ چاپېريال ککړ شوی او د بشر هوسا او طبيعي ژوند يې له ګواښ سره مخ کړی. د ځنګلونو پرېکول، په صحراګانو باندې د حاصلخېزه سيمو بدلېدل، د جهيلونو وچېدل، د حيواناتو او نباتاتو د نسل لېږوالی يا بېخي له منځه تلل او داسې نور ټول هغه عوامل دي چې نړيوال اقتصاد نړۍ ته ډالۍ کړي دي.

۵. **د نويو ناروغيو ظهور:** د نويو ناروغيو ظهور، د ميکروبونو زياتوالی، او نا پېژندل شوي وايروسونه هغه بله ستونزه ده، چې د چاپېريال له ککړتيا سره په تړاو د بحث وړ موضوع ده، چې د نويو ناروغيو له خورېدلو، د ميکروبونو له تکثر او ناپېژندل شويو وايروسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه عبارت دي. البته مخ پر زیاتېدونکي نړیوالې اړیکي، خاصتاً د ټولو هېوادنو د زیاتو خلکو مسافرتونه او تماسونه د ورته امراضو د خورېدلو لامل ګرځېدلي دي.

۶. **د نويو دولتونو پيدايښت:** که څه هم ازاده سوداګري او د تکنالوژي کړندی پرمختګ د اقتصادونو د پیوند او انضمام او نړیوالو اقتصادي اړیکو د تامین لامل ګرځېدلي، خو د هېوادونو د سیاسي یووالي پیوند په مخالف لوري حرکت کوي. څنګه چې د روستۍ پېړۍ په تېرو پنځو کلونو کې په نړۍ کې 20 نوي هېوادونه تشکیل شول، که څه هم د دغو نويو دولتونو زیات شمېر د شوروي اتحاد له ړنګېدلو یا اضمحلال څخه منځته راغلي، خو بیا هم د نړۍ په هر ګوټ کې د نويو دولتونو د ایجاد لپاره تمایلات لیدل کېږي. د دغو سیاسي تجزیه طلبېو اساسي علت د نړۍ له اقتصاد سره د زیاتو هېوادنو له انضمام او له دغه انضمام څخه د منځته راغلیو تسهیلاتو د تر لاسه کولو له غریزې څخه عبارت دي. په پخوا وختونو کې د نړۍ اقتصادي اړیکو دا ډول تړاو نه درلود، د دولتونو اومناطقو تړاو دا آسانتیا را منځته کړه چې هېوادونو او سیمو له عامه خدمتونو څخه د اړتیا وړ استفادې په موخه یو د بل په څنګ کې ودرېږي، د نړیوال اقتصاد او دیموکراتیکو ارزښتونو د تامین له کبله چې په ترڅ کې یې تصامیم د رایو د اکثریت په اساس تر سره کېږي، دا امکانات را منځته کړل، چې د دولتونو اقتصادي پرېکړې د کوم ځانګړي اقلیت په ګټه نه وي. البته د ا ډول سیاسي تجزیه طلبي د داخلي او منطقوي جګړو او تاوتریخوالي د زیاتوالي لامل شوي، او دا ډول جګړې د نړیوال اقتصاد انکشافي تدابیر او اقدامات له خنډ سره مخ کوي. دغه نوې پدیده ( استقلال ته د نوېو هېوادنو د رسېدلو زیاتوالی) د نړیوال اقتصاد په اړیکو کې یو نوې فصل ایجاد کړ، ځکه استقلال ته نوي رسېدلي او کوچني دولتونه نه یوازې دا چې لېږ انکشافي وسایل په واک کې لري، بلکې په وخت کې د هغوی نسبي یا طبیعي مزیت هم په نړیوال اقتصاد، خاصتاً په نړیوال تجارت کې محدود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د درېیم څپرکي دمطالبو لنډیز:**

د افرادو، ټولینزو موسساتو، ښارونو او ملتونو ترمنځ د نړیوالو تجارتي اړیکو د پیدا کېدلو اساسي علت د کار او تخصص له وېش څخه عبارت دی، محلي او ښاري سوداګري هغه مهال په نړیوال تجارت بدله شوه چې مستقل او مطلقه هېوادونه تشکیل شول. دولتونه باید د ټولنیزو او حیاتي امورو د نظم او ارامۍ ضمانت یا مسؤلیت پر غاړه ولري.

له هغه څه پرته په یوه بې نظمه چاپېریال کی د مهارتونو تعینول ناشوني برېښي او ماهر او متخصص کسان د دې په ځای چې د ټولنیزی رفاه په موخه له خپل مهارت څخه کار واخلي ، یوازی د خپلو اړتیاؤ په پوره کېدلو باندې مجبورېږي او د دوی له استعداد او مهارت څخه دګټې اخستلو لپاره کافی وخت نه پاتې کېږي. د یادونې وړ ده چې ددې څپرکې محتوا د میرکانتلیستي مکتب د نظریاتو، د هغوی د بنسټ ایښودلو، نادارہ هېوادونو ته د مرستو د لړوالي، په بې وزله هیوادونو کې د نفوسو د زیاتوالي او پرمخ په ودې هېوادونو کې د عاید د کموالي په څېر له یو لړ جالبو عناوینو څخه تشکیل شوی دی. یو بل ټکی چې په دې ځای کې د پام وړدي، د مرکانتیلیستي مکتب له هدف څخه عبارت دی چې د وا رداتو په پرتله د صادراتو زیاتوالی د زیاتوالي له رجحان او د هغوی د توپیر په مقابل کې هېواد ته د قیمتي فلزاتو له واردولو څخه عبارت دی چې په دې توګه د ولتونه کولای شي اقتصادي ځواک ترلاسه کړي .

## د درېیم څپرکې پوښتنې:

۱. د نړیوال اقتصاد د قیوداتو په برخه کې مفصل معلومات ورکړئ؟
۲. د نړیوال اقتصاد د ورځنیو ستونزو نومونه واخلئ؟
۳. د ژوند د سطحې او عاید تر منځ د توپیر زیاتوالی د مثال په واسطه واضح کړئ؟
۴. د انکشافي مرستو په مقابل کې کوم مخالفتونه صورت نیسي، نومونه یې واخلئ؟
۵. هغه معلومات چې د احتکار په اړه یې لرئ ولیکئ؟
۶. د هستوګنئ د ورځني چاپېریال ستونزې کومې دي نومونه یې واخلئ؟
۷. د نویو د ولتونو ایجاد او تاسیس د نړیوال اقتصاد په سطحه کومې ستونزې زېږولي دي ، نومونه یې واخلئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## د خارجي تجارت کلاسيکي نظريات

**ټوليزه موخه**
ددې څپرکې اصلي موخه د سوداګرۍ په هکله په بشپړه توګه د کلاسيکي علماؤ د نظرياتو له مطالعې څخه عبارت دي.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکی په پای کې به محصلين وکړای شي چې:

- د اقتصاد د پلار نظريه وپېژني.
- د ريکاردو نظريه وپېژني.
- د هکشر نظريه وپېژني.
- د کار د وېش او تخصص په هکله لمړنۍ نظريه وپېژني.

په دې څپرکي کې به د کلاسيکو نظرياتو مطابق لولوچې د باندنۍ سوداګرۍ علتونو او منافع څه شي و او په څه ډول د هېوادونو ترمنځ د تجارت منافع وېشل کېږي.
آدم سمت هڅه وکړه او ويې ښودله چې ، که دوه هيوا دونه په خپلواکه توګه په خپل منځ کې سره سوداګري کوي، پکار ده چې دواړه دولتونه له دغې سوداګرۍ څخه فايده مند شي ، ځکه که چېرته يو يې له دې سوداګرۍ څخه متضرر شي، ممکن په راتلونکي کې ورته تجارت ته دوام ورنه کړي. ترځنګ يې نوموړي غوښتل وښيي؛ چې په تجارت کې د غه منافع له کومه ځايه سرچينه اخلي، د نوموړي نظريات په لاندې ډول مطالعه کېږي:

۱. **د مطلق مزيت نظريه:** آدم سميت عقيده درلوده؛ چې د دوو هېوادونو ترمنځ سوداګري چې د کار د وېش او تخصص په اساس منځته راغلې ده، د معاملې د دواړو لوريو لپاره ګټوره ده، په بل عبارت هغه څرګندوي چې که چېرته يو هېواد د بل هېواد په پرتله د يوه جنس د توليد په برخه کې زياته وړتيا ولري، خو د بل جنس د توليد په برخه کې تر هماغه هېواد لږه وړ تيا ولري، نو په دې صورت کې هغه مهال دواړه هېوادونه فايده

(c) ketabton.com: The Digital Library

مند کېدای شي چې د هغه جنس تولید ته ادامه ورکړي، چې  دوی  یې په تولید کې د
هغه بل په پرتله زیاته وړتیا ولري او  دغه دواړه اجناس یو تربله تبادله کړي.

دغه موضوع د آدم سمیت د مطلق مزیت د نظریې اساس تشکیلوي. ځکه په دې صورت کې له منابعو څخه په غوره توګه استفاده کیدای شي او د دواړو جنسونو د تولید مقدار زیاتیدی شي. د دواړو جنسونو د تولید زیاتوالی د هېوادونو ترمنځ د کار او تخصص له وېش څخه منځته راغلې دی او په پایله کې یې دواړه هېوادونه له سوداګرۍ څخه سودمند کیدای شي.

د مثال په توګه د اقلیمي شرایطو له مخې افغانستان د انګورو د تولید په برخه کې تر هندوستان زیاته وړتیا  یا مطلق مزیت لري او د ورته شرایطو له امله هندوستان د چایو د تولید په برخه کې تر افغانستان زیاته وړتیا لري، نو په دې اساس افغانستان کولای شي انګور تولید کاندي او یوه برخه یې هندوستنان ته صادر کړي او په بدل کې یې له هندوستان څخه چای وارد کړي او ورته تجارت ته چې دواړه لوري  ورڅخه سودمند کیدای شي ، ادامه ورکړي.

( البته د تجارت د ورته سیاست په برخه کی یو لړ محدود  استثنات شتون لري چې د ملي د فاع د صنایعو او نویو صنایعو له حمایې څخه عبارت دي.) د مطلق مزیت نظریه په یو لړ فرضیو باندي متکي ده، مثال یې  د دوو هېوادونو او دوو جنسونو د رابطې په اساس مطرح کېږي چې د غوره وضاحت په موخه یې لاندې جدول مطالعه کوو.

**د مطلق مزیت د پرنسیب عددي مثال:**

| جنس | ایران | افغانستان | د دوو جنسونو د تولیداتو مجموعه |
|---|---|---|---|
| غنم | ۱۵۰ کیلوګرام | ۱۰۰ کیلوګرام | ۲۵۰ کیلوګرام |
| تکه | ۱۰۰متر | ۱۵۰ متر | ۲۵۰ متر |

۱. لکه په پورتني جدول کې چې لیدل کېږي، فرض کوو چې په ایران کې  د یوې ورځې کار په واسطه یو سلو پنځوس کیلوګرامه غنم او یا سل متر تکه ، او په افغانستان کې د یوې ورځې کار په واسطه سل کیلوګرامه غنم او  یا یو سلو پنځوس متره تکه تولید کېدای شي نو په دې توګه ایران د غنمو د تولید او افغانستان د تکې د تولید په برخه کی مطلق مزیت لري، چې هر یو یې د خپل مطلق مزیت په برخه کې تخصص لري  او په کوم جنس کې چې مطلق مزیت نه لري  په خپله یې نه تولیدوي بلکې د تجارت له لارې یې ترلاسه کوي. اوس نو که داسی فرض شي چې ایران هېڅ تکه تولید نه کړي  او ټوله کاري ورځ یوازې د غنمو تولیدته ځانګړي کړي، نو کولای شي په ورځ کې 300 کیلوګرامه غنم تولید کړي. همدا رنګه که افغانسان غنم تولید نه کړي او  ټوله کاري ورځ یوازې د تکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولید لپاره ګوښی کړي، نو کولای شي په یوه ورځ کې 300 متره تکه تولید کړي. په دې صورت کې د پورتني مثال له مخې د غنمو او تکې په تولید کې پېنځوس کیلواګرامه غنم او پینځوس متره تکه زیاته شوې ده.

۲. د نسبي مزیت پرنسیب یا تمام شد مقایسوي نسبت: که سوال وشي؛ چې که یو هېواد په هېڅ ډګر کې تولیدي مزیت ونه لري نوکوم کار دې تر سره شي؟د دې سوال د ځوابولو په موخه د ډیویډ ریکاردو نظریات مطالعه کوو؛ دغه نظریه د هغه کار په ارزښت باندی متکي ده، چې د یوه جنس په تولید کې مصرف شوی وي او د همدغه معیار له مخې د شیانوارزښت تعینېږي یانې د هغو اجناسو ارزښت یو تر بله مساوي دی چې ورته مقدار کاراو فعالیت په پآیله کې منځته راغلی وي. د ریکارډو د عقیدې له مخې که چېرته یو هېواد د بل هېواد په پرتله د هېڅ جنس په تولید کې کافي مزیت ونه لري، بیا هم تجارت او تخصص د دواړو هېوادونو په ګټه تمامېږي. په دې توګه یو هېواد ته پکار دی، چې د یوه جنس د تولید په برخه کې تخصص ترلاسه کړي چې نسبتاً زیات نسبې مزیت پکې لري.

په انګلستان کی د یو ګیلن زیتون غوړیو د تولید لپاره 120 ساعته کار ته اړتیا ده او د یو متر تکې د تولید لپاره 100 ساعته کار ته اړتیا لیدل کېږي، په داسې حال کې چې په پرتګال کې د دواړو تولیداتو لپاره په ترتیب سره 80 او 90 ساعته کار ته اړتیا شته.

لیدل کېږي چې پرتګال د انګلستان په پرتله د دواړو شیانو په تولید کې لوړ نسبي مزیت لري، خو په پرتله یزه توګه یې د زیتون غوړیو د تولید مزیت نسبت تکې ته زیات دی.

لیدل کېږي چې پرتګال په دواړه ډوله تولید کې د انګلستان په پرتله مطلق مزیت لري، خو د تکې په پرتله یې د غوړیو په تولید کې نسبي مزیت زیات دی. ځکه له تجارت څخه پرته او د ځان بسنې په حالت کې په پرتګال کې یو ګیلن زیتون غوړي 0/88 متره تکه مصرف لري، خو په انګلستان کې د یو ګیلن زیتون غوړیو مصرف 1/2متره تکه ده. په دې صورت کې لیدل کیږې چې په مقایسوي توګه په انګلستان کې تکه ارزانه تولیدېږي.

نو په دې اساس که چیرته دغه دوه هېوادونه یو تر بله سوداګري وکړي، نو دواړو هیوادونو ته ګټوره تمامېږي. ځکه د 1/2متره تکې له صادارتو سره انګلستان 2/1 ګیلنه غوړي تر لاسه کوي. البته د خودکفایې یا ځان بسنې په صورت کې د ورته مقدار تکې په مقابل کې یې یو ګیلن غوړي تولیدولای شو. همدا شان پرتګال د یو ګیلن غوړیو په مقابل کې یو متر تکه تر لاسه کړه، خو د خود کفایې په صورت کی یې د یو ګیلن زیتون غوړیو په مقابل کې یوازې ( 0/88 ) متره تکه تر لاسه کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د نسبي مزيت قانون:**

**د نسبي مزيت له قانون سره په ټراو يوه استثناء شتون لري.**

كه چيرته د دوو اجناسو د توليد په برخه كې د يوه هېواد مطلق مزيت د بل هېواد له مطلق مزيت سره مساوي وي، مثلا كه چېرته امريكا او انګلستان د يوه ساعت كار په واسطه د6 كيلوګرامه غنمو او څلور متره تكې د توليد وړتيا ولري، له دغه ډول توليد څخه كوم مفاد نه تر لاسه كېږي. البته دليل يې څرګند دی، ځكه امريكا له انګلستان سره هغه مهال تجارت ته زړه ښه كوي، چې د 6 كيلوګرامه غنمو په مقابل كې تر څلور متره زياته تكه ترلاسه كړای شي او يا انګلستان د څلور متره تكې په مقابل كې تر شپږكيلو ګرامه زيات غنم تر لاسه كړای شي.

خو څنګه چې ليدل كيږي دواړه لوري د ورته مقدار كار په واسطه 6 كيلوګرامه غنم يا څلور متره تكه په كور دننه توليدولای شي ، نو دغه ډول معامله او مبادله د هېڅ هېواد ته ګټه نشي ور په برخه كولای. دغه استثنايي حالت د نسبي مزيت د قانون اعتبارنه شی راښكته كولای

۳. د نسبي مزيت د نيوكو يا انتقاداتو تحليلی نظريه

**الف – د څو جنسونو په حالت كې نسبي مزيت:** د دغې قضيې د صراحت په موخه د دوو اجناسو د عرضې مثال را وړو: چې د افغانستان او ايران تر منځ تبادله كېږي، په داسې ډول چې دوه افغانۍ له يوه ايراني ريال سره معادل دي.

د تبادلې د نرخ د ورته والي په صورت كې د دوو هېوادونو ترمنځ د څو اجناسو د تبادلې مقايسوي جدول .

| اجناس | په افغانستان كې د اجناسو قيمت په افغاني پولي واحد باندې | په ايران كې د اجناسو قيمت په ايراني پولی واحد باندې | په ايران كې د اجناسو قيمت په افغاني پولي واحد باندې | په ايران كې د اجناسو قيمت په هغه صورت كې چې يو ايراني له يوې افغانۍ سره معادل وي |
|---|---|---|---|---|
| الف | ۲ | ۶ | ۱۲ | ۶ |
| ب | ۴ | ۴ | ۸ | ۴ |
| ج | ۶ | ۳ | ۶ | ۳ |
| د | ۸ | ۲ | ۴ | ۲ |
| ج | ۱۰ | ۱ | ۲ | ۱ |

د پورتني جدول له مقايسې څخه ويلای شو، چې په افغانستان كې د الف او ب، اجناسو قيمتونه د ايران په پرتله لېږ دي ، خو د ج ، جنس قيمت په دواړو هېوادونو كې سره يو شان دي. خو په افغانيو سره د د، او ج ، جنس قيمتونه دا فغانستان په پرتله په ايران كې لږدي. له همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کبله افغانستا ن کولای شي ، الف او ب، اجناس صادر کړي. ج ، جنس د تجارت په مورد کې ځای نه نیسي ، ځکه د ج ، جنس قیمت په دواړو هېواد ونو کې سره یو شان دی . همدا شان ایران کولای شي د ، او ج ، اجناس افغانستان ته صادر کړی، ځکه په افغانیو سره د هغوی قیمتونه په ایران کې تر افغانستان ټیټ دي.

که چېرته د یو لړ عواملو له کبله یو ایرانۍ ریال له یوې افغانۍ سره برابر شي ، نو په پورتني جدول کې د مندرج اجناسو قیمتونه چې په ایران کې تولیدیږي او په افغانیو سره د جدول په اخري ستون کې ځای نیسي ممکن دا ډول وي. لکه څنګه چې لیدل کېږي، د تبادلې په دغه نرخ سره (ب) جنس د تجارت په مورد کې ځای نه نیسي او افغانستان یوازې (الف) جنس صادرولای شي. ځکه په ایران کې د هغه جنس قیمت نظر د هغه داخلي قیمت ته لېږ دی. د تبادلې په دغه نرخ کې ایران کولای شي افغانستان ته (ج)(د)(ح) اجناس صادر کړي. البته واقعې نرخ هغه وخت منځته راځي، چې د تجارت یعنې صادراتو او وارداتو مقدار یا حجم د ممالکو ترمنځ تعادل پیدا کړي، چې دغه نرخ د تبادلې د تعادلي نرخ په نامه هم یادېږي.

کله چې دا ډول تعادلي نرخ را منځته شي ، نو پوهېدلای شو چې افغانستان ایران ته کوم اجناس صادر او له ایران څخه کوم اجناس وارد کړي.

**ب: د ترانسپورټ د مصارفو له رعایت سره نسبي مزیت:**

د کلاسیکو علماؤ له نظره په نسبي مزیت کې د ټرانسپورت مصارف مد نظر نه دي نیول شوي، یوازې د اجناسو په تولید کې د کار د ارزښت د نظرېې په اساس د ممالکو مزیت د تجارت او نړیوال رفاهیت اصلي علت ګڼل کېږي. خو موږ، لکه څنګه چې پوهېږو، چې د ټرانسپورت مصارف د مصارفو مهم جز دی او تر ډېره ځایه د تجارت مانع ګرځي، د مثال په توګه د پخو خښتو تمام شد قیت ممکن په افغانستان کې تر پاکستان او هند کم وي. خو د خښتو د وزن زیاتوالی د هغوی د صادراتو یا تجارت مانع ګرزي. نو ویلای شو چې د ترانسپورت مصارف نه یوازې د تولید مقدار بلکې په واردوونکي هیواد کې دعرضې او تقاضا مقدار ته هم بدلون و رکوي او هم په صادروونکي هېواد کې دغې مشخصې ته تغیر ورکوي.په صادروونکي هېواد کې د خارجې تقاضا د کموالي له اثره د قیمتونو لېږوالی د داخلي مصارفو د زیاتوالي لامل ګرزي، په داسې حال کې چې په واردوونکي هېواد کې د ټرانسپورټ د مصارفو د زیاتوالي له کبله د قیمتونو لوړوالی د هغه جنس د داخلي تولید عرضه زیاتوي.

په دې توګه پوهېږو چې د ترانسپورټ لګښت په نړیوال بازار کې قمیتونه اغېزمنوي او له امله یې تجارت کمېږي. که څه هم معقوله معلومېږي چې قیمتي او بې وزنه اجناس د وزن داره ، ارزانه اجناسو په پرتله د لږ مصرف لرونکي دي ، خو څنګه چې په نړیوال بازار کې تمام شد لګښتونه یو ځای حسابېږي او نشي کیدلای، کوم خاص جنس د ټرانسپورټ په لوړو لګښتونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

حساب کړي او نور اجناس قطعاً انتقال ونه لري.

د دې لپاره چې له انتقالاتي یا لېږدیدونکو توکیو څخه غوره ګټه واخیستل شي، د حجم داره ، بې قیمته اجناسو د ټرانسپورټ مصرف لږ حسابېږي او په دې توګه له ټول ټرانسپورټي سیستم څخه غوره استفاده کېږي. د انتقالاتي خدماتو د سیستم دغه خاصیت د دې سبب کېږي، چې په نړیوال تجارت کې زیات اجناس شامل کړي. د ټرانسپورټ مصارف نه یوازې دا چې د نړیوال تجارت مقدار جوړوي، بلکې د صنایعو د تاسیس محل یا موقعت هم تعینوي. په دې اساس کولای شو د ترانسپورت له مصرف سره په تړاو د اجناسو درې ګروپونه و پېژنو.

۱. هغه اجناس چې د کورنۍ له عادې استهلاک سره تړاو لري، صنایع یې د خامو موادو د پیدایښت محل ته نژدې تاسیس کېږي.

۲. هغه اجناس چې له بازار سره تړاو لري او د تولید په جریان کې اضافې وزن هم ورکول کېږي، بازار ته نژدې تاسیس کېږي.

۳. دریېم ګروپ هغه اجناس دي چې د ترانسپورت مصارف یې د مصارفو په مجموعه کې مهم نقش نه لري.

**ج: د تولید د عواملو عدم تجانس یا نا ورته والی:**

د کلاسیکو علماؤ د نسبي مزیت په فرضیه کې فرض شوی وه، چې (د تولید د یوازنی عامل په توګه کار) په ټولو ممالکو کې سره ورته یا متجانس دی. دغه فرضیه نه خو د کار او نه د نورو ټولو عواملو په برخه کې صدق کوي. د مثال په توګه د اداري کار، ماهرکار، غیر ماهر کار، فني کار، مسلکي کار او داسې نورو ډولونو د کار په بازار کې د غیر رقابتې خاصیت تر لاسه کړی دی، نوپه دې توګه دکار بازار په یوه غیر کامل بازار باندې بدلېږي.

همدا شان د ځمکې او یا غیر رقابتي جنسیت د نورو عواملو په برخه کې چې بازار یې غیر رقابتي کړی دی، کولای شو تر لاسه کړو. د مثال په توګه ځمکه چې د حاصل ورکولو له مخې په څو درجو باندې ډلبندي کولای شو. څنګه چې ریکارډو پخپله دا عامل داسې محاسبه کړی و، چې ځمکه د ځمکې د اجارې د توپیر له مخې یو له بل سره جلا کېږي او په حاصلخیزه او بې حاصله ځمکو باندې ویشل کېږي. ځکه اقلیم د کرنیز تولید په حاصلخیزۍ او تنوع باندې تاثیر لري او د ځینې اجناسو په برخه کې د ځینې هېوادونو د مطلق او نسبي مزیت ښودنه کوي. په دې توګه لیدل کېږي، نه یوازې دا چې د تولید ټول عوامل متجانس نه دي، بلکې قیمتونه یې هم سره مساوي نه دي او د غیر رقابتي ګروپونو تر عواملو لاندې مطالعه کېږي.

**د: د عواملو تحرک او انتقال:**

په نړیوال اقتصاد کې له تحرک څخه مراد مهاجرتونه دي. یادونه کېږي چې نن ورځ د سیاسي او اقتصادي مهاجرتونو له کبله د کار عواملو د یوه مملکت له حدودو څخه عبور کړی دی. همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان د اروپا ګډ بازار، ګمرکي اتحاديو او داسې نورو اقتصادي ګروپونو هېوادونو ترمنځ د عواملو تحرک ته لاره هواره کړي ده. د سرمايې په برخه کې په نړيوالو مرستو سربېره د ګڼ ملتيزه شرکتونو د شبکو او شعبو پراختيا د يادونې وړ ده چې د ترمنځ سرمايې د تحرک سبب شوی دي. پوهيږو چې د اجناسو تجارت د دوو سيمو تر منځ د هغوی د قيمت د توپير په اساس ترسره کېږي او څنګه چې د قيمتونو توپير په يوه سيمه کې د توليد د مصرف له توپير څخه سرچينه اخلي، نو پوهېږو چې د هېوادونو تر منځ قيمتونه متفاوت دي. په ځينې سيمو کې د قيمت د توپير علت د توليد د اړوند عواملو د کميابۍ د مقدار له درجې سره تړاو لري.

زيات يا وافر عوامل (زياته عرضه) لږ قيمت لري او هر جنس چې د دغه عامل په مټه توليدېږي، لږ مصرف لري او د بازار قيمت يې لږ وي. په دې توګه د عرضې او تقاضا د قانون له مخې کولای شو د عواملو د قيمت اختلاف تشريح کړو.

څنګه چې د اجناسو تجارت او د عواملو انتقال د يو ډول ځانګړتياو لرونکی دی، د حيرانتيا خبره نه ده چې د عواملو د انتقال اثرات په نړيواله ساحه کې عيناً د اجناسو د تجارت غوندې وي. په نړيواله ساحه کې چې د اجناسو د تجارت او عواملو د تحرک او انتقال ترمنځ يوازنی توپير دا دی چې دغه دوه يو د بل کامل عوضې نه دي، ځکه د ځمکې په څېر د توليد ټول عوامل د تحرک وړ نه دي، يوازې حاصل يې انتقالېږي. له همدې کبله په نړيواله ساحه کې د عواملو د اثراتو لاره او د اجناسو تجارت سره ورته دي، خو بيا هم په بشپړه توګه يو د بل عوض کېدلای شي. په دې توګه ويلای شو؛ چې دغه دوه يو د بل عوض نه دي، خو يو د بل مکمل کېدونکي دي.

**نوټ :- د نسبي مزيت د نظريې د انتقاداتو د تحليل تر عنوان لاندې په پورتنيو مسايلو سربيره يو لړ نور ټکي هم د يادولو وړ دي چې د درسي پروګرام په اوږدو کې به ور څخه يادونه وشي**

د څو هېوادونو له مدنظر نيولو سره نسبي مزيت

د پيسو له مد نظر نيولو سره نسبي مزيت

د کار د ارزښت د نظريې له رعايت سره نسبې مزيت او فرصتي مصارف

د نسبي مزيت د قانون نور فرضيات

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څلورم څپرکي لنډيز:

په دې څپرکي کې تاسو د کلاسيکو علماؤ نظريات مطالعه کړل چې د خارجي تجارت علتونه يا منافع يې تشريح کول او د هېوادونو ترمنځ د نړيوال تجارت د ګټو د وېشلو په برخه کې يې معلومات وړاندې کول.

د آدم سميت، ريکارډو او هکشراولين په څېر يو شمېر کلاسيکو علماؤ هڅه کړېده، ترڅو روښآنه کړي چې :

کله چې دوه هېوادونه پخپل آندې توګه يو تر بله تجارت کوي، له دغه تجارت څخه دواړه هېوادونه ګټه پورته کوي، که چېرته يو يې هم متضرر شي، ممکن تجارت ته ادامه ورنه کړي.

په ورته وخت کې علماؤ هڅه کړې ده تر څو واضح کړي، چې د خارجي تجارت په برخه کې دغه منافع له کوم ځای څخه سرچېښه اخلي او د هغوی نظريات د مطلق مزيت، د مطلق مزيت د عددي پرينسيب او نسبي مزيت د قانون په څېر په داسې نورو نظريو باندې استوار دی.

د آدم سميت د مطلق مزيت نظريه ښيي چې د دوه هېوادونو ترمنځ د تجارت معامله د دواړو ترمنځ په نفع باندې بنا شوی ده. د نسبي مزيت پرينسيب دا دی، چې که يو هېواد په هېڅ برخه کې نسبي مزيت و نه لري، بايد څه وکړي، چې په مفصله توګه تشريح شوی ده. په دې ځای کې د نسبي مزيت د قانون له يوې استثنا څخه هم يادونه شوی ده، هغه دا چې که چيرته دوه هېوادونه د دوو اجناسو په توليد کې سره ورته وي، تشريح او تحليل شوی دې او کومې ګټې ترې متصورې نه دي.

## د څلورم څپرکي پوښتنې

۱. د نسبي مزيت قانون د چا له لوري منځته راغلی ، نوم يې واخلئ؟
۲. د نسبي مزيت يا تمام شد مقايسوي پرنسيب په برخه کې معلومات ورکړي؟
۳. د مطلق مزيت په برخه کې د ادم سميت نظريه شرحه کړئ؟
۴. د څو اجناسو په صورت کې نسبي مزيت له مثال سره واضح کړئ؟
۵. د توليد د عواملو د عدم تجانس په برخه کې معلومات ورکړئ؟
۶. د توليد د عواملو انتقال او تحرک څه شی دی، واضح يې کړئ؟
۷. د ټرانسپورټ د مصارفو له رعايت سره يو ځای نسبي مزيت په لنډه توګه بيان کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## مهم نړیوال مالي سازمانونه

**ټولیزه موخه**

د دې څپرکي ټولیزه موخه د نړۍ د مهمو مالي او پولی سازمانونو پېژندل دي:

**د زده کړې موخې:** د څپرکي له ختمېدلو وروسته باید محصلین د لاندې مسایلو په هکله پوه شي:

- نړیوال بانک.
- د پیسو نړیوال وجهي صندوق
- د بیا رغونې او پرمختګ نړیوال بانک
- نړیواله مالي اداره
- د پانګې اچونې د شخړو د حل نړیوال مرکز
- د نفتو دتولیدونکو هېوادونو سازمان

**نړیوال بانک (world bank(wb:** له دویم نړیوال جنګ څخه وروسته په 1944 م کال کې د امریکا او انګلستان په ګډون د امریکا د نیو همشریا ( New (Hamshir د ایالت په بریټن ووډز (breten woods )کې د یوه نړیوال پولي سیستم د ایجاد په موخه نړیواله غونډه وشوه، چې په ترڅ کې یې یاده شوې طرحه په تصویب ورسېده او د بریټن ووډز د سیستم په نامه یاده شوه. د غونډې ګډونوالو د IMF د تاسیس په باره کې سره موافقه وکړه. د نړۍ د تجارتي چارو دڅارنې په لوزنامه کې د مندرج شویو قواعدو او مقرراتو د تعقیب په موخه د یوې بلې ستې تاسیس د ګډونوالو غوښتنه وه چې له کبله یې د پیسو نړیوال وجهې صندوق یا IMF منځته راغی.

MIF یا international monetary fund ته دنده ورکړه شوه، چې هغو هېوادونو ته پورونه او قرضې ورکړي چې د تادیاتو د بېلانس له ستونزو سره لاس او ګرېوان وي. د بریټن ووډز breten woods غونډه د 1944 کال د مارچ د میاشتې په لومړیو کې د 32 هېوادونو په ګډون په کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې پیل وکړ. د دغه سازمان د غړو شمیر مخ پر زیاتیدوو چې بلاخره له کمونستي بلاک پرته د دغې موسسې د ازادو غړو شمېرې نړیواله بنه غوره کړه چې د غړو شمیره یې 114 هېوادونو ته رسېده. په دې وروستیو کې د شوروي په شمول ځینې کمونستي هېوادونو هم د دغه سازمان د غړیتوب وړاندیز وکړ.

**د پیسو نړیوال وجهي صندوق یا ( International monetary fund )**

د دغه نهاد د تاسیس طرحه د 1944 ام کال د مارچ په میاشت کې منځته راغله او د سپټمبر د میاشتې په 27 تاسیس شو.

د دغه سازمان اصلي موخې په لاندې ډول دي. د خارجي پرداختونو د نا انډولۍ د لرې کولو په برخه کې له غړو هېوادونو سره مرسته کول. د پرداخت د دوه اړخیز سیستم په ځای د څو اړخیز سیستم د ترویج او ایجاد لپاره د لازمو شرایطو او اسانتیاؤ له لارې د غړو هېوادونو ترمنځ د نړیوال تجارت پرمختګ. د غړو هېوادونو د پولي ارزښت ساتلو په برخه کې لازیم کومکونه.

د IMF د تاسیس په لومړیو کې د دغه سازمان د غړو هېوادونو شمېره 27 ته رسېدله، خو اوس یې د غړیو شمېره تر هغه څو ځله اضافه شوی دی. د IMF سرمایه یا پآنګه د غړو هېوادونو د مالي او اقتصادي ځواک له مخې د هغوی د ونډې په تناسب تامین شوې ده. دغه سرمایه معمولاً له طلا او اسعارو څخه تشکیل شویده چې معمولاً 1/4 برخه یې طلا او پاتې 3/4 برخه یې د هېوادونو مروجې پیسې دي.

د دغه سازمان د تاسیس په لومړیو کې د غړوهېوادونو د ونډو مجموعه 21 میلیارده ډالرو ته رسېدله. د وجهي صندوق د موافقې پراساس ټول غړي هېوادونه دنده لري ترڅو ټولې مروجې پیسې په سرو زرو یا ډالرو باندې د 1944 ام کال د مروج معیار له مخې IMF ته اعلان کړي.

لکه مخکې چې ورڅخه یادونه وشوه د IMF د تاسیس موخه دا وه؛ چې د مالي مرستو له لارې د هغو هېوادونو مرسته وکړي، چې د پولې وضعیت په تضعیف کې وي او د خارجي پرداختونو د مجرا کولو ځوا ک نه لري، خوپه دې شرط چې د انډول یا تعادل دغه ستونزه موقتي بڼه ولري او د ټولني د اقتصادي جوړښت له نیمګړتیا څخه یې سرچینه نه وي اخستې.

دغې موخي ته د رسیدلو لپاره ټول غړي هېوادونه حق لري، چې د هغوی د خارجي عدم پرداخت د لرې کولو لپاره د خپلې اصلي ونډې طلا مطابق له صندوق څخه د اړتیا وړ اسعار ترلاسه کړي. که چېرته دغه رقم یا مقدار بیا هم ونکړای شي د دوی ستونزه هواره کړي، نو د صندوق د مدیره هیت د موافقې له مخې د غه هېواد کولای شي له صندوق څخه تر هغه زیاتې پیسې ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نړیوال بانک یا World Bank**

نړیوال بانک د 1944م کال د جولای د میاشتې په لومړیو کې د بریټن ووډز د کانفرانس له پایلې څخه منځته راغلې چې اوس یې د نړۍ 184 هېوادونه غړیتوب لري. غړو هېوادونو ته د کریډیټي او مالي مرستو د ورکولو په بنه د فقر او بېوزلۍ را کمول، د نړیوال بانک اساسي موخه تشکیلوي.

**نړیوال بانک د لاندې پنځو ارګانونو لرونکی دی:**

۱. د بیا رغوني او پرمختګ لپاره نړیوال بانک
۲. نړیواله پرمختیایی اداره
۳. نړیواله مالي اداره
۴. د څو اړخیزه پانګې اچونې د تضمین یا بیمې اداره
۵. د سرمایه ګذاري د شخړو د حل نړیوال مرکز.

**د بیا رغونې او پرمختګ نړیوال بانک IBRD:**

لکه څنګه چې مو د دې څپرکي په لومړیو کې یادونه وکړه، د بریټن ووډز کانفرانس د پولي مسایلو په حل سربیره یو لړ نورې موخې هم درلودې چې د جنګ ځپلو غړو هېوادونو له اقتصادي ملاتړ او د جګړې له پایلو څخه د منځته راغلې ناورین له رغولو څخه عبارت دی. دغه هدف ته د رسیدلو شوق و چې د نړیوال بانک په تاسیس کې دبیار غونې او پرمختیا له کبله د بیا رغونې او پرمختګ نړیوال بانک چې په نړیوال بانک سره هم شهرت لري، منځته راغې.

دغه ارګان د بریټن ووډز د کانفرانس په پایله کې منځته راغې او په 1995م کال کی د نړۍ له مخې د فقر د له منځه وړلو، د موسسې په توګه ایجاد شو، چې د منځني عایدو لرونکو هیوادونو ته یې پرمختیایی مرستې ورکول یې له مهمو اهدافو څخه دي. بلاعوضه مرسته او بې له سوده قرضې ورکول د دې ادارې د مرستو له ډول څخه عبارت دی. د دغه بانک اړین مالي منابع د غړو هېوادونو د ونډو او په ازاد بازار کې د قرضې د اوراقو د پلور له درکه برابرېږي.

د دغه بانک له لوري اوږد مهاله قرضې د 25-15 کلونو لپاره اجرا کېږي او د بانک له قرضونو څخه د استفادې مهم شرطونه دا دي؛ چې دا قرضې د ټولنې د اقتصادي زیربنا د تاسیس په موخه په عمراني او ګټورو پروژو باندې و لګول شي او یا د ګړندۍ اقتصادي ودې په موخه په رکومه بله مهمه چاره ولګول شي.

نوموړی بانک د خپل فعالیت په لومړیو کی د وروسته پاتې او مخ پر ودې هېوادونو ترڅنګ سترو صنعتي هېوادونو ته هم قرضې ورکولې، خو د جګړې د خساراتو له ترمیم او د خپل صنعتي څرخ له بیا فعالیدلو وروسته بانک د دغوسترو صنعتي هېوادونو په وړاندې خپل سیاست ته تغیر ورکړ او خپلې مرستې یې ډېرې وروسته پاتې هېوادونو ته ځانګړې کړې، چې متعاقباً په 1956

(c) ketabton.com: The Digital Library

او1960م کال کې په ترتیب سره د نړیوالې مالي موسسې او نړیوالې پرمختیایي موسسې په څېر دوه  نورې نړیوالې موسسی هم  تاسیس شوې.  دغه دوه موسسات چې خصوصیات یې په لاندې توګه خلاصه کېږي، دواړه یې له نړیوال بانک سره تړلي او په ګډه سره نړیوال بانک تشکیلوي.

**نړیواله مالي موسسه:**

دا اداره په 1956میلادي کال کې د نړیوال بانک د غړو هېوادونو له لوري تاسیس شوه، چې غړوهېوادونو او خصوصي موسساتو ته قرض ورکول یې اساسي موخه تشکیلوي.

له نړیوالي مالي مؤسسې څخه قرض اخیستل د نړیوال بانک د اصولو په خلاف تضمین ته اړتیا نه لري. همدا شان دغه مالي موسسه کولای شي له خصوصي سازمانونو سره نژدې اړیکي ولري او له هغوی سره په ګډه د پانګې اچونې پریکړې وکړي، په داسې حال کې چې نړیوال بانک د خپلې اصولنامې له مخې د ورته کړنو صلاحیت نه لري.  پر همدې اساس نړیواله مالي موسسه غواړي په خصوصي سکتور  کې د پانګې اچونې او مخ پر ودو اقتصادونو د تخنیکې او مشورتي مرستو په بنه له مخ په وده هیوادونو سره مرستي وکړي.

اړو موسساتو ته د نړیوالي مالي موسسې د قرض ورکولو پروسیجر د نړیوال بانک د مقرراتو خلاف ، تضمین ته اړتیا نه لري.

**نړیواله پراختیایي موسسه:**

دغه موسسه د 1960 ام کال د ډسمبر د میاشتې په 24 نېټه تاسیس شوه، چې دندې او مسؤلیتونه یې د نړیوال بانک سره ورته دي. یوازنی توپیر په کې دا دی چې دغه موسسه هغو مخ پر ودی هېوادونو قرضې ورکوی، چې له نړیوال بانک څخه د قرض اخیستلو شرایط نه شي پوره کولای.

دغه شان نوموړې موسسه هغو ټولو هېوادونو ته چې د نړیوال بانک غړیتوب لري، په خورا اسانه شرایطو سره قرضې ورکوي. د دغې موسسې قرضونه معمولاً اوږدمهاله دي یانې له پنځه ویشتو کلونو څخه زیات او له سود یا ربحې پرته ورکول کېږي، خود یادونې وړ ده؛ چې دغه آسانتیاوې یوازې د هغو عمراني پروژو لپاره ورکول کېږي چې لا له وړانده د نړیوال بانک له لوري تصویب شوي وي ، له هغه وروسته هغه غو ښتونکي هېوادونه د قرض اخیستلو حقدار ګڼل کېږي چې د نړیوال بانک څخه د قرض اخیستلو څواک نه لري او یا یې شرایط نه شي پوره کولای.

**د ملګرو ملتونو اقتصادي او اجتماعې شورا:**

د ملګرو ملتونو د اقتصادي او اجتماعې شورا سازمان له مهمو نړیوالو اقتصادي سازمانونو څخه دی چې  د ملګرو ملتونو عمده ارګان دی او ترعمومي نظرلاندې فعالیت کوي. د ملګروملتونو په سطحه د تحقیق، د راپورونو د چمتو کولو، اصلاحي نظریاتو د وړاندې کولو او د  اقتصادي، اجتماعي، فرهنګي، تربیتي او روغتیایي امورو او مسایلوڅېړنه او پراختیا د دغې شوار له مهو دندو څخه ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه شورا دندې لري چې دپورتنیو مسایلو په هکله هغه اطلاعات چې د امنیت د شورا لپاره اړین وي د هغوی په واک کې ورکړي. په دې سربیره د دغو اړوندو مسایلو په هکله د سمینارونو او کانفرانسونو د ترتیب اقدامات کوي. دغه شورا د لاندې څلورو سیمه یزو کمیسیونونو لرونکې ده.

١. د آسیا او خاور اقتصادي کمیسیون چې مرکز یې د تایلیند هېواد د بنکاک په ښار کې دي.
٢. د اروپا اقتصادي کمیسیون چې مرکز یې د سویس د ژنیو په ښآر کې موقعت لري.
٣. د لاتینې امریکا اقتصادي کمیسیون چې مرکز یې د چیلي د هېواد په سنتیاګو ښار کې دی.
۴. د افریقا اقتصادي کمیسیون چې مرکز یې د د ایتوپیا یا حبشې په ادیسبابا ښار کې دی.

**د ملګرو ملتونو د کرهنې او خوراک سازمان:**

د خوراک او کرهنې نړیوال سازمان یا FAO د 1947 ام کال د اکتوبر په میاشت کې تاسیس شو چې مرکز یې د ایټالیا د روم په ښار کې دی. دغه سازمان د نړۍ له مهمو موسساتو څخه دی او هدف یې د لوږې، فقر او بېوزلۍ پر وړاندې له مبارزې او د نړۍ پر وړاندې د غذایې وضعیت له ښه والی څخه عبارت دی.

دغه سازمان د نړۍ د مختلفو هېوادونو د وګړو غذایي وضعیت ، د لوږې او غذایي موادو د کمښت په برخه کې اطلاعات او ارقام را غونډوي او په دې اړه د ملي او نړیوالو سیاسي او اقتصادي محافلو پاملرنه جلبوي.

همدا شان د کرنې د محصولاتو د کمبود د مخنیوي او د کروندګرو د ژوند د سطحې د ښه والي او غذايي کالوري د زیاتوالي په اړه لازم وړاندیزونه کوي او د علمي او فني اقداماتو له لارې د هغوی لار ښوونه کوي.

**یونیسف Unicef**

دغه سازمان په 1946م کال کې تاسیس شو چې اساسي موخه یې په وروسته پاتې هېوادونو کې د د تغذیې، روغتیا او ټولنیزو مسایلو لکه تعلیم، تربیې مشاغلو او داسې نورو په برخه کې دځوانانو مرسته کول دي. د هغوی مرستې امتعوي بڼه لري. یانې مرستې یې د غذایي موادو او وسایلو په شکل تر سره کېږي. د ښوونې او روزنې به برخه کې د هغوی مرستې له لومړنیو زده کړو څخه پیل او بیا تر پوهنتون پورې ټول مراحل په خپله لمن کې را نغاړي

**یونسکوUnisco**

یونسکو د ملګروملتونو د ښونې او روزنې، د علمي او فرهنګي مسایلو موسسه ده.

یونسکو په 1946م کال کې تاسیس شو، چې نن ورځ یې د غړو هېوادونو شمېره 150 ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغې موسسې اصلي موخه ښو ونې او روزنې  او کلتور په برخه کې د ملتونود  همکاريو د غښتليتا تر څنګ دژبې، نژاد، دين، جنسيت او داسې نورو په برخه کې د تبعيضاتو د له منځه وړلو څخه عبارت دي.

**نړيواله کارګري موسسه:**

دغه موسسه په  1946م کال کې دملګرو ملتونو د يوه ځانګړي غړي په توګه تاسيس شوه. د کارګرانو د ژوند او وضعيت د ښه والي او د هغوی د ستونزو حل کول د دغې موسسې له اهدافو څخه شميرل کېږي او له يونسکو او له نړيوال خوراکي سازمان سره نژدې اړيکې لري.

**د امريکا د لويې وچې  د هېوادونو پرمختيايي بانک:**

دغه يوه سيمه يزه مالي موسسه ده چې په 1959 ام کال کې تاسيس شوه او د اقتصادي پرمختګ لپاره د امريکا د عمراني پروژو لپاره قرضونه ورکوي ترڅو له اقتصادي پرمختګونو او د خلکو د ژوند له سطحې له لوړوالي سره مرسته وشي. مرکز يې په واشنګټن کې دی او غير امريکايي هېوادونه يې هم غړيتوب لري.

**د آفريقا انکشافي بانک- د افريقا عمراني بانک:**

دا د افريقا د سيمه يزو مالي موسساتو له ډلې څخه ګڼل کېږي چې په 1963 ميلادي کال کې تاسيس شو، چې په اوس حال کې په افريقايی هېوادنو سربېره غير افريقايي هېوادونه هم د دغه سازمان غړيتوب لري.

موخه يې د افريقايې هېوادونو له اقتصادي پرمختګ او د ټولنيزي رفاه له تامين څخه پرته بل څه نه ده.

**د آسيا انکشافي او عمراني بانک:**

دغه بانک په 1965  ميلادي کال کې د فلپاين د مانيلا په ښار کې تاسيس شو. زياتره غړي يې اسياي هېوادونه دي . د افريقايي بانک په څېر د دغه بانک موخه هم د مالي مرستو له لارې د مخ پر ودې اسيايي هېوادونو له اقتصادي پرمختيا څخه عبارت دي.

**د تيلو د صادرونکو هيوادونو سازمان يا OPEC:**

دغه نړيوال سازمان د تيلو د صادرونکو هېوادونو ترمنځ د نفتي سياست د همغږۍ او له خپلو منافعو څخه د دفاع په منظور  په **1960م** کال کې تاسيس شو.

اوسمهال په ياد شويو دندو سربېره د تيلو د قيمت د تعين او تثبيت په برخه کې ستر رول لري.

د اوپک غړي هېوادونه له **ايران ، ابوظبی (امارات متحده عربی) کويت، عراق ،عربستان سعودي ، قطر، ليبا، اندونيزيا، وينزويلا**  او داسې نورو څخه عبارت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پنځم څپرکي د مطالبو لنډيز:

په 1944 ميلادي کال کې نړيوال وجهي صندوق او نړيوال بانک تاسيس شول چې اصلي هدف يې له غړو هېوادونو سره د هغوی د خارجي پرداختونو د موقتې عدم تعادل په برخه کې مرسته کول دي.

د پرداخت د وه اړخيز سيستم پر ځای د پرداخت د څو اړخيز سيستم تشويق او د لازمو شرايطو د اماده کېدلو له لارې د اقتصادي پراختيا تشويق کول او د خارجي پيسو د ارزښت ساتني له لارې د دې سيستم ترويج ته لار پرانستل او بلاخره د نهايي هدف تعقيبول .

نړيوال بانک د پنځو غړو يا څانګو لرونکی دی چې : د بيا رغونې او پراختيا لپاره نړيوال بانک، نړيوالې مالي ادارې، د څو اړخيز پانګې ا چونې د تضمين يا بيمې له ادارې، د منازعاتو د حل له نړيوالې ادارې څخه عبارت دي چې هر يو يې د پانګي اچوني او نړيوالي اقتصادي پراختيا په برخه کې مهم رول لري.

د يادونې وړ ده، چې د صندوق د تاسيس د اهدافو له مخې هڅه کېږي چې د شونتيا تر بريده د مالي مرستو له لارې د هغو هېوادونو سره مرسته وکړي، چې د تضعيف له ګواښ سره مخ وي. د هغو د خارجي پرداختونو عدم تعادل له منځه وړی، خوپه دې شرط چې دغه عدم تعادل موقتي بڼه ولري او د ټولنې له اقتصادي جوړښت يا ساختمان له نقص څخه منځته نه وي راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پنځم څپرکي پوښتنې:**

۱. نړیوال بانک چېرته او په کوم ځای کې تاسیس شو، شرحه یې کړئ؟
۲. د ملګرو ملتونو د نړیوال وجهي صندوق یا IMF په اړه معلومات ورکړئ؟
۳. د نړیوال وجهي صندوق دندې په ګوته کړئ؟
۴. افغانستان په کوم کال د نړیوال بانک غړیتوب تر لاسه کړ؟
۵. د نړیوال بانک د ګروپ نومونه واخلئ؟
۶. نړیواله مالي موسسه په کوم کال تاسیس شوه؟
۷. د ملګرو ملتونو د اقتصادي او اجتماعي شورا په هکله معلومات ورکړئ؟
۸. د ملګروملتونو د کرهنې او خوراک د سازمان د ندو نومونه واخلئ؟
۹. د یونسیف او یونسکو په برخه کې مفصل معلومات وړاندې کړئ؟
۱۰. د OPEC د غړو هېوادونو نومونه واخلئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

## د تادياتو بېلانس

## Balance of Payment

**ټوليزه موخه**

د دې څپرکي له ختميدلو سره به محصلين د لاندې موضوعاتو په باره کې پوره معلومات ولري

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي د زده کړي موخې لاندې موضوعات تعقيبوي.

- تجارتي بېلانس
- خدماتي بېلانس
- د سرمايې بېلانس
- د طلا او اسعارو بېلانس
- د بلاعوضه انتقالاتو بېلانس
- د لنډ مهاله سرمايې بېلانس

**عموميات**

په يوه ټاکلې دوره کې د هېواد له داخل څخه بهر ته او له بهر څخه د هېواد داخل ته د تادياتو مجموعه د تادياتو د بېلانس په نامه يادېږي. په حقيقت کې دغه بېلانس له خارج سره د راکړې ورکړې يو اوږد فهرست دی، چې په پيسو افاده کېږي.

په دغه راکړه ورکړه کې طلا، د کرايې او د بيمو لپاره د تادياتو، د مسافرو د لګښتونو، له قرض او پرداخت څخه منځته راغلي د سرمايې د انتقالاتو ، د قروضو د اقساطو او ربحې په څېر ټول تجارتي اموال او خدمات په خپله لمن کې رانغاړي.

دتادياتو د بېلانس سنجش يا ارزونه له يوه يا څو نورو هېوادونو سره د يوه هېواد په اقتصادي اړيکو پورې محدوده ده. لکه څنګه چې څرګنده ده، نړيوال معاملات يوازې د توکو په راکړه ورکړه پورې محدود نه دي، بلکې د نړيوالو اقتصادي روابطو په چوکاټ کې يو لړ نور افعال او

(c) ketabton.com: The Digital Library

انفعالات هم د هېوادونو ترمنځ ترسره کېږي، چې په بېلابېلو ډولونو سره د هېواد په اقتصادي موقف باندې تاثير کوي. د مثال په توګه ممکن خارجي افراد او موسسات خپله پانګه یا سرمایه زموږ هېواد ته د تولیدي فعالیت په موخه را نقل کړي او یا زموږ له داخلي موسساتو سره د مشارکت اقدام وکړي چې په دې صورت کې سرمایه افغانستان ته واردیږي او یا شونې ده؛ چې دغه موسسات د قانون مطابق اصلي سرمایه یا د هغې حق الامتیاز له افغانستان څخه واپس خارج ته انتقال کړي . همدا شان توریستان او ګرځندویان چې هر کال هېواد ته راځي، له خپل ځان سره مبالغ افغانستان ته رالېږدوي. په همدې ترتیب هرکال افغاني مسافرین له خپل ځان سره یو مقدار اسعار خارجې هیوادونو ته لیږدوي . په همدې شکل ممکن دولتي یا غیر دولتي موسسات د خپلو مادي اړتیا ؤ د پوره کولو په موخه له خارجي موسساتو یا دولتونو څخه قرضونه ترلاسه کړي، چې په دې صورت کې هم هېواد ته د پیسو د رالېږد بهیر صورت نیسي. په دویمه مرحله کې د ګټې پرداخت یا د اصلي قرضې د مجرایني په صورت کې له هېواد څخه بهر ته پیسې لېږدول کېږي. په همدې توګه ممکن د افغانستان دولت له ځینې هېوادونو څخه بلاعوضه مرستې تر لاسه کړي او یا له ځینی هیوادونو سره بلاعوضه مرستې وکړي. په ورته توګه په نورو هېوادنو کې مقیم افغانان خپل کار په مقابل کې تر لاسه شوی عایدات هېواد ته را لېږدوي او یا په افغانستان کې مقیم خارجیان په افغانستان کې تر لاسه شوی عاید خپلو هېوادونو ته و استوي.

لیدل کېږي چې په دغه ډول عملیاتو کې د شیانو د راکړې ورکړې هېڅ ډول موضوع نه ده مطرح شوې، بلکې د دغو مالي عملیاتو په ترڅ کې یوازې له داخل څخه خارج او له خارج څخه داخل ته د پیسو لېږد را لېږد بهیر ترسره کېږي. د خارجي پرداختونو موازنه په عمومي توګه له دغو ټولو انتقالاتو او همدا شان له صادراتو او وارداتو سره په تړاو د پیسو له تر لاسه کېدل د دې ښودنه کوي، چې یو هېواد د یوه معین وخت په اوږدو کې (معمولاً یوه کال کې) څه اندازه پرداخت ترلاسه کوي او کومه اندازه یې له لاسه ورکوي.

د خارجي پرداختونو د موازنې تنظیم له بېلابېلو لارو څخه ترسره کېږي خو موږ په دې ځای کې له هغو طریقو څخه یادونه کوو چې په اساس یې د پرداختونو موازنه چمتو او بر رسي کېږي.
د اقتصادي حساب دغه ډول له درېو اساسي برخو څخه تشکیل شوې چې په لاندې ډول دي:

١. د اسعاري موازنې جاري حساب
٢. د اسعاري موازنې د سرمایې حساب.
٣. او غیر پیوسته نقل او انتقالات.

جاري حساب چې له اقتصادي نظره د خارجي پرداختونو د موازنې مهمه برخه تشکیلوي او د شیانوله صدور او ورود څخه منځته راغلیو دریافتونو او پرداختونو لرونکې ده، په داسې حال کې چې د سرمایې حساب د نقل او انتقالاتو ښودونکی دی چې له اوږدمهاله خارجي قرضونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتباراتو د اصل او بلا عوضه خارجي کومکونو مجراينې او خصوصي سرمايې له ورود او خروج څخه د استفادې له امله د هېواد د اساسي پرداختونو موازنه تشکيلوي.

د دې درېمه برخه ياني غير پيوسته نقل او انتقالات له دې کبله د لږ اهميت لرونکي دی چې له مستقل تجارت او مالي عملياتو څخه نه دي تشکيل شوی ، بلکې نقل او انتقالات دي چې د پرداخت د موازنې د لومړۍ او دويمې برخې د عملياتو او تغيراتو تابع دي او په زماني طول کې ددغو تکميلونکي دي.

دغه درې برخې د هېواد د کلي پرداختونو موازنه تشکيلوي.

هغه مهمه نقطه چې د خارجي پرداختونو د موازنې په تحليل او شننه کې مد نظر نيول کېږي، د هغه له کلي توان څخه د د غه بېلانس د اقتصادي تعادل د مسلې تفکيک دی.

د دغــه مطلب د وضــاحت په موخــه يو تــربله د دغــو اقتصادي حســابونو د اړيکــو نوعــې ارزيابي کــوو.

لکه څنګه چې د موازنې جاري حساب د خارجي پرداختونو او دريافتونو منعکس کوونکې دی، د شيانو او خدمتونو د صدور او ورود له بابته ترسره کېږي.

دغه حساب د پرداختونو د موازنې مهمه برخه ده. دغه اهميت يې له دې کبله دی چې اولاً د موازنې د ټولو برخو د معلول تابع نه ده، بلکې د هغوی علت دی.دغه نظريه له ټول نقل او انتقالاتو څخه مستقله ده.

**دويم:** نقل او انتقالات د مستقيم تړاو له امله چې د هېواد له اقتصادي موقعيت سره په ځانګړې توګه د هغوی د توليد له څواک سره لري، د ټولني د زياتو اقتصادي تحولاتو د حساسيت او انعطاف لرونکې ده.

دغو دوو امتيازاتو ته په کتنې سره کله چې د موازنې او پرداخت جاري حساب متعادل وي، دغه امر د اقتصادي تعادل تر څنګ د هغه هېواد د اسعارو د ثبات باعث هم ګرځي چې په پايله کې د طلا او اسعارو د خروج او لږوالي مانع هم ګرځي.

اوس فرض کړئ، د توليدي عواملو او سازمانونو د ضعف له امله او يا د غير منتظره طبيعي او ټولنيزو عواملو د پيدايښت له امله د وارداتو له شديد زياتوالي سره د صادراتو په پر تله د تجارت د موازنې د کسر د پايلې سره مخ کېږي ، ياني طلا او اسعار چې پخپله يې پيدا کوي، د اسعارو د وارداتو چې بايد خارجي هېوادونو ته ورکړل شي يا تاديه شي، جواب ګوی نه دي.

د پرداختونو د موازنې دغه ډول جاري حساب د عدم تعادل ښودنه کوي او د ټولنې د اقتصادي مسؤليت نا چاره کېږي، تر څو د دغه کسر د تامين لپاره يو لړ تدابير پکار واچوي او يا په نقل او انتقالاتو لاس پورې کړي، چې د هغه مربوط ارقام له طلا او اسعارو څخه په لاس کې و لرلای شي او ياد شوی کسر له: دغو دخايرو څخه په استفادې سره ورکړي، چې دغه اقلام د طلا اوا سعارو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرڅ لامل ګرځي او د هېواد د مروجو پیسو ارزښت ته ضربه ورکړي ، او یا دا چې که چېرته دغه ذخایر کافي نه وي، یا اصلاً دولت و نه غواړي له دغه مبلغ څخه استفاده وکړي، نو کولای شي په خارجي اعتبار کې د وام اخستلو له لارې د خپلو قرضونو د پوره کولو په چاره اقدام وکړي، چې التبه په دې برخه کې هم هغه ګټه چې له دغو وامونو سره تعلق لري، له هېواد څخه د باندنیو اسعارو له وتلو سره ورته ده، څکه خو د منفي اغېزو لرونکې ده. بلاخر د تجارت د موازنې د کسر د تامین درېیمه لاره د اسعارو پیدا کېدل یا تر لاسه کېدل دي، چې د اړینو هڅو په ترڅ کې تحقق مومي، چې د شونتیا تر بریده د هېواد د اسعارو په کلي موازنه کې د جاري حساب د پرداختونو د موازنې تعادل د هېواد د اسعارو د موازنې لامل ګرځي.

**د تادیاتو د بېلانس مفهوم او تعریف:** د تادیاتو د بېلانس په اړه زیات تعریفونه شته، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**الف** – د تادیاتو بېلانس په یوه معینه دوره کې د تادیاتي وسایلو ، خارجي اسعارو او طلا پیر او پلور ته ویل کېږي.

**ب**- د تادیاتو بېلانس په یوه معینه دوره کې له داخل څه خارج ته او له خارج څخه داخل ته دتادیاتو مفهوم پیاده کوي.

له لومړني تعریف سره د دغه تعریف توپیر په دې کې دی، چې تادیات نه یوازې د تادیاتي وسایلو د پیر او پلور له لارې موجودېږي، بلکې تادیات د پخوانیو وسایلو له ذخایرو سره هم په نظر کې نیول کېږي.

**ج**- د تادیاتو په بېلانس کې اسعاري دریافتونه، اسعاري پرداختونه او د یوه هېواد د اسعاري مخارجو نړیوال معاملات درج کېږي.

بلاخره د یوه جامع تعریف له مخې کولای شو د تادیاتو بېلانس د یوه احصایوي جدول په توګه و پېژنو. یانې داسې یو جدول چې ټول معاملات چې له داخلي اقتصادي واحدونو او خارجي اقتصادي واحدونو څخه متشکل وي، په یوه معینه دوره کې په کې درج شوي وي.

د تادیاتو بېلانس د دوه اړخیزې محاسبې پر اساس ترتیبېږي چې د کریډیټ او ډېبټ لوري لرونکي وي ، چې ځینې خلک یې د اکتیف او پسیف په نومونو هم یادوي او د کریډیټ لوری یې د ډېبټ له لوري سره مساوي وي. خو په عمل کې د تادیاتو د بېلانس له کسر یا ماذاد څخه بحث کېږي. د دې لپاره چې د تادیاتو د بېلانس مفهوم په ښه توګه درک کړو، یو فرضې تادیاتې بېلانس په نظر کې نیسو، په داسې ډول چې دجدول ارقام له میلیون افغانیو سره ضرب شوي وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

C د تادیاتو بېلانس D

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د اجناسو صادرات | ۵۵۰ | ۵ | د اجناسو واردات | ۸۰۰ |
| ۲ | د خدماتو صادرات | ۱۵۰ | ۶ | د خدماتو واردات | ۵۰ |
| ۳ | بلا عوضه انتقالات | ۱۰۰ | ۷ | بلا عوضه انتقالات | ۸۰ |
| ۴ | د سرمايې تورید | ۲۰۰ | ۸ | د سرمايې صدور | ۷۰ |
| | | ۱۰۰۰ | | | ۱۰۰۰ |

د تادیاتو د بېلانس کریډیټ لوری د مختلفو طریقو شودنه کوي چې یو هېواد اسعاري عواید تر لاسه کوي. په بل عبارت د تادیاتو د بېلانس کریډیټ لوری د یوه هېواد اخستلو د وړتیا شودنه کوي چې کولای شي په نړیوالو بازارونو کې د اجناسو او خدماتو د خرید په توګه ترې استفاده وکړي.

هغه ساده طریقه چې یو هېواد يې په مرسته خارجي اسعار ترلاسه کولای شي ، د اجناسو له صادراتو څخه عبارت دی، نو په دې اساس دغه صادرات د اسعاري عوایدو یوه منبع ګڼل کېږي. زموږ د مورد نظر هېواد د تادیاتو په فرضي بېلانس کې د صادر شویو اجناسو ارزښت 550 میلیونه افغانۍ دی (البته د اجناسو ارزښت په افغانیو تسعیر شوی دی).

معمولاً د تادیاتو په بېلانس کې د اجناسو ارزښت د FOB (Free On Board) یا ، تر بندرګاه ، پوري سنجش کېږي. په دی مفهوم چې د صادراتو په ارزښت کې د ترانسپورټ مصارف او بیمه نه شاملېږي.

هغه ساده ترینه طریقه چې یو هېواد يې په مرسته خارجې اسعار له لاسه ورکوي او یا يې په مصرف رسوي، د اجناسو له وارداتو څخه عبارت دی. زموږ د مورد بحث هېواد د تادیاتو په بېلانس کې د وراداتو ارزښت800 میلیونه افغانۍ ښودل شوی دی او دا د دې مانا ورکوي، چې ګواکې د دغه رقم معادل اسعار له هېواد څخه وتلي دي او یا په مصرف رسېدلي دي.

البته د وارداتو ارزښت د بارچالانۍ او بیمې د مصارفو له مخې سنجش کېږي، په دې مانا چې د وارداتو په ارزښت کې دبیمې او ترانسپورټ مصارف هم شامل وي.

بله لار چې په واسطه يې یو هېوا د خارجي اسعار ترلاسه کوي اویا د اسعاري عوایدو منبع ګڼل کېږي، د خدماتو له صادرولو څخه عبارت دی. دا پروسه هغه ټول خدمات په خپله ځان کې رانغاړي، چې د یوه هېواد له لوري د بل خارجې هېواد د اړتیاؤ د پوره کولو په منظور صادرېږي. درېیمه لاره د بلاعوضه انتقالاتو هغه ده چې بلاعوضه مرستې او ډالۍ په کې شاملې دي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال او راتلونکي کې يې د اعادې لپاره کوم ځانګړی مسؤليت نه ليدل کېږي.

دا د بهرينو هېوادونو له لوري وړيا مرستې دي چې په پورتني مثال کې مورد نظر هېواد د 100 ميليونه افغانيو په اندازه ډالۍ او بلاعوضه مرستې تر لاسه کړې دي. په مقابل کې يې دغه هېواد له نورو هيوادونو سره ورته مرستې تر سره کړيدي، چې کچه يې 80 ميليونه افغانيو ته رسېږي او په جدول کې ښودل شوی دي.

بلاعوضه انتقالات يوه اسعاري منبع ګڼلای شو. توريد يا د سرمايې ورادا ت هم د خارجي اسعارو دريافتي منبع ګڼل کېږي چې د تادياتو د بېلانس په کريډيټ لوري کې درج کېږي او په لاندې اقلامو باندې مشتمل ده:

١. له خارج څخه د قرضې اخستل
٢. په باندنيو هېوادونو باندې د دارايې پلورل

څنګه چې زمونږ په فرضې بېلانس کې د سرمايې صدور د تادياتو د بېلانس په ډېبټ لور کې درج کېږي او د خارجي اسعارو د مصرف کولو ښودنه کوي چې په لاندې اقلامو باندي مشتمل دي

١. خارج ته د قرضونو ورکول.
٢. له خارجي هېوادونو څخه د دارايې اخستل
٣. د يوه هېواد له لوري بل هېواد ته د پخوانيو قرضونو تاديه

څرګنده ده چې بهرنيو هېوادونو ته د قرضونو ورکړه د سرمايې د سود مانا لري، د سرمايې صدور او له خارجي هېواد څخه خريداري هم نورو هيوادونو ته اسعارو د ليږد لامل ګرځي.

**د تادياتو په بېلانس کې د معاملاتو د ثبت معيار:**

د دې لپاره چې پوه شو ، د تادياتو په بېلانس کې معاملات څه ډول درج کېږي يانې دا چې کوم ډول معاملات د تادياتو د بېلانس کريډيټ لوري ته او کوم ډول معاملات د تادياتو د بېلانس په ډېبټ لوري کې ځای نيسي، بايد يو معيار د اساس په توګه قبول کړو چې ايا د يوې اقتصادی عمليې له امله خارجي اسعار له لاسه ورکول کېږي او که تر لاسه کېږي.

که چيرته د يوې معاملې له امله يو هېواد باندې اسعار ترلاسه کوي، نو د اسعاري عوايدو منبع ګڼل کېږي ، يانې د اسعارو د حرکت سمت د هېواد د د اخل په لور دی، نو معامله د تادياتو دبېلانس به کريډيټ لوري کې ثبت کېږي.

معمولاً يو هېواد له درېو لارو څخه خارجي اسعار تر لاسه کولای شي چې په لاندې ډول دي:

١. د توکو او خدماتو صادرات.
٢. بلاعوضه دريافتونه او ډالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. د سرمايې تورید.

که چېرته د يوې معاملې له کبله يو هېواد خارجې اسعار له لاسه ورکړي يانې د اسعارو د حرکت سمت د هېواد له داخل څخه د خارج په لوري وي، ياده شوې معامله د تادياتو د بېلانس په ډېبټ لوري کې ثبت کېږي. معمولاً يو هېواد له دريو لارو څخه باندنې اسعار له لاسه ورکوي، چې په لاندې ډول دي:

۱. د شيانو او خدماتو واردات.
۲. د بلاعوضه مرستو او ډالیو استول.
۳. د سرمايې صدور.

**د تادياتو د بېلانس فرعي بېلانسونه**

**د تادياتو په بېلانس کې شامل اجزا:** د تادياتو بېلانس له څو فرعي بېلانسونو څخه تشکيل شوی دی، چې له يو ځای والي څخه يې د تادياتو بېلانس ترتيبيږي. د تادياتو د بېلانس اجزا يا فرعې بېلانسونه د تجارت له بېلانس، د خدماتو له بېلانس، د بلاعوضه انتقالاتو له بېلانس، د سرمايې له بېلانس، د لنډ مهاله سرمايې له بېلانس، د طلا او اسعارو له بېلانس څخه تشکيل شوې دی چې هر يو يې په لاندې ډول تشريح کېږي:

**د تجارت بېلانس:** د تادياتو د بېلانس تر ټولو مهم فرعي بېلانس دتجارت له بېلانس څخه عبارت دی. د تجارت په بېلانس کې د اجناسو له صادارتو او وارداتو څخه بحث کېږي، چې د صادراتو ارزښت د تادياتو د بېلانس په کريډيت لوري کې او د وارداتې شيانو ارزښت د تادياتو د بېلانس په ډېبټ لوري کې درج کېږي.

د مفهوم د روښانه کولو په موخه له لاندې مثال څخه ليدنه کوو؟

**اقلام په ميليون افغانۍ**

**د تجارت بېلانس**

| C | | D | |
|---|---|---|---|
| د صادراتو مجموعي ارزښت | ۵۵۰ | د وراداتو مجموعي ارزښت | ۸۰۰ |
| تفاوت يا کسر | ۲۵۰ | | |
| | ۸۰۰ | | ۸۰۰ |

ضروري نه ده د تجارت بېلانس د تل لپاره د تعادل په حالت کې پاتې شي، يانې امکان لري، چې د صادراتو مجموعي ارزښت د وراداتو له هغه سره مساوي شي. زموږ د مورد نظر هېواد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد کې د د وارداتو مجموعي ارزښت 800 میلیونه افغانۍ او د صادراتو مجموعي ارزښت 550 میلیونه افغانۍ ښودل شوی چې په دې توګه د هغوی ترمنځ 250 میلیونه توپیر لیدل کېږي چې د تجارت د کسر مانا پیاده کوي او د دې ښودنه کوي چې د غه دوه اړخونه د تل لپاره مساوي نه شي پاتې کېدلای.

د احصایوي او محاسبوي نظره یوه معادله په نظر کې نیول کېږي . په دې معادله کې د صادراتو مجموعي ارزښت په ex او د وارداتو مجموعي ارزښت په IM سره ښودل شویدی. نو که چیرته EX<IM وي، نو ویل کېږي چې د تجارت بېلانس د مازاد په حالت کې دی. که چېرته EX>IM وي، نو ویل کېږي چې د تجارت بېلانس د کسر په حالت کې دي، خو که چېرته IM=EX وي، نو ویل کېږي چې تجارت د تعادل په حالت کې دی.

لکه څنګه چې لیدل کېږي د تجارت په یاد شوي بېلانس کې 250 میلیونه افغانۍ کسر لیدل کېږي، نو د یادونې وړ ده، چې و ویل شي، که چېرته تجارت د کسر په حالت کې وي، دغه حالت د تجارت لپاره یو ناخوښه حالت ګڼل کېږي او که چېرته تجارت د مازاد په حالت کې وي نو د تجارت غوره حالت ګڼل کېږي.

بېلانس د یوه معین کال لپاره ترتیبېږي چې د تجارت د بېلانس په کریډیټ لوري کې اسعاري عواید او په ډېټ لوري کې یې اسعاري مصارف ثبتېږي.

**د خدماتو بېلانس:**

د خدماتو بېلانس دتادیاتو د بېلانس یو فرعي بېلانس دی، چې د خدمتونو صادرات او واردات په کې درج کېږي. البته د خدماتو صادرات د دغه بېلانس په کریډیټ لوري کې او واردات یې په ډېټ لوري کې درج کېږي چ بیاهم د خدماتو دبیلانس کریډیټ لورى اسعاري عواید او د خدماتو د بېلانس ډېټ لوري اسعاري مخارج په خپله ځان کې رانغاري. د تجارت د بېلانس په څېر په دې بېلانس کې ضروري نه ده، چې تل د موازنې په حالت کې پاتې شي، خو بیا هم که چېرته د خدماتو د صادراتو مجموعي ارزښت په EXS او د خدماتو د وراداتو مجموعي ارزښت په IMS سره وښودل شي، نو لیکلای شو چې:

EXS =IMSتعادل
EXS <IMSمازاد
EXS >IMSکسر

**د خدماتو بېلانس .ا رقام په میلیون افغانۍ**

| | |
|---|---|
| د خدماتو د صادراتو مجموعي ارزښت ۱۵۰ | د خدماتو د وارداتو مجموعي ارزښت ۵۰ کسر ۱۰۰ |
| ۱۵۰ | ۱۵۰ |

په پورتني مثال کې د د خدماتو د صادراتو مجموعي ارزښت 150 میلیونه افغانۍ او د خدماتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وارداتو مجموعي ارزښت 50 میلیونه افغانۍ دی، چې په پایله کې د خدماتو په بېلانس کې یو مثبت توپیر یا ماذاد منځته راغلی، چې د حسابي توازن په موخه یا د احصایوي توازن په موخه د خدماتو ډېبټ لوري ته یانې هغه لوري ته ثبت کېږي چې کوچنی رقم پکې درج شوی وي.

**د بلاعوضه انتقالاتو بېلانس یا( یو اړخیز تادیات)**

د یو اړخیزه تادیاتو په بېلانس کې بلاعوضه راکړه ورکړه درج کېږي. په دې بېلانس کې هم بلاعوضه امداد راکړې ورکړې، ډالۍ او نور تادیات درج کېږي چې د اعادې مسؤلیت یې نه په حال او نه په راتلونکي کې لازمي ګڼل کېږي، نو بلاعوضه انتقالات د بېلانس د هغو ټولو امدادونو او ډالیو مجموعي ارزښت دی چې هېواد ته راوړل کېږي.

| | |
|---|---|
| د بلاعوضه انتقلاتو مجموعي ارزښت ۱۰۰ | د بلاعوضه انتقالتو د ارسال مجموعي ارزشت ۸۰<br>مازاد ۲۰ |
| ۱۰۰ | ۱۰۰ |

په دې بېلانس کې د تجارت د بېلانس په څېر ضروري نه ده چې د حقیقي موازنې په حالت کې پاتې شي یانې په دې بېلانس کې کسر یا ماذاد منځته راشي.

**د سرمایې بېلانس:**

په دې ځای کې د سرمایې له بېلانس څخه زموږ مقصد اوږدمهاله سرمایه ده، چې تر یوه کال زیات وخت نیسي. په دغه بېلانس کې له هېواد څخه خارج ته او له خارج څخه د هېواد داخل ته جاري طلبات او تعهدات شامل دی.

د پولي موسساتو د ګړندي رشد او سرمایې د مالي اهمیت له نظره لازمه ده، چې په دې بېلانس کې مندرج اقلام په ښه توګه توضح شي. یانې د مدت او نوعیت له نظره په ښه توګه توضح شي، چې په اوږد مهاله، منځمهاله او لنډ مهاله باندې و وېشل شي.

د نوعیت له مخې دغه سرمایه ګذاري د مستقیمې او غیر مستقیمې پانګې اچونې په څېر په دوو برخو وېشل کېږي

**مستقیمه سرمایه ګذاري:** دا هغه سرمایه ګذاري ده، چې سرمایه ګذار یوه ستره ونډه او کنترولوونکي موقف تر لاسه کړای شي ، په داسې حال کې چې غیر مستقیمه سرمایه ګذاري د لږ ونډې درلودلو له کبله نشي کولای په یوازې سر په تصدۍ کې د قرض د اوراقو یا ونډو اخیستلو له لارې د کنترول واک ترلاسه کړای شي.

**د لنډ مهالی سرمایې بېلانس:**

دغه بېلانس له جاري بېلانس څخه منځته راځي. ځکه که چېرته د غه بېلانس مثبت وي، پکار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چې مملکت نور لنډ مهاله اسعاري ذخاير نورو هيواونو ته صادر کړي . خو ممکنه ده چې د تادياتو د بېلانس له رعايت پرته د انتقالاتو نوعه صورت ونيسي. نو په دې اساس د هغې انګېزې له مخې چې د لند مهاله سرمايې د انتقال سبب کېږي، درې ډوله يې تشخيص کړای شو.

**الف- د عايد انګېزه:** کله چې يو خارجي سرمايه ګذار نسبت د نرخ توپير ته ، د واردوونکي هېواد د د قيمتي اسهامو په اخيستلو باندې لاس پورې کوي. د مفاد د لاسته راوړلو له نظره لنډمهاله سرمايه ګذارۍ په اوږدمهاله سرمايه ګذارۍ باندې بدلېږي.

**ب – د احتکار انګېزه:** ممکن د يوه هېواد د پيسو ارزښت له زياتېدلو د مخه واخستل شي او يا ممکن د اسهامو د قيمت د لوړوالي توقع له وخت څخه وړاندې د اسهامو د اخيستلو سبب شي.

**ج: د وېرې انګېزه:** د مثال په توګه د سياسي ثبات نشتوالی، پولي تورم، او داسې نور په ځينو هېوادونو کې د شتمنيو څښتنان دې ته وادار کولای شي، چې په لنډ وخت کې خپله شتمني بل هېواد ته ولېږدوي .

**د طلا او اسعارو بېلانس**

دغه بېلانس د تادياتو د بېلانس د کسر او مازاد د نماينده ګي کوي، ياني د اسعارو يا طلا د بېلانس دوران يا (S.D.R (Special drawing Right يا د ځانګړي اخيستني حق په کې شامل دی. که په يوه ځانګړې دوره ، مثلاً يوه کال کې د يوه هېواد اسعاري او طلايې ذخاير کم شي، دا مانا لري، چې نوموړی هېواد په خپل اصلی بېلانس کې له کسر سره مخ دی او که چېرته د يوه کال په اوږدو کې دغه ذخاير اضافه شي ، دا مانا لري چې اصلي بېلانس مثبت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شپږم څپرکي لنډيز:

په يوه معينه دوره کې يوه باندني هېواد ته د بل هېواد مجموعي تاديات ، يا له باندني هېواد څخه د هېواد داخل ته تاديات د تادياتو د بېلانس په نامه يادېږي.

په حقيقت کې دغه بېلانس د راکړې ورکړې يو اوږد فهرست دی، چې په پيسو باندي افاده کېږي. په دغه راکړه ورکړه کې طلا، اموال او خدمتونه او بلاخر ربحه او د قرضې قسطونه هم شامل دي.

د تادياتو د بېلانس سنجش له يوه يا څو هېوادونو سره د هېواد په اقتصادي اړيکو پورې اړه لري .

د يادونې وړ ده چې د تادياتو د بېلانس اجزا د تجارت له بېلانس، د سرمايې له بېلانس، د خدماتو له بېلانس، د طلا او اسعارو له بېلانس او بلاعوضه انتقالاتو له بېلانس څخه عبارت دی. د تادياتو په بېلانس کې تر ټولو مهمه برخه دتجارت له بېلانس څخه عبارت ده. د تادياتو بېلانس د درېو حالاتو لرونکي دې، که چېرته د صادراتو مجموعه د وارداتو تر مجموعې لوړه شي، نو ويل کېږي چې تجارت ماذاد بېلانس لري، او که چېرته د ورادتو مجموعي ارزښت د صادراتو تر مجموعې زيات وي ، نوويل کېږي چې تجارت د کسر په حالت کې دی؛ خو که چېر ته د صادراتو او وارداتو مجموعې ارزښت يو تر بله مساوي شي، نو ويل کېږي چې تجارت د تعادل په حالت کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شپږم څپرکي پوښتنې**

۱. د تادياتو بېلانس تعريف کړئ؟
۲. د تادياتو د بېلانس د اجزاؤ نومونه واخلئ؟
۳. د FOB په باره کې معلومات ورکړئ؟
۴. د تادياتو په بېلانس کې د معاملاتو د تثبيت معيار څه شی دی، شرحه يې کړئ؟
۵. د تجارت د بېلانس په باره کې معلومات ورکړئ؟
۶. د خدماتو بېلانس تعريف کړئ او يوه بېلګه يې وړاندې کړئ؟
۷. مساعد، غير مساعد او ماذاد بېلانسونه له مثال سره واضح کړئ؟
۸. مستقيمه او غير مستقيمه سرمايه ګذاري تعريف کړئ؟
۹. د عايد احتکار او وېرې انګېزې څه شی دي شرحه يې کړئ؟
۱۰. SDR څه شی دی، په اړه يې معلومات ورکړئ؟
۱۱. SDR څه وخت منځته راغي واضح يې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی

## د خارجي تجارت د سیاستونو وسایل او د آزاد تجارت اغېزې

**ټولیزه موخه:**
د باندني تجارت د سیاستونو او په ازاد تجارت باندې د هغه د اغېزو په هکله معلومات تر لاسه کول ددې څپرکي عمومي موخه تشکیلوي.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکی په پای کې به محصلین وکړای شي د لاندې مواردو په هکله معلومات تر لاسه کړي:

- د ډامپنګ سیاست څه شی دی؟
- د بازار ډولونه کوم دي؟
- نا محدوده ازادي څه شی ده؟
- د قېمت سیاستونه کوم دي؟
- تعرفې څه شی دي؟
- مستقیمې او غیر مستقیمې اعانې څه شی دي؟

**لومړی: د آزاد تجارت اغېزې:**

د خارجي تجارت له مهمو عواملو څخه یو هم د هېوادونو ترمنځ په ملي اقتصاد کې د تولید د شته عواملو له کمي او کیفي توپیر څخه عبارت دی. په ځینې هیوادونو کې د تولید ځینې عوامل د نورو هېوادونو په پرتله پریمانه پیدا کېږي. د کار او تخصص نړیوال وېش ایجابوي چې له پریمانه عواملو څخه زیاته استفاده وشي.

که چېرته ځو تعبیې یانې د تجارت او عواملو سوق کول د حکومت له مداخلي پرته ترسره شي، تخصص او د مهارتونو زیاتوالی ممکن په ټولو هېوادونو کې درفاهیت کچه پورته یوسي. ممکن یو هېواد د سیالۍ په نړیوال ډګر کې هغه وخت بریالی شي، چې له خپلو ارزانه عواملو څخه غوره استفاده وکړي.

په دې توګه د تولید اندازه، د استخدام فیصدي او د ژوند کچه په ټولو هېوادونو کې لوړولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، خو د عمومي رفاهيت حدود چې د کار او تخصص د وېش او تجارت له کبله ميسره ده، د ټرانسپورټ د مصارفو او د بازار د شکل له لارې تعېنږي ، ځکه چې د اجناسو قيمتونه د هېوادونو ترمنځ اقلاً د ټرانسپورټ د مصارفو په اندازه توپير لري.

نړيوال تجارتي وسايل او سياستونه:

**۱. د بازار ډولونه:**

**A: غير محدوده آزادي:** دغه عنوان د نړيوال تجارت په ډګر کې د يوه هېواد په وړاندې د هېڅ ډول موانعو د نه ايجاد کېدلو مفهوم افاده کوي او ازاد بازار د نظام مطابق په ازاد رقابت باندې اتکا کېږي. که چېرته د ټولو هېوادونو او اجناسو لپاره د ازادۍ شرايط برابر نه شول، نو په ورته صورت کې د سيمې يا اجناسو په اساس له محدود رقابتي بازار څخه بحث کېږي. له همدې کبله د اجناسو د مصرف له نظره په نړيوالو بازارونو کې د بازار د وضاحت په موخه د مولدو هيوادونو او سوداګرۍ د خونو له لوري نندارتونونه او کانفرانسونه دايرېږي تر څو بازار په ښه توګه واضح شي.

**B: د خارجي تجارت انحصارات:** دغه انحصارات معمولا د دولتونو له لوري (هغه دولتونه چې د ستر مرکزي اقتصاد لرونکي وي) موخه يې د عامه منفعت د تامين په موخه د خارجي تجارت د کنترول لپاره وضع کېږي **او** له همدې کبله د منځته راتلونکو عوايدو په واسطه د مملکت د اقتصادي ودې امکانات تامينېږي.

په نورو هېوادونو کې د قيمت د تثبيت، د وارداتي سهميو د تعين او داسې نورو په څېر د داخلي سياست وسايل په کار اچول کېږي، چې په نړيوال بازار کې د هغوی د غړو لپاره غوره برياليتوب ترلاسه کړي.

څنګه چې په نړيوال تجارت کې انحصارې کوششونه د ر قابت په اساس د تخصص د اهدافو مخالف دي، نو په دې توګه ويل کېږي چې دغه ډول انحصارات د توليد د غلطې رهبرۍ موجب ګرځي او د هېوادونو د نسبي مزيت اثرات محدودوي او د ځان بسنې د سياست په توګه يو هېواد د ازاد تجارت له رېښتينو ګټو څخه ګوښه کوي.

**۲. د قېمت سياست:** د قيمت له سياست سره په تړاو ويل کېږي، چې صادرات او واردت، د شيانو ، خدمتونو او سرمايې انتقالات په مستقيمه او غيرمستقيمه توګه د قيمت د سياست په واسطه تنظيمېږي. دغه ډول مهم سياستونه په لاندې ډول دي:

**a: تعرفې:** له هغو مبالغو څخه عبارت دي، چې د صدور يا ورود په صورت کې د دولتونو له لوري په اجناسو باندې وضع کېږي او دولت يې د اجناسو له مالکينو څخه را ټولوي.

**b: اعانه او جوايز:** د صاداراتو د تقويې په موخه له اعانې او جوايزو څخه استفاده کېږي. په دې مانا چې د صادراتي توکيو د مؤلېدينو د مصارفو يوه برخه د دولت له لوري ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا شان شونې ده چې دغه کومکونه د مالي معافیتونو، د صادراتو لپاره د دولتي تضمینونو او داسې نورو په توګه وړاندې شي.

اعانه په خپله په دوو برخو یانې (موثرې اعاني او تعهد شوې اعانې) یا مستقیمې او غیر مستقیمې اعانې په څېر دسته بندې شوی ده چې په لاندې ډول واضح کېږي:

**مؤثره اعانه:** له هغو تادیاتو څخه عبارت دي، چې اصلاً یې دولت صادروونکو ته ورکوي. په داسې حال کې چې له تعهد شوې اعانې څخه یوازې، دولت صادروونکو ته د پلور د تضمین وعده ورکوي او له صادروونکو سره د دغه ډول اعانې ژمنه کېږي چې د معاملې د طرفینو هېوادونو ترمنځ سیاسي ترینګلتیا او بې ثباتي شتون ولري.

**مستقیمه او غیر مستقیمه اعانه:** د مستقیمې اعانې په صورت کې دولت د صادروونکو د لګښتونو یوه برخه پرغاړه اخلي او صادروونکو ته ورکول کېږي، په داسې حال کې چې دغیرمستقیمې اعانې په صورت کې دولت له شرکتونو څخه د ځینې مالیاتو له اخستلو څخه تېرېږي.

**c: حمایوي پیرودنې:** د دې لپاره چې په ځایي او نړیوالو بازارونو کې دصادراتي توکیو قیمتونه کموالی ونه مومي، دولت حاضرېږي چې اجناس په یوه معین قیمت سره واخلي، لکه په امریکا کې چې غنم د دولت له لوري اخستل کېږي.

**d: د ډمپنګ سیاست:** ډمپنګ په لغت کې د قیمت ماتولو په مانا دی، چې تعریف یې په لاندې ډول وړاندې کېږي:

په باندني بازار کې تر داخلي قیمت په لږه بیه سره د شیانو پلورل د ډامپنګ په نامه یادېږي. دغه وسیله د قیمت یواختلافي سیاست دی چې موخه یې د صادراتو له تقویې او د پردیو بازارونو له اشغال څخه عبارت ده.

پدې سیاست کې له ثابتو مصارفو سره فیصدي قیمت هم جمع کېږي او په داخلي پلور باندي و ر اضافه کېږي.

له همدې کبله ویل کېږي چې ډامپنګ په باندنیو بازارونو کې تر داخلي بازارونو په کم قیمت سره دشیانو له پلورولو څخه عبارت دی.

د تصدۍ د اقتصاد له مخې ویلای شو؛ چې دغه یو معقول سیاست دی، ځکه کله چې یو شرکت له صرفه جویې څخه د استفادې له کبله د تولیداتو مقیاس زیاتوي، خو په داخلي بازار کې د ټولو تولیداتو د پلور امکان شتون ونه لري، نو غوره ده چې د خپلو تولیداتو یوه برخه په لږ قیمت سره په خارجي بازارونو کې و پلوري، چې باندنی بازار اشغال کړي او سیالانو ته ماتې ورکړي او له هغه وروسته په هغه ځای کې هم قیمت ته لوړوالی ورکړي.

خو د ملي اقتصاد له مخې ویل کېږي چې ډمپنګ په صادرونکي هېواد کې د ټولنیز تولید د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقلیل لامل ګرزي. په دې مانا چې ممکن د تولید له عامل څخه په نورو برخو کې غوره استفاده وشي. ځکه په لومړي سرکې زیاتره ډمپنګ کوونکي شرکتونه په بازارونو کې د نسبي مزیت لرونکي وي او د خپلو فروشاتو په وخت کې له اصلي تمام شد قیمت سره هم کومه ستونزه نه لري او څنګه چې دغه مشخصي تصدیاني په خارج کې په لږ قیمت سره خرڅلاو ته ادامه ورکولای شي، نو داخلي مصرف کوونکي متضرر کېږي.

**په انحصاري توګه د صادراتې اجناسو د قیمت تثبیت:** په سوسیالستي هیوادونو کې له دې روش څخه د استفادې له کبله دولت د خارجي تجارت اداره په خپله ولکه کې اخلي او د اجناسو قیمتونه معمولاً په ټیټه سطحه کې تعینوي ترڅو په دې توګه خارجې بازارونه اشغال کړي.

۳. **مقداری سیاست:** لکه څنګه چې لیدل کېږي د قیمت سیاستونه په غیر متسقیمه توګه د صادرونکو تصامیم متاثر کولای شي ، خو مقداري سیاستونه د صادراتې او وارداتې توکیو کمیت او نوعیت تثبیتوی چې مهم یې په لاندې ډول مطالعه کېږي:

**a: د صادراتو او وارداتو منبع:** له نظامي، روغتیایي او اقتصادي نظره د شیانو دصدور او ورود منبع بلل کېږي.

**b: سهمیې:** د سهمیو یا تامین د خارجي تجارت معمولي وسیله ګڼل کېږي. یانې د وارداتو د مستقیم تهدید وسیله ده. خو په هغو کې د تعرفې مقایسه زیاته ده. له همدې کبله د ممالکو ترمنځ دوه اړخیز تجارت زیات په اوج کې و، د نړیوال تجارت د قراردادونو مهمه موضوع جوړوي. اجمالي سهمیې یوازې د یوه جنس د مجموعي وارداتو مقدار تعینوي . د وارداتي مملکت انتخاب او سهمیې هر واردوونکې په رقابت کې اچوي. په داسې حال کې چې اختلافي سهمیې له واردوونکو هېوادونو څخه د وراداتو فیصدي هم تعینوي. د ورته مال د وارداتي سهمیو د تعین له لارې د وارد شویو اجناسو قیمت هم متاثرکیږي او دغه تاثیرات هغه وخت لا زیاتېږي، چې د اسعارو دکنترول له سیاست سره یو ځای شي . په بل عبارت په دې صورت کې نه یوازې دا چې له مختلفو هېوادونو څخه د مختلفو اشخاصو په واسطه د وارداتو فیصدي تثبیتېږي، بلکې په ورته حال کې د اسعارو مقدرا هم د واردوونکو په لاس کې ورکول کېږي.

**c: تجارتي جواز نامې:** د تجارتي جواز نامو ورکړه، چې د وراداتو یا صادراتو د مقدار د تنظیم په موخه مهم دي، د تجارت تر ټولو پرمختللی او له تبعیض نه ډکه وسیله ګڼل کېږي. ځکه د صادراتو او وارداتو لپاره ځانګړې جواز نامې لرل تعمیل کېږي.

**d: د صادراتو او وارداتو مقداري تثبیت:** په داسې حال کې چې د سهمیې تعین او د اجازه لیکونو ورکړه یو داسې خارجي سیاست دی چې د افرادو په تصامیمو پورې اړه لري، خو د مقداري تثبیت په سیاست کې د دولتي شعباتو له لوری د ټولو صادراتو او وارداتو مقدار او څرنګوالی تثبیتېږي. نو ویل کېږي، چې په ورته صور ت کې انفرادي جوازنامې او سهمیې بې اثره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. **اسعاري سياستونه:** هر اسعاري او پولي سياست په خارجې تجارت باندې ضمني اغيزې لري. په دې مانا چې د پولي او کريډيټي سياستونو بدلون د هېواد په داخل او خارج کې د پولي ارزښت د زياتوالي او لږوالي لامل ګرځي، په ورته صورت کې د تادياتې سيستم د تنظيم په واسطه د دولت اسعاري سياست کولای شي په غوره توګه د هېواد خارجي سياست تنظيم او رهبري کړي . دغه ډول سياستونه په لاندې ډول مطالعه کېږي:

**a: د پولي تورم يا پولي انقباض سياست يا (انفلاسيون او ريفلاسيون):** لکه څنګه چې په داخل کی د مزد او قيمت دتغير له امله په ورته وخت کې صادرات او واردات هم متاثر کېږي، يانې کله چې د پولي انقباض سياست تر لاس لاندې وي، نو د اجناسو قيمت او د مزد نرخ کمېږي او واردات کميږي او صادارت اضافه کېږي، خو د پولي تورم په صورت کې حالت دغه معکوسه بڼه اختياروي.

**b: د تبادلې د نرخ سياست:** پدې صورت کې د پورتني سياست په خلاف د اسعارو په مقابل کې د پيسو داخلي ارزښت ته تغير ورکول کېږي او د ارزښي تنزيل په صورت کې صادرات اضافه کېږي او واردات کمېږي. برعکس د ارزښت د زياتوالي پرمهال صادرات کمېږي او ورادات اضافه کېږي. په ورته صورت کې د اسعارو په يوه کنترول اقتصاد کې د هېواد او مختلفو اجناسو لپاره د تبادلې د نرخ اختلافي سياست د تطبيق امکان هم موجود دی. په دې صورت کې بايد د تبادلې ګڼ نرخونه مطالعه شي.

**c: د اسعارو کنترول :** په دې حالت کې د تادياتو د بېلانس تعادل د تجارت له انحصار او اسعاري معاملاتو سره شونی کېږي. ځکه اسعار، د تبادلې نرخ او تجارت د دولت په اختيار کې وي چې ټولي برخې يې د تادياتو د متعادل بېلانس د شرايطو مطابق د دولتي اداراتو له لوري تعين او تثبيتېږي. پدې سيستم کې د اسعارو ورکړه د معينو اجناسو د وارداتو لپاره ترسره کېږي او وارداتې اجناس د هغوی د اهميت له نظره په اقتصاد کې وېشل کېږي.

دخدماتي او سرمايوي معاملاتو په ساحه کې د اسعارو د کنترول موفقيت، نسبت د شيانو تجارتي معاملاتو ته زيات دی، ځکه په تجارتي معاملاتو کې د قاچاقو امکانات زيات دي.

۵. **تجارتي قرار دادونه:** په تجارت کې د طرفينو ترمنځ د ستونزو د له منځه وړلو په موخه تجارتي قراردادونه د يوې غوره وسيلې په توګه پيژندل کېږي. پدغو قراردادونو کې د دواړو لوريو قدرت او ځواک د معاملې لپاره د هغوی اړتيا او د قرارداد څرنګوالی تعينيوي. د ډول او شکل له مخې تجارتي قرار دادونه پردوو برخو ويشل شويدي.

**a: کلاسيک تجارتي قراردادونه (څو اړخيز):** په ورته ډول قرار دادونو کې د هر هېواد او واردونکي پر وړاندې يو ډول چلند کېږي. د مثال په توګه د ټولو واردونکو لپاره د تعرفې يو ډول نرخ تعينيږي او له کمترين تجارتي محدوديت (تر ټولو ښکته ګمرکي تعرفې) څخه استفاده کېږي. په دغو قراردادونو کې د تعرفې د تعين، د نماينده ګيو د تاسيس، بيمې، د مالياتو د صدور د تعين

(c) ketabton.com: The Digital Library

او داسې نورو په څير موضوعات درج کېږي او اوږد مهاله ( حد اقل 15 کاله) وي.

b: **ميرکانتليستي نيو تجارتي قرار دادونه (دوه اړخيز ):** دغه ډول قرارداد د نړيوال بحران او د کلاسيکو د آ زاد تجارت له عقايدو څخه د ګرزيدلو له اثره منځته راغلي دي. په دغو قراردادونو کې د مساوي شرايطو د اعطاپه ځای ټولو ته د بالمثل چلند ته ځای ورکړل شويدی او د معاملې د لوريو هېوادونو ترمنځ تبعيض موجود دی او له همدې امله پدې سيستم کې د G.A.T.T معيارات حتمي نه و، بلکې هر هېواد بايد د خپل ځان لپاره يو تجارتي دريځ خپل کړي واى چې په هغه کې د هغوی د قسمي خود کفايې له هڅو سره د اسعارو کنترول ته هم ځای ورکړل شويدی.

ځينې خلک دوه اړخيزتجارتي قراردونه د غير پولي يا غير جبراني يا تصفيوي قراردادونو په نامه هم يادوي. په دغه دوه اړخيز يا دو جانبه تجارت کې بارتري او لنډ مهاله قراردادونه شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اووم څپرکي دمطالبولنډيز:**

لکه څنګه چې ليدل کېږي د خارجي تجارت د سياستونو وسايل او د ازاد تجارت اثرات د خارجي تجارت تر ټولو مهم عوامل دي. د دې فصل په اوږدو کې د بازار د ډولونو موضوعات، د قيمت سياست، انحصارات، تعرفه، اعانه او جوايز، د اعانې ډولونه، حمايو ي خريداري، دډمپنګ سياست، د دې سياست په برخه کې د ملي او تصدې اقتصادونو نظريات، په انحصاري توګه د صادراتي او وارداتي اجناسو تثبيت، مقداري سياستونه، د صادراتو او وارداتو منع کېدل او د هغوی په ځای د صادراتو ځای ناستی کېدل، تجارت سهميې او اجازه ليکونه، د صادارتو او وارداتو ثبت کېدل او له هغوی څخه داستفادې ډول، انفلاسيون او ډيفلاسيون، د هغوی د منځته راتلو علتونه او د هغوی د مهار کېدلو لارې چارې، دتبادلې نرخ او د اسعارو کنترول، تجارتي او کلاسيکي قراردادونه او داسې نور موضوعات په لنډه توګه مطالعه شول.

په ځينې اقتصادونو کې يو لړ عوامل د نورو هېوادونو په پرتله په پرېمانه توګه موندل کېږي. تخصص او د کار نړيوال وېش دا ايجابوي تر څو له پريمانه عواملو څخه په زياته کچه استفاده وشي. يوه بله موضوع چې د يادونې وړ ده، لدې څخه عبارت ده چې G.A.T.T په 1995 ام ميلادي کال کې خپل ځای W.T.O يا د سوداګرۍ نړيوال سازمان ته پريښود، او لامل يې دا و، چې ګاټ د سوداګرۍ يو نړيوال موقتی سازمان و، او يوازې د شيانو يا اجناسو تجارت يې په بر کې نيوه، پداسې حال کې چې د تجارت نړيوال سازمان د اجناسو تر څنګ د خدمتونو او د فکري مالکيت د حقوقو تجارت هم په بر کې نيسي او د نړيوال تجارت د يوه سازمان په توګه منځته راغلی او دځانګړو اصولو لرونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اوم څپرکي پوښتنې:**

۱. دباندنۍ سوداګرۍ په هکله معلومات ورکړئ؟
۲. د نړیوال تجارت وسایل کوم دي، شرحه یې کړئ؟
۳. د ازادې سوداګرۍ اثرات بیان کړئ؟
۴. تعرفه تعریف کړئ؟
۵. اعانه او جوایز څه شی دي؟
۶. موثره اعانه تعریف کړئ او له مثال سره یې واضیح کړئ؟
۷. متسقیمه او غیر مستقیمه اعانه تعریف کړئ؟
۸. د Dumping دسیاست په اړه معلومات ورکړئ؟
۹. د تجارتي اجازه لیکونو د ډولونو په اړه معلومات ورکړئ؟
۱۰. سهمیه څه شی ده تعریف یې کړئ او له مثال سره یې واضیح کړئ؟
۱۱. انفلاسیون او ډیفلاسیون څه شي دي؟
۱۲. د اسعارو کنترول څه شی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم څپرکې

## د وارداتو د تعویض تجارتي سیاست

**ټولیزه موخه**

پدې څپرکې کې د وراداتو د تعویض په اساس د صنعتي انکشاف دلایل وړاندي کېږي.

**د زده کړې موخې:** د دغه فصل محصلینو ته د لاندې موضوعاتو د زده کړې زمینه برابروي

- د تادیاتو د ستونزو له منځه وړل
- د عاید تدریجي وده او د معقول انکشافي سیاست تعقیب.
- د نفوس له زیاتوالي سره په موازي توګه د کامل استخدام زیاتوالی
- دمفاد او اقتصادي انکشاف زیاتوالی

په زیاتره مخ پرودې هېوادونو کې د صنعتي انکشاف لپاره هڅې روانې دي. د دغو هڅو له لړ څخه یوه هم د وارداتو د تعویض له لارې د صنعتي انکشاف له ودې څخه عبارت ده. د صنعتي مصرفي اجناسو لپاره د بازار شتون یې د دلیل په توګه وړاندې کېږي. داسې فکر کېږي چې که چیرته د ځینو اجناسو واردات کنترول شي، داخلي تولید یې ځای ډکولای شي چې له کبله یې په ضمن کې ملي عاید او استخدام اضافه کیدلای شي. د صنایع ارتباطي اثرات د صنعت د خصوصي سکتور د پراختیا لامل ګڼل کېږي.

د تجارت دوارداتو دتعویض د سیاست په برخه کې د ورته انکشافي سیاست دموفقیت د شرایطو ، مشکلاتو او د وارداتو له تعویضې انکشاف بحث کېږي.

**اول: د وارداتو د تعویض په اساس د صنعتي انکشاف دلایل:**

۱. زیاتره مخ پر ودې هېوادونه عقیده لري چې اقتصادي او صنتعي انکشاف یو د بل په تعادل کې قرار لري. دغه عقیده د ورځنیو پر مخ تللیو اقتصادي ممالکو له تاریخ څخه استنباط شویده او په زیاتره حالاتو کې د کرنې شغل د یوه کم ارزښته شغل په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلقي کېږي او دا  چې د دنن ورځې زیاتره پرمخ تللي هیوادونه د هغوی د کرنې په پرمختګ کې له  پرمختللیو هېوادونو سره تړلي دي، له پامه غورزول کېږي.  لکه کاناډا، استرالیا، نیوزیلنډ، ډنمارک او داسې نور.

دغوممالکو د وارداتو د تعویض په پیل کې د نیم کاره وارداتي اجناسو په بسته کارۍ لاس پورې کړ او دغه ډول کار تمام محصول دملي افتخار په توګه پیژني. ځیني وخت لیدل کېږي چې د نیم کاره اجناسو واردات او په داخل کې د هغوی بسته کاري، نظر د کار تمامه تولید ته قیمته تماميږي، خو توقع کېږي چې د داخلي بازار له اشغال سره د تولیداتو توسعه  په اقتصاد کې ارتباطي اثرات منځته راوړي  او د نیم کاره اجناسو ، تولیدي صنایعو او ټولو اړوند صنایعو د انکشاف سبب ګرزي. دا خبره پر ځای ده چې په مخ په وده هېوادونو کې د مصرفي اجناسو لپاره تقاضا شتون لري، خو د ورته اجناسو د تولید زیاتوالی د سرمایې، ماهره ګارګرانو، غوره تکنالوژي او داسې نورو مستلزم دي. معمولاً مخ په وده هېوادونه د دا ډول عواملو لېږ مقدار په خپل اختیار کې لري له همدې کبله د هغوی صنعتي انکشاف په هره مرحله کې له ستونزو سره مخامخ کېږي.

۲. په مخ په وده هېوادونو کې د وارداتو د تعویض او صنعتي انکشاف لپاره دویم دلیل دا دی چې په دغو هېوادونو کې دصادراتو لپاره تقاضا د هغوی د وارداتو په پرتله ګړندۍ ده او له همدې کبله ویل کېږي چې نوموړي هیوادونه د دغو دواړو د تعادل لپاره د وارداتو یوه برخه کموي. کله چې د یوه وارداتي جنس لپاره تقاضا د عاید په اساس لېږ ارتجاعي وي، نو بیا باید هغه جنس په داخل کې تولید شي.

له همدې کبله د وارداتو د تعویض سیاست د دا ډول اجناسو په برخه کې پر ځای دی. دغه ډول ادعاد غذایي موادو او خامو موادو د وارداتو په برخه کې هم صدق کوي. باید په یاد ولرو چې د هر جنس او هر هېواد په مورد کی د قسمي مطالعاتو د نشتوالي په صورت کې یوازې د مخ پر وده هېوادونو ضعیف صادراتي موقیعت د وارداتو  د تعویض په اساس د صنعتي انکشاف یوازنی دلیل نشی کیدلای. له بل لوري د یوه وروسته پاتې هېواد وارداتې ظرفیت د هغه جنس د صنعتي کېدلو لپاره یوازې د هغوی په صادراتي در آمد پورې تړاو نلري، بلکې د غه ضرفیت د سرمایې، انتقالاتو، بلاعوضه کمکونو او داسي نوروپه څیر د نورو عواملو تابع دی.

۳. په صادراتو باندي د وارداتو د تعویض هڅه هیڅکله هم بې اثره نده. ځکه له یوه لوري حمایوي روش د پرمختللیو هیوادونو د صادراتو د تقلیل سبب کیدی شي او له بل لوري د هغوی د وارداتو تقلیل د پرمخ تللیو  هیوادونو د صادراتو د تقلیل سبب کېږي او د مخ په وده هیوادونو په صادراتو کې تقلیل لدې رهګذز څخه واقع کیدلای شي چې د هغوی لږ سرمایوي منابع او ماهر کارګران ممکن د صادراتو له سکتور څخه وایستل شي او د وارداتو تعویضي سکتور ته چې مورد حمایه ده او عاید پکې لوړ دي، انتقال کړي.

۴. د وارداتو د  تعویض  بل دلیل په غیر کرنیزو رشتو کې د استخدام په زیاتوالي باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

متکي دی. پدې احصايه کې ويل کېږی چې صنعتي انکشاف لدې کبله اړين دی چې د استخدام انکشاف د کاري قوې لپاره عاطل پيدا کوي او د تکنالوژی انکشاف هم په کرنه کی د کار قوی عاطلي او بيکاري زياته کړي او له همدې کبله بايد صنايعو ته انکشاف ورکړل شي تر څو استخدم اضافه شي. البته د استخدام ستونزه د مخ په وده هيوادونو يوه مهمه ستونزه ګڼل کېږي. خو د تعويضې وارداتو حمايه شويو صنايعو ته د سرمايې د سوق معقوليت د پوښتنې وړ دی. له همدې کبله په انکشافي سياستونو کې بايد خرڅ ته زياته پاملرنه وشي او تر لاسه کړي چې د وارداتو د تعويض حمايوي سياست د صادراتو د سکتور دزيات انکشاف په پرتله بيکاري تر کومه حده کمولای شي. د دغو هېوادونو دکرهنې په سکتور کې د بيکاره قواؤ موجوديت له ټيټ مولديت څخه منځته راځي. په کرهنه کې د کار د مولديت د زياتوالي چاره د سرمايې د تشکيل زياتوالی دی، البته په کرهنه کې د کار اضافي قوه د سرمايې د تشکيل د زياتوالي غوره منبع ده، خو بايد فکر وشي چې لدې منبع څخه په کوم سکتور کې غوره استفاده کېدلای شي.

۵. د وارداتو د تعويض لپاره بل مهم دليل د تربيوي تعرفو له وضع کېدلو اود نوي تاسيس لپاره د باندنۍ پانګې له جلبولو څخه عبارت دي، البته د غه تعرفې موقتې دي. پدې ځای کې د داخلي او خارجې حرفه جويې د ايجاد په موخه د دولت مداخله مجاز ده. کله چې د صنعتي انکشاف په اوايلو کې دغه ډول صرفه جويې شتون نلري، نو نوي تاسيس شوي صنايع له ستونزو سره مخ وي. دهغوی حمايه لازېمي ده ، په داسې حال کې چې ټولنه د لوړو قيمتونو له پرداخت څخه متضرر هـ کېږي خو په راتلونکي کې د توليد دمصارفو د تقليل په موخه د دا ډول خسارې قبليدل په ځای خبره ده. د نوزاده صنايعو په دوره کې بايد احتياط وشي چې اکثره خارجې مولدين هڅه کوي تر څو د خپل توليد د شعباتو او نماينداګيو له تاسيس سره مستقيماً د مملکت له داخلي بازار څخه له موانعو پرته استفاده کوي. پدې توګه د نوزاده صنايعو د بازار سهم محدودوي

**د وارداتو د تعويض لپاره په پورتنيو دلايلو برسېره يو لړ نور هم د يادولو وړ دي:**

- د تادياتو د بېلانس د ستونزی له منځه وړل.
- د جنګ او بحران په وختونو کې د اقتصادي تړاو له ويرې له منځه وړل.
- د عايد تدريجي وده او د معقول انکشافي سياست تعقيب

**د ملګرو ملتونو سازمان د وارداتو د تعويض لپاره پورتني دلايل په لاندې توګه خلاصه کوي:**

- د نفوس زياتوالی موافق د استخدام زياتوالی.
- له وابستګی څخه د ازادي د سياست تعقيب.
- د اقتصادي انکشاف له کبله د مفاد زياتوالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سربېره پردې پدې وروستيو کلونو کې ځينې مخ په وده هېوادونو چې د وراداتو د تعويض سياست يې غوره کړيدی، لکه هندوستان، پاکستان، فلپاين، افريقايې هيوادونه او د لاتنيې امريکا هېوادونه، دغه سياست د يوې ښې انکشافي وسيلې په توګه توصيفوي . البته په دې برخه کې يې ستونزې هم درلودې چې مهمې يې په دويمه برخه کې په لاندې ډول تشريح کېږي:

**دوهم: د وارداتو د تعويض د انکشافي سياست ستونزې**

د اقتصاد د علم ځينې علماء عقيده لري چې که څه هم په خپل پيل کې موفق وي، خو د مصرفي وارداتو د تعويض لپاره اقتصادي ساختمان ته په داسې ډول تغير ورکول کېږي چې پخپله دغه ساختمان د نيم کاره موادو او سرمايوي وسايلو د وراداتو د تعويض په انکشافي لاره کې موانع ايجاد نکړي. دغه مسايل لاندې موضوعات په بر کې نيسي:

۱. **اقتصادي کفايت:** د وارداتو تحديد چې د صادراتو د تحديد سبب هم ګرزي، شايد د اسعارو د کنټرول سبب هم وګرزي. د اسعارو قيمت په ټيټ نرخ کې تعينېږي او په دې توګه اسعار لا هم صادرات کموي. پدې توګه اسعار يوازې د وارداتو د تحديد له طريقه صادراتې عايد په کموالي سره جبران کوي . په اقتصادکې يې واقعې پايله د توليد د عواملو د نا مناسبې رهبرۍ او اقتصادي کفايت تقليل دی. چون د نيم کاره سرمايوي اجناسو او د ځينې خامو موادو توليد د هېواد په داخل کې نشته، نو ځکه خو داسعارو زياته اړتيا ليدل کېږي. په دې صورت کی د توليد عوامل له صادراتي صنايعو څخه چې په نړيوال بازار کې مولد تر او د رقابت د زيات قدرت لرونکي دي، خارجېږي او په حمايوي صنايعو کې انتفاليږي. چون تعرفه يوازې يو جنس يا يو محدود تعداد اجناس حمايه کولای شي، نو پدې توګه يو ناقص يا نيمګړې اقتصادي ساختمان منځته راوړي

۲. **تخنيکي بې کفايتي:** حمايوي سياست، حمايه شويو صنايعو ته د انحصاري شبکې بڼه ورکوي. د تخنيکي اصلاحاتو زوق کموي، ځکه د متصديانو مفاد د تعرفې له لارې مصؤن شويدی. په ورته توګه که چيرته د سرمايې د تشکيل په لاره کې د متصديانو مفاد په کار ولويږي ، بيا هم ممکن په نورو رشتو کې سرمايه ګذاري شي، خو دغه حالات عمومي قاعده نشي کيدلای ځکه په انکشافي هېواد کې سياسي عدم استقرار عام شکل لري او متصديان هڅه کوي تر څو په ګړندۍ توګه خپل مفاد د سرمايه ګذاري په ځای کوم بل مصؤن ځای ته وليږدوي.

۳. **د پس انداز( تشه ) خلا:** د تصدي د تاسيس په باره کې د مخ په وده هيوادونو بله ستونزه د سرمايې له قلت څخه عبارت ده. دا سرمايه هغه مهال زياتيدلای شي چې د داخلي پس اندزا امکانات ميسر وي او يا خارجي پس انداز د صادراتو له زياتوالي څخه منځته راغلی وي. خو که چيرته د وارداتو تحديد د صادراتو د کچې د تقليل سبب

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګرزي، نو له خارجي منابعو څخه د سرمايې د تشکيل امکانات کمېږي. په دې برسيره پر مختللي هېوادونه په هغو رشتو کې له سرمايه ګذارۍ سره علاقه لري، چې هغوی په خپله دغو اجناسو ته اړتيا ولري (يعنی خام مواد). نو د خارجي سرمايې جلب د تعويضي وارداتو د صنايعو لپاره وړاندې کوي.

۴. **محدود بازار او لېږ عايد:** د مخ په وده هېوادونو بازارونه معمولاً کوچني وي، له همدې کبله د کتلوي توليد لپاره چندان مساعد نه ګڼل کېږي. په ورته هېوادونو کې د خلکو د رانيولو قدرت او عايد هم لېږ وي، له همدې کبله د توليد مقدار مطلوب ظرفيت ته نشي رسيدلای. کوچني بازارونه د عايد په کموالي برسيره د نفوس لږ شمېر لري. د مثال په توګه د يوڅلويښت افريقايي هېوادونو له جملې څخه يو ديرش يې تر 10 ميليونه لېږ نفوس لري ، چې هغه هم په تيت او پرک ډول پراته وي.

۵. **له وارداتي تعرفو څخه طرفداري:** څنګه چې دولتونه د وارداتي تعرفو له درکه ښه او اسانه درآمد لري، په ځينو هېوادونو کې د دولتونو تر 40% هم زيات عايد تشکيلوي، نو په همدې اساس دولتونه د ورته تعرفو له وضعيت څخه طرفداري کوي.

۶. **د نيـــم کاره موادو توليد او بې تعرفې خام مواد:** په ځينو هغو مخ پر وده هېوادونو کې چې د وارداتو د تعويض سياست په مخ بيايي، د نيم کاره او بې تعرفې خامو موادو وارداتو ته ادامه ورکوي تر څو د داخل تمام شد قيمت اوچت نشي ، خو په زياتره حالاتو کې د وارداتي تعويض شوي جنس وارېدېدل په مراتبو په داخل کې د توليد شوي جنس په پرتله ارزانه پريوزي. د مثال په توګه په سعودي عربستان کې د يو من غنمو توليد د ورته مقدرا وارداتي غنمو په پرتله څو چنده قيمته تماميږي.

۷. **د حکومت په انکشافي او اجتماعي سياست کې عدم وضاحت:** کله چې د حکومت انکشافي سياستونه واضيح او څرګند نه وي، نو سياستي عدم استقرار انکشافي اهدافو ته مبهمه او نا څرګنده بڼه ورکوي. د هغه تر څنګ د حکومت انکشافي سياستونه د ټولنې د فرصتي مصارفو په پرتله د کار قيمت زياتوي چې د کار او سرمايې د غلطې او ناسمې رهبرۍ لامل ګرزي.

**دريم: د وارداتو د تعويض د سياست د بريالیتوب شرايط**

پکار ده چې دانکشافي سياست په توګه د وارداتو تعويض بايد له هغو اجناسو څخه پيل شي، چــې په داخــل کې ورته تقاضا شــتون ولري او د مــلي اقتصاد د عواملو له تجهيز سره موافق وي، د توليــد تخنيــک د ملي اقتصاد له څـــواک سره تطابق ولري، نيم کاره خام مواد په داخل کې تيار شي او بلاخره پرمختـــللي هېـــوادونه خپل تجارتي سياســـتـــونه سره د دغه انکشـــاف په لاره کې خنـــډونه ايجاد نکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا جمله د ورته سياست د موفقيت شرايط او امكانات په لنډه توګه په ځان کې را نغاړي چې ددغو مطلوبه شرايطو تفصيلات په لاندې ډول واضيح کېږي.

۱. **د بازار د تقاضا رعايت:** د بازار د تقاضا رعايت دا معنا لري چې بايد تربحث لاندې اجناس د عمومي تقاضا په يوه لوري کې ځاى ولري او دغه اجناس له هغو ضروري اجناسو څخه عبارت دى چې د هغوى لپاره تقاضا نسبتاً ارتجاعي وي، لکه غذا، لباس او داسې نور.

پوهيږو چې په مخ په وده اقتصادونو کې د عايد يوه زياته برخه په غذايي موادو باندې مصرفيږي ، ځنګه چې د هغوى لپاره تقاضا نسبتاً ليږ ارتجاعې ده، له همدې کبله د عايد له زياتوالي سره د اضافه شوي عايد ليږه برخه د دغو مصرف شويو اجناسو لپاره تقاضا اضافه کوي چې دغه حالت د هغو اجناسو د صنايعو د انکشاف سبب هم ګرزي. پدا سې حال کې چې په پر مخ تلليو هېوادونو کې د عايد 1/5 برخې څخه کمه برخه يې په غذايې موادو باندې مصرفيږي، له همدى کبله هغه بهترينه نقطه چې له هغې څخه دوراداتو تعويض پيل کيږي، د غذايې موادو له سکتور څخه عبارت دى.

همدا شان په کم عايده طبقو کې نژدې 10% عايد په لباس باندې مصرفيږي ، همدغه لامل دى چې زياتره مخ په وده هيوادونه د غذايې موادو او منسوجاتو وارداتو ته محتاج دي.

التبه د تعرفې له لارې د ارزانه وارداتو په مقابل کې د غذايي موادو د سکتور حمايه په داخل کې د دغو موادو قيمت اضافه کوي او شايد زيات نفوس له هغه څخه متضرر شي، له همدې کبله د تعرفې په ځاى له اعانو څخه چې د غذايي موادو د قيمت د ټيټوالي لامل ګرزي، طرفداري کوي. خو داعاني له طريقه د غذايي موادو د قېمت کموالى بزګر متضرر کوي او د ورته توکيو د توليد ذوق کموي چې د کرهنې د وروسته پاتې والي سبب ګرزي.

متاسفانه د پرمختلليو هېوادونو بزګر چې په مستقيمه توګه (يعنې تر بازار هم په لوړ قيمت سره د هغوى د دولتونو له لوري په نغدو پيسو باندې د هغوى د محصولاتو پيرودل) حمايه کېږي. دغه محصولات وروسته پاتې هېوادونو ته په لږ قيمت يا رايګان توګه صادروي چې دغه چلند د نورو عواملو تر څنګ په دغه هېواد کې د کرهنې سکتور له ټمبلتيا سره مخ کوي.

په ورته وخت کې له پر مختلليو هېوادونو سره د نوموړو هېوادونو تړاو يا وابستګي اضافه کېږي او د دې ويره را منځته کوي چې د سياسي بحرانونو په وخت کې له دغه تړاو څخه د يوې سياسي وسيلې په توګه کار واخستل شي. د مثال په توګه په افغانستان باندې د شوروي د حملې په وخت کې امريکا موقتاً له دغې مقابلې وسيلې څخه کار واخيست. د وارداتو د تعويض په سکتور کې سرمايه ګذاري چې په مترقي هېوادونو کی د نفوس او استخدام له پلوه تر ټولو غټ سکتور دى، له همدې کبله هم دا طرفداري کېږي چې پدې سرمايه ګذاري او د هغې له تکاملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثراتو سره په دغو هېوادونو کې انکشافي امکانات برابر شي.

۲. **د لاملونو تجهيز (دلاملونو جنسيت او مقدار):** د نسبي مزيت د مفهوم له مطالعې څخه پوهيږو چې که په نړۍ که هر ملي اقتصاد له هغو اجناسو څخه استفاده وکړي چې د توليد عوامل يې په هېواد کې په زياته کچه پيدا کېږي، په پايله کې يې د توليداتو تمام شد قيمت کمیږي او له نورو هيوادونو سره يې تجارت پراختيا مومي او دغه اقدام يې د نړيوال رفاهيت لامل گرزي. له سکتور سره په تړاو دغه قاعده دا معنا لري چې که يو هېواد خپلې انکشافي هڅې هغه سکتورته متوجه کړي چې د توليد له خپلو پريمانه عواملو څخه پکې استفاده کوي، د هغو اړوند امکانات په موثره توگه زياتیږي او په هغه سکتور کې د سرمايه گذاريو له تکاملي اثراتو او انکشافي امکاناتو تر څنگ د ملي اقتصاد په نورو سکتورنو کې د عايد او استخدام د زياتوالي زمينه برابروي.

۳. **له داخل څخه د نيم کاره او خامو موادو سهميه:** وروسته پاتې هېوادونه بايد يوازې د بسته کار و اجناسو د تصديو په ساختار پورې خپل کارونه محدود کړي. په زياتره ممالکو کې پرزه جات له نورو هېوادونو څخه راوړل کېږي او په داخل کې بسته بندي کېږي. دغه عمليه د ملي پرستيژ د علامې په توگه تلقي کېږي او نمايش ته ښودل کېږي. په ورته حال کې که چيرته په داخل کې د نيم کاره اجناسو يا پرزه جاتو د توليد لپاره اقدامات صورت و نه نيسي، او مملکت د تل لپاره د ورته ډول وارداتو لپاره محتاج پاتې شي او د وراداتو د تعويض مفاد نا چيزه وي، په کار ده چې د تعويضې وراداتو په صنايعو کې له خامو داخلي موادو څخه د شونتيا تر بريده استفاده وشي. حتی که دغه استفاده د موادو د تقليل سبب هم شي.ملي اقتصاد ته د اسعارو د صرفه جويې او په راتلونکي کې د تادياتو د بېلانس د ستونزې د حل کيدلو له ناحيې څخه نفع زياته ده. د مثال په توگه د سون د موادو په بڼه يا د کمياوي سرې د توليد په موخه په افغانستان کې له طبيعې گاز څخه استفاده کول څرگندوي چې د گازو صادرات را کم کړي ، خو په اوږده مهال کې د سون د موادوپه توگه د لرگيو له سوځولو څخه مخنيوی، د کرهڼې تقويه او د کرهڼيزو حاصلاتو د زياتوالي گټې ممکن تر هغه زياتې وي چې افغانستان يې روسيې ته د طبعې گازو د صدور له درکه تر لاسه کوي. همدا شان کولای شو له طبيعې گاز څخه د بريښنا د انرژي په برخه کې استفاده وکړو، چې بريښنا په خپل ځای کې د نورو صنايعو تشويقوونکي ده. د وارداتو تعويض يا د صادارتو په موخه په نيم کاره يا کار تمامه موادو باندې د خامو داخلي موادو بدلون له تعويضي صنايعو څخه صادراتي صنايعو ته دبدلون يا انتقال امکان برابروي. ځکه بيا هم د صنايعو تر منځ قوي ارتباطي اثرات منځته راځي. ممکن ځينې صنايع پيدا شي چې د نورو صنايعو توليد ، د کار امد

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا ملړنیو موادو په توګه و کاروي.

د مثال په توګه په افغانستان کې د بوټ ګنډلو فابریکه چې چرم له خارج څخه واردوي، په داسې حال کې چې پوستکي په ارزانه قیمت عرضه کېږي. که چیرته د چرمګري فابریکه تاسیس شي، په اسانۍ سره د بوټ ګنډلو د صنایعو د انکشاف امکانات مساعدېږي او دباغې صنایعو د تامین وسیله ګرزي. په څنګ کې ممکن د حیواناتو د تربیې او د هغوی ذبح او پوست کولو لپاره هم ښه موجبات میسر شي.

د دباغې یعني بوټ ګنډلو او داسې نورو لپاره دسامان الاتو د تولید په څېر د نورو صنایعو منځته راتګ هغه بیلګې دي چې د بوټ ګنډلو له صنایعو سره اړیکه لري.

بلاخره د ترانسپورټ صنایع، عمده او پرچون تجارت ته رونق ور ښښي او شاید په راتلونکي د بوټ دوزي له صنایعو سره د صادراتو امکانات زیات شي.

۴. **د صرفه جوئی رعایت:** لکه څنګه چې تر اوسه پورې په مخ په وده هېوادونو کې صرفه جویې نه ده پیدا شوې، نو د نوزاده صنایعو انکشاف او حمایه ممکن په راتلونکي کې دا ډول صرفه جویې منځته راوړي. پدې برسیره باید داسې صنایع انتخاب شي چې د صنایعو په انکشاف کې مثبت خارجي اثر ولري او د مکمله صنایعو د تاسیس تشویقوونکي و اوسي. د صنایعو نمایشي اثرات په ځانګړې توګه د ټولنیز ذهنیت د بدلون لامل ګرزي، د خلکو نا امیدي په امید بدلوي او په خپل ځان باندې د ویسا او ډاډ احساس پنځوي.

۵. **د تادیاتو بېلانس:** دا چې د هېواد په داخل کې کومو صنایعو ته د بازار د تقاضا د ودې امکانات شتون لري، د یوه هېواد د تادیاتو د بېلانس له مخې خاصتاً د تجارت د بېلانس له مخې په اسانۍ سره پیدا کیدلای شي. د تجارت بېلانس په هر هېواد کې د صاداراتو او وارداتو وضاحت په تفصیل سره بیانوي، له همدې کبله باید تشریحې احصایې او د غوره توضیحاتو لپاره ښه زمینه برابره شي، ترڅو مهم وارداتي اقلام و پیژندل شي.

۶. **د نړۍ د پر مخ تللیو هېوادونو امادګي او د هغوی په واسطه د موانعو عدم ایجاد:** موړد نړیوال تجارت د سیاستونو له مطالعې څخه پوهیږو چې د پر مختللیو هیوادونو په واک کې مختلف وسایل شتون لري او کولای شي د مخ پر وده هېوادونو په وړاندې هر ډول موانع ایجاد کړي. د هغوی په لاس کې له تعرفو او داسې نورو څخه ها خوا نور غیر تعرفې وسایل هم شته چې کولای شي د مخ پر وده هیوادونو تجارتي انکشاف او د وارداتو د تعویض سیاست له خنډ سره مخ کړي. د مثال په توګه د ډامپنګ له سیاست، د تجارت له تبعیضې سیاست، د اعانې په واسطه د داخلي اقتصاد حمایه، جوایز، حکومتي خریداري چې وروسته مخ په وده هېوادونو ته په کم قیمت یا وړیا توګه ورکول کېږي، او داسې نور په مخ په وده هېوادونو کې د وارداتو د تعویض د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاست د موفقیت امکانات له ستونزو سره مخ کولای شي. پدې مورد کې پکار ده چې نړیوال توافقات صورت و نیسي. په ورته وخت کې ممکن ګڼ ملتیزه شرکتونه یا Multi National Companies , MNCs له تعرفوي موانعو څخه د تیښتې په مقصد وغواړي په دغو هېوادونو کې شعبات تاسیس کړي او له ناچیزه رقابت په ترځ کې د وارداتې تعویض نویو زیږیدلو شرکتونو ته ماتې ورکړي. حتی پدې برخه کې یو لړ مثالونه شته چې ګڼ ملتیزو شرکتونو د واردتې تعویض اینده لرونکي او موفق شرکتونه په یو مخیز ډول د اخلي او پدې توګه داخلي بازار اشغالوي او دغه تولیدات هم د خپلو تولیداتو د اقلامو په لست کې شاملوي.

**د اتم څپرکې د مطالبو لنډیز:**

د دریمې نړۍ یا مخ پر وده هېوادونو د صنعتي انکشاف لپاره تودې هڅې روانې دي چې مهم ډول یې د وارداتو د تعویض له طریقې څخه عبارت دی. داسې تصور کېږي چې که چېرته د ځینې اجناسو واردات کنترول شي، داخلي تولیدات د وارداتو ځای ناستې کیدی شي، ملي عاید او استخدام اضافه کېږي، د صنایعو ارتباطي اثرات د صنعت دخصوصي سکتور د پراختیا لامل ګرزي. په لنډه توګه ویلای شو چې پدې فصل کې د وارداتو د تعویض تجارتي سیاست د ورته انکشافي سیاست ځینې دلایل د هغه د موفقانه شرایطو او ستونزو څخه یادونه وشوه خو عقیده پدې ده چې اقتصادي او صنعتي انکشاف یو له بل سره معادل دي.

دغه عقیده د ورځنیو پر مخ تللیو هیوادونو له اقتصادي تاریخ څخه استنباط شویده او په زیاتره حالاتو کې د کرهنې شغلې او سکتور د یوه بې اهمیته سکتور او شغل په توګه تلقي شویدی.

له تېرو پنځوسو کلونو راهیسې مخ پر وده هېوادونه د نړۍ له غني هېوادونو څخه قرضونه اخلي چې اوس د هغو قرضونو د اصل او سود د مجراینې ځواک نلري او دلیل یې پدې کې پیدا کېږي چې د دغو هېوادونو زیاتره برخه په وارداتو کې تخصص لري چې د وارداتو له درکه ترلاسه کیدونکي عاید د قرضونو لپاره بسنه نکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اتم څپرکي پوښتنې:**

۱. د وارداتو د تعویض په اساس د صنعتي انکشاف دلایل څه شی دي، نوم یې واخلئ؟
۲. اقتصادي کفایت تعریف کړئ؟
۳. د تخنیک د عدم کفایت په برخه کې هغه څه ولیکئ چې معلومات لرئ؟
۴. د پس انداز خلاصه څه شی ده، شرحه یې کړئ؟
۵. محدود بازارا و قلیل عاید څه شی دی، معلومات ورکړئ؟
۶. وارداتي تعرفې توضیح کړئ؟
۷. د بازار د تقاضا د رعایت په هکله معلومات ورکړئ؟
۸. د تادیاتو بېلانس تعریف کړئ؟
۹. د پر مخ تللیو هېوادونو د امادگۍ او د هغوی په واسطه د موانعو عدم ایجاد په مفصله توګه وړاندې کړئ؟
۱۰. د صرفه جویې رعایت څه شی دی، واضح یې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم څپرکې

## مخ پر وده هېوادونه اود نړیوالو سیاستونو پایلې

**ټولیزه موخه:**
د دې څپرکې اصلي موخه د مخ پر وده هېوادونو د علماؤ له تفکر او اندیشو څخه تشکیل شویده.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکې په پای کې له محصلینو نه هیله کېږي چې د لاندې مواردو په هکله معلومات تر لاسه کړي .

- د مخ پر وده او پرمخ تللیو هېوادونو تر منځ توپیر.
- د تجارت ترکیب او ساختمان.
- په پرمخ تللیو هېوادونو کې د تعرفې ساختمان.
- مخ پر وده هېوادونو کې تجارتي ستراتیژي او داسې نور...

په نړیوالو تجارتي اړیکو کې د مخ پر وده هېوادونو خلک له ډېره وخته خوشحاله ندي ، ځکه هغوی عقیده لري چې نړیوال بازارونه د هغو د منافعو په خلاف عمل کوي او په نړیوال تجارت کې عادلانه ونډه نده ورکړل شوي او د نړیوال تجارت له منافعو څخه یې استفاده نده کړې.

په دې برسیره هغوی معتقد دی چې خارجي تجارت په داسې هوښیارانه توګه طرح شویدی چې د دوی اقتصادونه یوازې د پر مخ تللیو اقتصادونو د ثبات په صورت کې خوندي کېدی شي. لکه څنګه چې په لمړي فصل کې وړباندې بحث وشو، په کار دی چې دنسبي مزیت نظریه یو عمومي اصل وي چې د مخ په وده او پر مخ تللیو هېواونو په وړاندې د تطبیق یو ډول وړتیا لري. اصلي محور دا دې چې هر هېواد که ثروتمند وي او که غریب ، د خپلو منافعو چې د نسبې مزیت په برخه کې یې لري، تخصص چې د نسبې مزیت له رشتو څخه یې لري، نفع وړي او د تجارت له لارې د تولید اضافه برخه د نورو ممالکو په تولیداتو چې هغوی پکې نسبي مزیت لري ، معاوضه کوي تر څو پدې توګه هریو د نړۍ د تولید له مقدار څخه زیات مصرف وکړای شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټولو ممالکو کې د ژوند سطحه پورته ولاړه شي، خو د څو اخيرو لسيزوله تيريدلو سره مخ په وده هيوادونه د دغي نظريې په برخه کې سکوت دي. ځکه هغوی وايي چې يوازې پرمخ تللي هېوادونه په تجارت کې په زياته اندازه مستفيد کېږي.

په دې فصل کې له هغو مسايلو څخه بحث کوو چې د نسبي مزيت پر اساس په تجارت کې د دغه شک او ترديد لامل ګرزيدلي دی. مخ په وده او پر مخ تلليو هيواونو باندې د هيوادونو ويشل يو په زړه پوری ويش ندی، بلکې يوازی د مطالعې د سادګۍ لپاره ترې استفاده کېږي. پر مخ تللي هيوادونه د غربې اروپا له هيوادونو، امريکا، جاپان ، استراليا، نيوزيلينډ او داسې نورو څخه عبارت دي او نور هېوادونه د مخ په وده هېوادونو په نامه يادېږي. پدې توګه د لاتيني امريکا ټول هيواونه، له چين، جاپان او جنوبي کوريا پرته د اسيا او افريقا ټول هېوادونه، له استراليا او نيوزيلنډ پرته د اوقيانوسيې ټول هېوادونه د مخ په وده هېوادونو په قطار کې راځي. خو د مخ په وده هېوادونو په فهرست کې هغه ممالک شامل دي چې له بيلابيلو لوريو يو تر بله سره توپير لري. دغه توپيرونه له سړي سر عايد او د انکشاف له ځينو نورو شاخصونو څخه عبارت دی. د مثال په توګه تايوان برازيل او جنوبې کوريا له اقتصادي نظره تر ډېره ځايه له جاپان او فرانسې سره ورته دي خو دغه ټول هېوادونه د مخ پر وده هېوادونو په کتار کې شمېرل کېږي چې د دريمې نړۍ د هېوادو په نامه هم يادېږي.

په ځانګړې توګه دنړيوال تجارت په برخه کې سره همغږي دي له همدې کبله نشو کولای دغه دسته هيوادونه په يوه ګروپ کې شامل او بررسي کړو.

په ورته حال کې بايد په ياد ولرو چې اقتصادي انکشاف يوه نسبې اصطلاح ده. 20 کاله وړاندې جاپان د پر مخ تللي هېواد په ځای د مخ پر وده هېوادونو خصوصيات درلودل او يا د دې پيړې په ابتدا کې د امريکا متحده ايالات هم د مخ پر وده هېوادونو په قطار کې ځای درلود. ځينې هغه هېوادونه چې نن ورځ د مخ پر وده هېوادونو په لست کې راځي، ممکن له ځيني لوريو له پرمخ تلليو هېوادونو سره متمايز وي . د اوپک هېوادونه اوس هم د يوه ځانګړي حالت لرونکي دي او دنورو ممالکو په پرتله د اقتصادي تحليل له مخې د ځانګړيو خصوصياتو لرونکي دي

نړيوال بانک په دې وروستيو کې د لېږ انکشاف يافته هيوادونو يو لست تيار کړيدی چې متآسفانه افغانستان هم پکې شامل دي. د نړيوال تجارت په وړاندې د مخ پر وده هېوادونو چلند د هغوی د تشويق انعکاس د هغوی اقتصادي انکشاف په مورد کې ده. هغوی هڅه کوي تر څو د عدم انکشاف علتونه پيدا کړي او په اساس يې اړوند پاليسي تر لاس لاندې ونيسي.

موږ پدې ځآی کی له تجارت سره په تړاو د تجارت په برخه کې دمعکوس تمايل، د پرمخ تلليو صادراتي هېواددونو تر منځ د اقتصادي توپيرونو د زياتوالي د قيمت او صادراتي درآمد د عدم استقرار په څېر د اقتصادي انکشافاتو په هکله يو لړ موضوعات تر بحث لاندې نيسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اول: د نړیوال تجارت دځرنګوالي په هکله د مخ پر وده هېوادونو د علماؤ نظریات.**

۱. د مخ پر وده هېوادونو په ضرر د تجارت دنسبت را ګرزیدل: مخ پر وده هېوادونه ادعا کوي چې په وروستۍ پیړۍ کې د تجارت نسبت د هغوی په ضرر را ستون شویدی. دا د دې معنا لري چې د هغوی د صادراتو قیمت د هغوی د وراداتو یا اجناسو د قیمت په پرتله همیشه مخ په تنزیل دی.

البته لکه څنګه چې پوهیږو د اجناسو په اساس د تجارت نسبت د صادراتو د قیمت د شاخص او وارداتو دقیمت د شاخص له نسبت څخه عبارت دی.

TC = (PTX/POX) (PTM/POM)

په دې معادله کې TC د اجناسو په اساس د تجارت له نسبت څخه عبارت دی او Ptx په مطلوب کال کې د صادراتې اجناسو له قیمت څخه عبارت دی. په همدې ترتیب Pox داساس په کال کې د صادراتې جنس له قیمت Pom او د اساس په کال کي د وارداتې جنس له قیمت او ptm په مطلوب کال کې د وارداتې جنس له قیمت څخه عبارت دی.

د مخ پر وده هیوادونو د تجارت د خرابوالي ادعا دملګرو ملتونو د مطالعې په نسبت استواره ده، په هغه راپور کې ښودل کیږي چې له 1878 څخه تر 1880 کلونو د اولیه اجناسو قیمت له 1946 څخه تر 1947 پورې د کلونو په پرتله %68 کم ښکته شویدی.

دغه ادعا د امعنا لري چې په 1947 ام کال کې د اولیه او خامو موادو یوه صادرونکی د خپلوصادراتو د خرڅلاو د قیمت په مقابل کې د تولید د هغه صنعتي جنس د مقدار %68 صنعتي هېوادونو اخیستلای او واردولای شوای چې په 1980 ام کال کې یې تر لاسه کول.

د نړۍ د نفوسو له زیاتوالي او په صنعت کې د تکنالوژۍ له ودې سره سره د تجارت حقیقي نسبت د خامو موادو د مولدو ممالکو په ضرر ګرزیدلی دی. د دغه راپور اصلي لیکوال اتریشي اقتصاد پوه Rual Brebisch د خپل راپور له وړاندې کولو دوه کاله وروسته هڅه وکړه چې د تجارت د نسبت د دغه برګشت لپاره نظري توضیحات پیدا کړي.

تقریباً د دریو کلونو لپاره د نوموړي نظریه په مخ پر وده او نورو هېوادونو کې د قبول وړ وه او د تجارت په نړیوال سیاست کې یې د غوښتنې اساس جوړ کړی وه. که څه هم وروستیو احصایوي معلوماتو بله پایله ورکړه خو په عمومي توګه د مخ پر وده هېوادونو اقتصاد پوهانو او سیاست مدارانو دغه نظریه قبوله کړه.

له هغه وروسته د تجارت په مورد کې د (U.N.C.T.A.D) تر نامه لاندې د ملګرو ملتونو د کانفرانس د تاسیس په برخه کې RualBrebisch مهم رول و لوبا وه او د همدغه کانفرانس لمړنی ریس و ټاکل شو.

د دغې نظریې د احصایوي تردید لپاره پدې وروستیو څو لسیزو کې هڅې ګړندۍ شویدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته تر اوسه له دغو مطالعاتو څخه قناعت بښونکي پايلې ندي تر لاسه شوي. اوليه مواد په ځينې کلونو کې لوړېږي او په ځينو کلونو کې تنزيل کوي چې په مشکل سره کولای شو اوږد مهاله ميلان يې پيدا کړو. د دغې نظريې پيروانو 1953 کال ، التبه هغه کال انتخاب کړي چې د کوريا د جنګ له کبله د خامو موادو قيمت پکې لوړ شوی وه او له ورسته کلونو سره په مقايسه چې د خامو موادو نرخ پکې ښکته وه ، د تجارت مخ په خرابيدونکي نسبت وښود.

د دغه عالم د نظريې مخالفينو، 1962 کال انتخاب کړي چې د خامو موادو قيمت پکي مخ په زياتيدو و، او په هغه شاخص يا (Index) کې يې يو مخ په صعود ميلان وښود، خصوصاً که چيرته نفت په همدې شاخص کې شامل شوي واى.

په پورتنيو ستونزو برسيره په مخ پر وده هېوادونو کې د تجارت د نسبت د خرابيدلو د ادعا تائيداو ترديد نوري ستونزې هم را ولاړې کړي. د مثال په توګه: هر کال بازار ته نوي اجناس وړاندې کېږي چې د وارداتو په شاخص کې د دغو اجناسو ارزونه زياتې ستونزې پيدا کوي. پدې برسيره د صادراتو د ارزيابي د روش ميتود نورې ستونزي هم زيږوي او بلاخره د تکنالوژۍ او د تغير ستونزه مقايسه لا پسې پيچلې کوي.

۲. **د مخ پر وده او پرمخ تلليو هېوادونو د توپير زياتوالى:** که چيرته مخ پر وده او مترقي هېوادونو کې سړي سر عايد ته وکتل شي، ليدل کېږي چې له وروستيو څو کلونو را هيسې د هېوادونو د دغو دوو ګروپونو تر منځ د سړي سر عايد توپير زيات شويدی او اوس هم مخ په زياتيدو دی.

د صنعتي انقلاب په لمړيو کې په اروپا ، امريکا او اسيا کې سړي سر عايد دومره توپير نه درلود، خو له هغه وخته وروسته دغه توپير مخ په زياتيدو شو او اوس د ترقي پذير او ترقي يافته ممالکو تر منځ لس يا شل ځله زيات شويدی.

اساسي ټکی دا دی چې د هغوی د نسبې مزيت مطابق مخ په وده هيوادونو خپل اقتصادونه د لمړنيو موادو توليد ته ځانګړي کړي او صنعتي اجناس له پر مخ تلليو هېوادونو څخه واردوي، د دغو دوو ګروپونو ممالکو تر منځ د سړي سر عايد د توپير زياتوالى د نسبې مزيت د نظريې په اساس د هغوی له تخصص او توليد سره په واضيح توګه دغه نظريه ردوي، ځکه د يوه پر مخ تللي شکل په دود دغه نظريه په ټولو ممالکو کې په مساويانه توګه د عايد او د توليد د عواملو د زياتوالي سبب ګرزي.

پدې اساس عقيده پدې ده چې د مخ په وده هيوادونو د تجارت د نسبت خرابوالى او د سړي سر عايد عدم افزايش د دې ښودنه کوي چې د نسبې مزيت نظريه درسته نده، يوازې د هغو ممالکو د استثمار يوه بله وسيله ده.

لکه مخکې چې ورنه يادونه وشوه،د (W.sings و Rual) په څير د تجارت د نسبت د خرابوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د پرمختلليو او مخ پر وده هېوادونو تر منځ د سړي سر عايد دتوپير د نظريې مخکښان څرګندوي ، چې په مترقي هيوادونو کې د انحصاري شرکتونو د کارګري اتحاديو او د حد اقل مزد ، اجتماعي مصؤنيت او بيمو په څير د نورو منعقده قوانيو د موجوديت له لارې د مولديت هر زياتوالی د مزد د زياتوالي سبب کېږي او په دغو ممالکو کې د اجناسو قيمت د انحصاراتو اوشبه انحصاراتو په واسطه ثابت ساتل کېږي او قيمت هيڅکله هم تنزيل نه کوي، ځکه دغه شرکتونه د اقتصادي رکود په صورت کې ددې په ځای چې د شيانو قميتونه ښکته کړي، دتوليد مقدار کموي. خو د اقتصادي رفاه او بهبود په وخت کې مزد او د شيانو قيمت لوړوي.

له همدې کبله د صنعتي اجناسو دصادراتو قيمتونه مخ په زياتيدو دي خو د مخ پر وده هېوادونو بازارونه زيات رقابتي دي، او بې اتقافه کارګرانو مزد د زياتې عرضې له کبله ښکته کېږي. په مترقي هېوادونو کې د اقتصادي ښيرازۍ په دوره کې چې د لومړنيو توکيو لپاره تقاضا زياته وی، ممکن مزد او قيمتونه هم يو څه لوړ شي، خو په مخ پر وده هېوادونو کې د اقتصادي رکود په صورت کې مزد اوقيمتونه نزول کوي.

ددغه جريان پايله په مترقي هيوادونو کې د مزد او قيمت له لوړوالي او په مخ پر وده هېوادونو کې د هغوی له ثبات څخه عبارت دي. په بل عبارت د دغو عواملو په اساس د تجارت نسبت د مخ پر وده هيوادونو په ضرر ګټل کېږي.

۳. **د تجارت د ترکيب جوړښت:** دنړيوال تجارت جوړښت د دې څرګندونه کوي چې زياته برخه يې په مترقي هېوادونو کې صورت نيسي . په ورته زمان کې يوه د يادونې وړ برخه د پرمخ تلليو او مخ پر وده هېوادونو په منځ کې صورت نيسي ، خو پدې بهير کې د مخ پر وده هېوادونو ونډه ناچيزه ګڼل کېږي.

مخ پر وده هېوادونو ته د پر مخ تلليو هېوادونو صادرات معمولاً له صنعتي اجناسو څخه تشکيليږي خوپه ورته حال کې زياتره خوارکي توکي هم له پر مخ تلليو هېوادونو څخه مخ پر وده هېوادونو ته صادريږي. دمثال په توګه : امريکا، کاناډا، استراليا او نيوزيلنډ په نړۍ کې دخوارکي توکيو ستر صادرونکي هېوادونه دي ،پداسي حال کې چې مخ په وده هېوادونو ته د دغو هېوادونو د صادراتو ستره برخه صنعتي اجناس وي او پر مخ تلليو هېوادونو ته د مخ په وده هېوادونو صادرات د ټولو صادراتو نژدې يو په څلور برخه تشکيلوي.

دد غي لړۍ له پيل څخه را پدې خوا د تجارت ساختمان تغير ندی کړی. له همدې کبله معلوميږي چې د صنعتي سکتور د انشکاف لپاره د خامو موادو د توليد په برخه کې له هغو سره سره د مخ پر وده هېوادونو د تخصص درجې تغير ندی کړی. د مخ پر وده هېوادونو شکايت دا دی چې د تجارت او نسبي مزيت د نظريې مطابق هغوی يوازې د خامو موادو د توليد تخصص لري. خو پدې دام کې ښکيلتيا او دغه ډول تخصص د هغوی د اقتصادي انکشاف مانع ګرزيدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی نشي کولای د صنعتي انکشاف له ګټو څخه استفاده وکړي، نو په همدې اساس نړیوال بازار د هغوی د منفعت مخالف حرکت کوي او یوازې پر مخ تللي هېوادونه د مخ پر ودې نړۍ اقتصادونه تر انحصاري کنترول لاندې ساتي.

پورتنیو دلایلو ته په کتنې سره د مخ پر وده هېوادونو شکایات په لاندې ډول مطالعه کېږي:

a) مخ پر وده هېوادونو کې د تعرفو ساختمان داسي دی چې د جنس د مصنوع کیدلو درجه یعنې له خامومواد و څخه د لریوالي او کار تمامه موادو ته د نژدې کیدلو درجه مخ په ځوړ ده.پدې توګه د مخ پر وده هېوادونو په مصنوعاتو باندې نورې تعرفې ښودل کېږي ، خو د هغوی د خامو موادو په صادراتو باندې هیڅ ډول تعرفې نه وضع کېږي او یا نا څیزه تعرفه وربانديې وضع کېږي.

b) همدا شان په پرمخ تللیو هېوادونو کې د مخ پر وده هېوادونو د وارداتو په مقابل کې حساسیت شتون لري، او له همدې کبله تمایل داسې دی چې د ډول ډول تجارتي موانعو اوقیوداتو په وضع کیدلو سره له ورته وارداتو څخه مخنیوی کېږي. په پرمخ تللیو هېوادونو کې د کرهنې د سکتور حمایت عمومیت لری. د مثال په توګه د دهاقینو د ملاتړ په دود ، حمایوي قیمتونه ، د سهمیو تعین، د حکومت له لوري د کرنیزو تولیداتو اخیستل او داسې نور ، پداسې حال کې چې ګاټ او داسې نورو نړیوالو کانفرانسونو کې د مخ پر وده هېوادونو د ازاد تجارت تبلیغ کوي.

١. **له محدودو اجناسو سره د صادراتو تمرکز:** د نسبي مزیت په اساس د تولیداتو تخصص د مخ پر وده هېوادونو صادارت په یوه یا دوو یا دریو اجناسو پورې خاص کړل شویدی. څنګه چې د 55 مخ په وده هیوادونو 50% صادرات یوازې یو جنس تشکیلوي، مثلا سعودي له نفتو څخه 33%، لیبیا له نفتو څخه 99%، لاوس له لرګیو، قلعې او داسې نورو څخه 99% . نو په لنډه توګه ویلای شو چې په 70 مخ پروده هېوادونو کې د هغوی د صادراتو 75% برخه نژدې له 3 اجناسو څخه تشکیلېږي. د دغو هیوادونو څخه یو یې هم پرمخ تللیو ممالکو ته ور نژدې هم ندی.

**د نوموړو ممالکو د صادراتو دغه تمرکز په نړیوال بازار کې د ددوی اقتصادونو ته سخته صدمه رسولای شي.**

٢. **د صادراتو د قېمت او صادراتي در آمد عدم استقرار:** په څو محدودو اجناسو باندې د تولید تمرکز د مخ پروده هېوادونو اقتصادونه په نړیوال بازار کې بې حیثیته کړیدي. له بله لوري ناڅاپي اقلیمي تغیرات هم د هغو ممالکو د صادراتي در آمد د تموج باعث ګرزي چې د یوه یا دوو صادراتي اجناسو په برخه کې متخصص دي. په شپیتمه لسیزه کې په نړیوال بازار کې تموجات یا ټیټ او پاس نسبتاً لیږ، خوپه اویایمه لسیزه کې نړیوال بازار متسقر حالت نه درلود، او هغه هیوادونه چې د خپل اقتصادي انکشاف د تمویل په طمع صادراتو ته سترګی په لاره وو، نا هیلې شول. په همدې ترتیب په اتیا یمه او نوییمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسیزه کې تر نیمایي پورې د نړیوال بازار قیمتونه خورا نوساني ول.

**دوهم:** د مخ پر وده هېوادونو تجارتي ستراتیژي: **په ازاد تجارت کې د مخ پرووده هېوادونو مشکوک والی او له هغه څخه تر لاسه شوې پایلې د دې لامل شوې چې دغه هېوادونه یوه انکشافي ستراتیژي انتخاب کړي. له ازاد نړیوال تجارت سره په تړاو د ستراتیژي له دوو ډولونو څخه بحث کېږي.**

۱. داخل ته متوجه ستراتیژي چې په ترڅ کې یې هغو صنایعو ته زیاته توجه کېږي چې داخلي بازار لري . هڅه کېږي چې دد غو صنایعو د مشابه تولیداتو واردات کم شي او یا په بشپړه توګه قطع شي. دغه ستراتیژی د وراداتو دتعویض د سیاست په نامه هم یادیږي.

۲. د مخالف قطب ستراتیژي هغه ستراتیژی ده چې سیاست یې خارج ته متوجه وي او په ترڅ کې یې د صادراتو له تصدیو څخه ملاتړ کېږي. دغه ستراتیژی د صادراتو د تقویت د سیاست په نامه هم یادیږي.

**۳. د ټولې نړۍ د اقتصادي نظم وړاندیز:** له خپلو اقتصادي هڅو څخه د نه رضایت له کبله مخ پر وده هېوادونه په نړۍ کې د یوه نوې اقتصادي نظم غوښتونکي دي. دا کومه نوې غوښتنه نه وه، بلکي زیات وخت کېږي چې دغو ممالکو ورته وړاندیز کړیدی. دغه غوښتنه د دریمي نړۍ په زیاتره کانفرانسونو کې په خورا شدت سره نړیوالې ټولنې ته وړاندې کړیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د نهم څپرکي د مطالبو لنډيز:**

د مخ پر وده هېوادونو خلک د نړيوالو تجارتي روابطو په برخه کې له ډېره وخته خوښ ندي، ځکه هغوی عقيده لري چې نړيوال بازارونه د هغوی د ګټو اومفاداتو په خلاف عمل کوي او په نړيوال تجارت کې يوه عادلانه ونډه نده ورکړل شوې او د نړيوال تجارت له منافعو څخه ندي مستفيد شوي. پدې برسيره هغوی عقيده لري چې د خارجي تجارت نظريه داسې په هوښيارانه توګه طرحه شويده چې د دوی اقتصادونه يې د پرمخ تلليو هېوادونو تر سيوري لاندې ساتلي دي.

لکه په بحث کې چې مو وليدل، د نسبې مزيت نظريه بايد يو عمومي اصل وي چې د مخ پر وده او پر مخ تلليو هيوادونو ځانګړی مراعات ونکړي، خو له هغې څخه په خورا ساده ډول استفاده کېږي.

د هغې اصلي محتوا داسې ده چې هر غريب يا شتمن هېواد دې د خپلو صنايعو له تخصص څخه په هغو رشتو کی استفاده وکړي چې نسبي مزيت پکې لري، او د تجارت له لارې دې اضافه توليد په نورو هغو توليداتو باندې معاوضه کړي چې دوی نه، بلکې نور هېوادونه پکې نسبې مزيت لري.پدې صورت کې هر يو د نړيوال تجارت له ګټو څخه برخمن کيديشي او په ټولو ممالکو کې د ژوند سطحه لوړېدلای شي.

## د نهم څپرکي پوښتنې:

۱. د نړيوالو او مخ پر وده هيوادونو د سياستونو پايلې شرحه کړئ؟
۲. د نړيوال تجارت د څرنګوالي او مخ پر وده هېوادونو ته د هغه د ضرر په هکله معلومات وړاندې کړئ؟
۳. د مخ پر وده او پر مخ تلليو هېوادونو تر منځ د خلا يا تشوالي زياتوالی څه شی دی، توضيح يې کړئ؟
۴. د نړيوال تجارت ترکيب او جوړښت بيان کړئ؟
۵. د صادراتو يا اجناسو د تمرکز په برخه کې څه معلومات لري، بيان يې کړئ؟
۶. د مخ پر ودې هېوادونو د سوداګريزې ستراتيژۍ په هکله معلومات ورکړئ ؟
۷. د نوي نړيوال اقتصادي نظام په باره کې ستاسو وړانديز څه شی دی، و يې ليکئ؟
۸. د صادراتو د قيمت او صادراتي درآمد د عدم استقرار په باره کې معلومات ورکړئ؟
۹. د مخ پروده او پر مخ تلليو هېوادونو مهم تجارتي توپيرونه بيان کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم څپرکی

## له باندنۍ نړۍ سره د افغانستان تجارتي اړيکې

**ټولیزه موخه:**
د دې څپرکې د چمتو کېدلو هدف له باندنۍ نړۍ سره د افغانستان د تجارتي اړيکو روښانه کېدل دي.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکې په پای کې به محصلين د لاندې مواردو په هکله معلومات تر لاسه کړي:

- له پاکستان سره دافغانستان تجارتي اړيکي.
- له ايران سره د افغانستان تجارتي اړيکي.
- له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره د افغانستان تجارتي اړيکي.
- له هند، چين او روسې سره د افغانستان تجارتي اړيکي.
- افغانستان د نړۍ او اسيا د ستراتيژيکي لويې لارې په توګه.
- د افغانستان د باندنی تجارت ستونزې.

**افغانستان**

د يوې ټولنې اقتصادي او ټولنيز تحول او بدلون د هغې په اقتصادي اړيکو پورې تړاو لري. دنړۍ زياتره هېوادونه د توليد د عواملو د نامتوازنې توزيع له کبله يو له بل سره تړلي دي. يو تر بله د هېوادونو اقتصادي تړاو دومره غښتلی دی چې حتی په زياتره مواردو کې دسرحدې ستونزو او سليقوي اختلافاتو شتون هم نشي کولای د تجارتي اړيکو د لارې خنډ واقع شي . لکه څنګه چې وويل شول د جوامعو اقصتادي انکشاف د هيوادونو تر منځ د روابطو په تحکيم پورې اړه لري، هغه څه چې دورته شرايطو په تحکيم کې رغنده رول لري، له تجارت څخه عبارت دی، ځکه سوداګري او تجارت دهېوادونو د نژدېوالي عمده عنصر او دهغوی له باندني سياست سره نه شليدونکي اړيکي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د هېـــوادونو د اقتصـــادي ودې په ګـــړندي توب کې تجـــارت د يوې مهـمې وسيلې په توګه عمـــل کوي.

د وريښمو له لارې د معبر په حيث د افغانستان تاريخي سابقې ته په کتنې سره، د پيړيو په اوږدو کې د ختيځ او لوېديځ د تجارتي کاروانونو مسير وه، او له همدې کبله افغانستان په عنعنوي توګه د شيانو د ليږد راليږد او تبادلې په برخه کې طولاني سابقه لري.

د سمندري مواصلاتو له کشف نه وړاندې د تجارتي اموالو حمل او نقل يوازې د وچې له لارې تر سره کيده، او هغه مهم معبر چې د هغې زمانې په تجارتې پراختيا کې يې رغنده رول درلود، د وريښمو له لارې څخه عبارت دی. له دغې لارې څخه په وريښمو برسيره ، په افغانستان کې معدني، نباتې او حيواني محصولات هم مختلفو هېوادونو ته صادريدل، چې بيا وروسته د سمندري لار و له انکشاف سره دغه مسير متروک شو او د ډېرو کلونولپاره له ګاونډيو هيوادونو سره د افغانستان تجارت محدود شو چې تر اتلسمې پيړۍ پورې يې دوام وکړ.

له نولسمې پيړۍ وروسته تجارت بيا وده وکړه او د تنباکو، بادامو، پستو، مندکو، ميوو، ژونديو حيواناتو، چاقوګانو ، غاليو، وړيو، پوستين، ټغرونو او پنبې په څيرد افغاني توکوصادرېدل بهرنې نړۍ ته پيل شول..... (۱)

په همـــدې ترتيب په هغـه زمـــانه کې دافغـانسـتـان وارادات لـــکه څنـــګه چـې فيشر (Fisher) د افغـانسـتـان او منځـنـۍ اسيـا د مسلي تر عنـوان لاندې په خپـله رسـاله کـې يادونـه کـړيده، شــالـونه، جـامـې، وړين تـوکـي، چـای، قنـد، چيـنـي لـوښـي، هګـۍ ، د وريـښمـو چنيـجي او داسـې نـورو څـخـه تشکيليدل ... (۲)

افغانستان د جنوب شرق له لور تر هند د شمال شرق له لوري تر چين، د شمال له لوري تر روسيې او د غرب له لوري تر ايران پورې تجارتي روابط درلودل . په 1919 ميلادی کې د افغانستان د استقلال له تامين کيدلو وروسته د نورو تحولاتو ترڅنګ د هېواد تجارتي روابطو هم پراختيا وموندله، له بېلابېلو هېوادونوسره تجارتي تړونونه لاسليک شول ، يو شمېر شرکتونه ايجاد شول او تجارت خورا ښآيسته بڼه غوره کړه.

د تجارتي قوانينو له تدوين سره په ځينې تجارتي توکيو باندې محصولات لږ شول او د ځينو نورو پر وړاندې خو بيخي له منځه ولاړل. د کورنيو محصولاتو د حمايت او ژغورني په موخه د ورته يا مشابه وراداتو په وړاندي ګمرکي محصولات او تعرفې اضافه شوي. ... (۳)

له ګاونډيو هېوادونو سره دزمانې په مختلفو نقطو کې تجارتي روابط متفاوت دي. له ګاونډيو هيوادونو ، خصوصاً له پاکستان، ايران او روسيې سره دتجارتي اړيکو څرنګوالې رغنده رول لوبولای دی.

يوازنی هېواد چې زموږ په ګاونډ کې پروت دی هندوستان دی چې سياسي او اقتصادي اړيکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې تل روښانه او پرمختلونکي دي. له چين سره د ورته اړيکو په برخه کې ويلای شو چې پدې وروستيو کلونو کې زيات ښه والی پکې رامنځته شويدی.

**له ګاونډيو هېوادونو سره د افغانستان موجوده تجارتي اړيکي:**

هغه اهميت ته په کتو سره چې اقتصاد په نړيوالو روابطو او تحولاتو کې پيدا کړيدی، هېوادونه هڅې کوي تر څو يو تربله خپلمنځي تجارتي اړيکي او روابط سره نژدې کاندي. افغانستان هم د هغو سياسي تحولاتو د اثر له کبله چې په دې وروستيو کې رامنځته شويدي، وکړای شول له ټولو ګاونډيو هېوادونو سره غوره تجارتي اړيکي ولري. د افغانستان د ګاونډيو هېوادونو د صادراتي اموالو ميزان زيات شوی دی.

څنګه چې افغانستان د خوراښه اقتصادي ظرفيت لرونکی دی، کولای شي د ګاونډيو هېوادونو تر منځ د تجارتي فضا درامنځته کيدلو په برخه کې مهم رول تر سره کړي. خو افغان لوري ته د ګاونډيو کتل او بدل ذهنيت د پاملرني وړ موضوع ده چې ګاونډيان تر ډيره افغانستان ته له اقتصادي ليدلوري څخه نه، بلکې له سياسي بعد څخه ګوري. زما په عقيده که چيرته په تجارتي او اقتصادی اړيکو کې سياسي علاقې او سليقه کمرنګه شي، د دغو ګاونډيو هېوادونو ترمنځ ورته اړيکي پياوړي کيدلای شي او افغانستان په سيمه کې د تجارتي فضا د بهبود په برخه کې خپل مهم نقش تر سره کولای شي.

همدا شان نن ورځ افغانستان د تجارت له نظره يو ليبرال هېواد دی، پداسې حال کې چې ګاونډي هېوادونه يې له حمايوی تجارتي سياست څخه پيروي کوي چې دغه سياست په افغانستان کې د داخلي توليد او استخدام د زياتوالې هڅې له ستونزې سره مخ کولای شي.

**له پاکستان سره تجارتي اړيکي:**

پاکستان او افغانستان هغه هېوادونه دي چې له فرهنګي او مذهبې لحاظه سره تړلي دي خو له سياسي لحاظه تل يو د بل په مقابل کې قرار لري. د غه سياسي تقابل د هغوی تر منځ په تجارتي اړيکو باندي منفي سيوری غوړولی دی.

د افغانستان او پاکستان تجارتي اړيکې په تيرو وختونو کې د ساړه جنګ دسياسي دلايلو له کبله چندان تودې نه وې، خو له حاکم رژيم څخه د پاکستان ملاتړ د دغو دواړو هېوادونو د دوستانه روابطو د برابرولو لپاره لار هواره کړه چې په اساس يې د دواړو هيوادونو تر منځ تجارتي بهير هم تغير وکړ، د دغو دوو هيوادونو تر منځ اوسني تجارت د ورته اړيکو پايله ګڼل کېږي.

هغه احصايه چې د ډيلي ټايمز په اخبارکې پاکستان کې نشر شوې ده، د دې ښودنه کوي چې په 2005 کال کې له پاکستان څخه افغانسنان ته صادريدونکو توکيو ارزښت 66 مليونه امريکائی ډالرو او يا 71200 بليونه پاکستانيو روپیو ته رسيده. چې پدې لړ کې له پاکستان څخه د وريجو د صادارتو ارزښت 2,412 بيليون پاکستانيو روپوته رسيده چې د 2004 کال په پرتله د 645 ميلينو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیاتوالي ښودنه کوي. په ورته توګه په 2005 کال کې له پاکستان څخه افغانستان ته د وریجو د صادارتو کچه 5,421 بیلیون روپیو ته رسیدله چې د 2004 کال په پرتله 2,687 بیلیونه زیاتوالی پکې لیدل کېږي

که چېرته له پاکستان څخه افغانستان ته د صادریدونکو توکیو لست ته ځیر شو، لیدل کیږې چې دا یو اوږد لست دی چې په 2006 کال کې یې مجموعي ارزښت 418.77 ملیون امریکایي ډالرو ته رسیده.

پاکستان ته د افغانستنان صادرات هم مخ په زیاتیدو دي. پاکستان ته د صادراتو رقم د افغانستان د صادراتو د جدول په سر کې ځای لري. په 2005 ام کال کې پاکستان ته د افغانستان د صادراتو مجموعه 264.6 ملیون امریکایي ډالرو ته رسیدله چې تر تولو ستره برخه یې له لاندې صادراتي توکیو څخه تشکیلیدله:

پنبه 1.21 زره ټنه چې مجموعي ارزښت یې 1.37 میلیونه امریکایې ډالرو ته رسېده، وړی او پوستکي 0.67 زره ټنه چې ارزښت یې 1.34ملیون ډالروته رسیده، کولمې 5.45 زره حلقې چې ارزښت یې 0.19 میلونه ډالرو ته رسیده،شحمي حبوبات 0.38 زره ټنه چې ارزښت یې 0.32 ملیون ډالر، طبې بوټي 7.29 زره ټنه چې ارزښت یې 5.93 زره ډالرو ته، وچې او تازه میوي 95.56 زره ټنه چې ارزښت یې 85.66 ملیون ډالروته او بلاخره غالۍ او ټغرونه ول چې شمېر یې 1445.5 زره متر مربع او ارزښت یې 143.7 ملیون امریکایي ډالرو ته رسیده.

سمندري لارې ته د افغانستان نه لاس رسی او په وچه باندې د دغه هېواد چاپیره کیدل د افغانستان له سترو تجارتي ستونزو څخه شمېرل کېږي. سمندر ته افغانستان د رسیدلو تر ټوله اسانه او نژدې لاره له پاکستان څخه تېریږي او په ځانګړي توګه د کراچۍ له بندر څخه عبارت ده. سره لدې چې په 1958 ام کال کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ یو لړمهم ترانزیټي قرار دا دونه تر سره شوی او مرعې الاجرا دي، خو په عمل کې لا هم خورا زیاتې ستونزې شتون لري.

د یادونې وړ ټکی دا دې چې د پاکستان دولت له همدغې ترانزیټي لارې څخه د افغانستان په ضد د اقتصادي او سیاسي فشار د وسیلې په توګه استفاده کوي، په داسې حال کې چې په راتلونکي کې دغه میتود زیات ګټور نشی ثابتدیلای. ځکه لکه مخکې چې ورباندې بحث وشو افغانستان د منځنۍ او جنوبې اسیا تر منځ د تجارت د لارې په سر باندې واقع دی ، نو پاکستان هم د ورته سیاست د تعقیب کولو په صورت کې نشي کولاې خپل اموال د افغانستان له لارې څخه د منځنۍ اسیا هیوادونو ته صادر کړي. د دې تر څنګ د چابهار د بندر د تاسیساتو د رغونې هڅې د افغانستان لپاره د ترانزیټ او سمندر ته د لاس رسي یو غوره بدیل دی، نو د همدغه اجبار او واقعیت له کبله دغه هېواد، پاکستان اړ دی چې افغانستان ته دترانزیټي لارې په اوږدو کې کوم خنډ او ستونزه ایجاد نکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله موضوع چې د بحث وړ ګڼل کېږي، دا ده چې د هغو اموالو یوه زیاته برخه چې د افغانستان لپاره یا د افغانستان په نامه واردیږي، په افغانستان کې نه مصرفیږي، بلکې پاکستان ته قاچاق کېږي. سره لدې چې افغانۍ تجار له ورته معاملې څخه سود مند کېږي، خو په نهایت کې دغه معامله د دواړو هېوادونو په ګټه نده.

څه چې غواړو اضافه کړو دا ده چې په افغانستان کې د نوي حکومت او نسبې سولې له ایجاد سره د نړیوالې ټولنې په مرسته د زیاتو تجارتي روابطو زمینه برابره شویده او افغاني سوداګر کولای شي نړیوالو بازارونو ته لاس رسی پیدا کړي.

**له ایران سره سوداګریزې اړیکې:**

د ژورو کلتوري او فرهنګي اړیکو له کبله ایران د افغانسان د روابطو په برخه کې ځانګړی مقام لري. پدې برسیره چې ایران د افغانستان د تجارتي لوریو یو مهم هېواد دی، د طالبانو له سقوط او په افغانستان کې د نوي سیاسي نظام د کار له پیل وروسته  له غربي ګاونډیانو سره د افغانستان د اړیکو پراختیا د یادونې وړ ده.

په2006م کال کې له ایران څخه افغانستان ته دواردادتو مجموعه 188.68میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدله چې له چین، جاپان او پاکستان څخه ورسته د وراداتو څلورم ستر رقم دی.

په 2006 کال کې د ایران له هېوا دڅخه افغانستان ته په عمومي توګه ماشین آلات او ترانسپورتي وسایط وارېدېدل چې ارزښت یې 6.8 ملیونه ډالرو ته رسیده، د نفتي موادو او روغنیاتو ارزښت یې 30.6 ملیون ډالرو، د فلزاتو او فلزي محصولاتو ارزښت یې 42.2 میلیونه ډالرو،  د ټایر او ټیوب ارزښت یې 3.34 ملیونډالر، د  ساختماني موادو ارزښت یې 4.1 ملیونډالرو، د ارتزاقې موادو ارزښت یې 7.97 ملیونډالرو، د منسوجاتو ارزښت یې 1.7 ملیون ډالرو، د درملو  ارزښت یې 4.1 ملیونډالرو،  البسه یې 1.26 ملیونډالرو، قرطاسیه یې 0.33 میلیون ډالرو او تلویزیون یې 7.4 میلیون ډالرو ته رسیدل.

خو ایران ته د افغانستان د صادراتو کچه نژدې له نشت سره برابره ده . په 2006 میلادي کال کې له افغاسنتان څخه ایران ته د وړیو د صادراتو مقدار 0.32 زره ټنو ته چې مجموعې ارزښت یې  0.54 ملیون ډالره کیده، د پنبې صادارات چې مجموعې مقدرا  یې 0.6 زره ټنه او ارزښت یې 0.06 ملیون ډالر،شحمي حبوبات چې مقدار یې  4.3 زره ټه او ارزښت یې 3.12 ملیون ډالر، طبې بوټي چې مقدار یې 0.45 زره ټه او ارزښت یې 0.28 ملیون ډالره، وچه میوه چې  مقدار یې 0.11 زره ټنه او ارزښت یې 0.11 ملیون امریکایي ډالرو ته رسیده، صادر شویدي. چې له افغاسنان څخه ایران ته د صادر شویو توکیو مجموعې ارزښت 5.44 میلیون ډالرو ته رسیده.

پدې صورت کې که چیرته له ایران سره د افغانستان تجارتي بېلانس محاسبه کړو، نو په 2006م کال کې یو بدمرغه کسر پکې لیدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره لدې چې زموږ د شرقي ګاونډي په توګه ایران تل غواړي زموږ بازارونه په خپله ولکه کې وساتي چې د نوي نظام په لمړیو کې ایران ته له اړوند موخې سره په تړاو غوره فرصت برابر وو، خو وضعیت ورځ تر بلې تغیرکوي او فعلاً د افغانستان په مارکیټونو کې د ایراني توکیو اخستونکي مخ په کمیدو دي چې تر ټولو څرګند دلیل یې له نورو هیوادونو څخه د باکیفیته او ورته ارزانه موادو واردیدل او د ایراني تولیداتود کیفیت ښکته کیدل دي. د دې تر څنګ دوهم دلیل له افغانستان سره د ایران د ناسمې تجارتي پالیسي له اثراتو څخه عبارت دی.

**د چین له هېواد سره د افغانستان تجارتي روابط:**

له چین سره د افغانستان تجارتي اړیکي نژدې دوه زره کاله سابقه لري. دوریښمو مشهوره لاره چې د چین دتجارتي مالونو کاروانونه به د افغانستان له لارې تیریدل، نن ورځ د چین هېواد د یوه نوي اقتصادي ځواک په څیر را څرګند شویدی. چینایې امتعې دنړې لري بازارونه هم تسخیر کړیدي. افغانستان هم د چینایې مالونه ښه مشتري یا اخستونکیی دی. د افغانستان د ګاونډیانو له ډلې څخه چین هغه هېواد دی چې صادرات یې له افغانستان سره صعودي قوس لري او کال په کال ښه والی پکي را منځته کېږي. څنګه چې په 2005م کال کې افغانستان ته د چین د صادراتو کچه 3.7 میلیونه ډالره وه، په 2006 ام کال کې له دغه هېواد څخه افغانستان ته صادراتو کچه نژدې 474.59 ډالر ته زیاته شویده چې د ګاونډیانو په منځ کې دغه د صادراتو تر ټولو ستر رقم ګڼل کېږي.

په عمومي توګه د چین له هېواد څخه افغانستان ته صنعتي توکي، استهلاکي مواد او ساختماني مواد صادریږي. چین ته د افغانستان صادرات تر دریو قلمونو زیات ندي چې مجموعه یې په 2006 ام کال کې ایله 24 میلیونه افغانیو ته رسیدله چې پدې لړ کې د وړیو ونډه 0.08 میلیون ډالره، د پوستوکو ونډه 0.14 میلیون ډالري او د غالیو او ټغرونو ونډه 0.02 میلیون ډالرو ته رسیدله.

**له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره د افغانستات تجارتي اړیکي:**

تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان د افغانستان ګاونډي هېوادونه دي چې نژدې 500 کیلو متره اوږده پوله ورسره لري. د شوروې اتحاد د حاکمیت په وخت کې چې دغه هېوادونه یې هم برخه ګڼل کیده، سیاسي او تجارتي روابط د ماسکو له لوري تامین کیدل. کله چې شوروې اتحاد ړنګ شو، دغو هېوادونو د مستقل هېواد په څیر خپل هویت تر لاسه کړ. دغو هیوادونو د داخلي جنګ په کلونو کې تر ډیره ځایه د سیاسي نفوذ له ویرې زموږ له هېواد سره غړند تجارتی روابط پآلل، یوازنی هېواد ترکمنستان و چې له طالبانو سره یې سیاسي او تجارتي اړیکې پرانیستي وې چې پدې برخه کې هم ممکن له ترکمنستان څخه پاکستان ته د غازو د نل لیکي د غزولو هیلو رغنده رول درلود چې د مختلفو هیوادونو ګټی پکی نغښتی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې د موقت حکومت له استقرار څخه وروسته له پورته يادو شويو هېوادونو سره د افغانستان اړيکي مخ په ښه کېدو شوې چې له افغانستان سره يې د تجارتي معاملاتو او تبادلاتو مجموعه په لاندې ډول تخمين کړو:

چې له ازبکستان ، تاجکستان ا وترکمنستان څخه د وارداتي اقلامو مجموعه په ترتيب سره په 2005 ام کال کې 204 مليون 30 مليون و 33 مليون ډالره وه.

معمولاً له دغو هېوادونو څخه ترانسپورتي وسايط، نفتي مواد او روغنيات، ساختماني مواد او وسايل، خوارکي توکي او داسې نور شيان وارېدېدل. افغانستان دغو هېوادونو ته وچې او تازه ميوې، غالۍ او ټغرونه، پوستکي او طبې نباتات صادرول.

نا ويلې دې نوې پاتې چې له يادو شويو هېوادونو څخه د برېښنا د انرژۍ واردول د دغو هېوادونو مهم صادراتي قلم تشکيلوي.

نن ورځ د دې هڅه کېږي چې د تاجکستان برق په لمړي سر کې کابل او له هغه وروسته هغو ولاياتو ته وغزول شي چې د برق لين ور څخه تيرېږي.

له هغو ټولو اړيکو سره سره چې پورته ور څخه يادونه وشوه، له دغو هېوادونو سره د پراخو امکاناتو با وجود تجارتي اړيکو چندان پرمختګ ندی کړی چې علت يې يوازې په سياسی مسايلو کې لټولای شو.

**د هند له نيمې وچې سره د افغانستان سوداګريزې اړيکې:**

له هندوستان سره د افغانستان سوداګريزې اړيکې تل غښتلې پاتې شويدي او يوه اوږده سابقه لري. د وخت له تيريدلو سره د پام وړ پر مختګ پکې تر سترګو کېږي. د تيرو وختونو په متمادې کالونو کې هند د افغانسان په خارجې تجارت کې لمړی ځای درلود، د هند بازارونه د افغاني ميوه جاتو او طبې بوټو د خرڅلاو لپاره تر ټولو مناسب بازارونه دي . هغه توپير چې د ګاونډيو هيوادونو په پرتله له هند سره په تجارتي اړيکو کې ليدل کېږي دا دې چې په افغانسان کې د حکومتونو او نظامونو څرنګوالې پدې ډول اړيکو باندې چندان اثر ندی شيندلای او دغه اړيکې په ورته توګه ثابتې پاتې شويدی. البته د طالبانو د رژيم په وخت کې دغه اړيکې نسبتاً غړندې وې چې هغه هم د هند او پاکستان تر منځ له سياستي ترينګليتا څخه منځته راغلې وې.

د هند او افغانستان تر منځ د تجارتي اړيکو د پراختيا په لاره کې تر ټولو ستر خنډ له ترانزيټي ستونزو څخه عبارت دی. لکه مخکې چې هم ورنه يادونه وشوه، د پاکستان او هند تر منځ ترينګلې سياسي روابط د دې لامل ګرزي چې له هند څخه افغانستان ته او يا له افغانستان څخه هند ته د اموالو د ليږد را ليږد پروسه ټکنۍ کړي. پدې صورت کې دغه دواړه هيوادونه يا خو له هوايې لارې خپل تجارت ته دوام ورکوي او يا د ايران د بندر عباس له لارې څخه استفاده کوي چې د فاصلې د لري والې او ترانسپورتي لګښت د زياتوالې له امله د شيانو په قيمت باندې منفې تاثير غورزوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په 2006 ام کال کې له هند څخه افغانستان ته دوارد شويو توکيو ارزښت نږدې 124.7 ميليونه امريکايې ډالرو ته رسيده او په ورته توګه له افغانستان څخه هند ته د وارديدونکو توکيو مجموعې ارزښت 79.36 مليون ډالرو ته رسيده چې د نورو ګاونډيو هېوادونو په پرتله د تجارت د غوره بېلانس څرګندونه کوي.

**له روسيې سره دافغانستان سوداګريزې اړيکي:**

د افغانستان او روسيې تجارتي اړيکي تاريخي سابقه لري. دغه اړيکي د طالبانو له حکومت څخه پرته په بل هر نظام کې مناسبې پاتې شويدی. د دغو اړيکو د ښه والي په برخه کې بېلابېل عوامل رول لري چې دترانزيټي ستونزو نه شتون، سياسي اړيکي، د بيلابيلو قرضونو ورکول او په ځانګړې توګه  بارتري تجارتي اړيکي چې له دواړو لوريو د صادراتو تضمين کوي، د يادولو وړ دي. څنګه چې په شوروي اتحاد کې د مرکزي اقتصاد سيستم حاکم وو، نو همدغه لامل وو چې ټول تجارتي روابط د حکومت له لوري تامين کيدل، همدغه لامل و چې هغه وخت کې له روسيې سره سوداګريزې اړيکي د دولت له لوري تر سره کيدلې، خو نن ورځ دغه تجارت د هغه هېواد له خصوصي شرکتونو سره تر سره کېږي.

هغه مهم صادراتي اقلام چې افغانستان يې روسيې ته استوي، له وچې ميوې، زيتون، غاليو، پوستکو او داسې نورو څخه عبارت دی. له روسيې څخه زموږ د هېواد واردات په عمومي توګه له نفتي موادو، اهن چادر، سيخ ګول، غوړيو، بورې، صابن، برقي سامان آلاتو او داسې نورو څخه عبارت دي. په 2005 کال کې د افغانستان له لوري روسيې ته د صادريدونکو اجناسو مجموعي ارزښت 13 ميلون ډالر وه چې په همدې کال کې له روسيې څخه د افغانستان د وارداتو ارزښت 227 ميليون ډالر ته رسيده.

د مرکزي آسيا او جنوبي اسيا تر منځ د ترانزيټي لويې لارې په توګه د افغانستان اهميت:

افغانستان نن ورځ غواړي يو ځل بيا د خپل جغرافيايې موقيعت له نظره د اسيا د محور د ارتباطي پله په څير هغه ډول  رول تر سره کړي، لکه په پخوانيو وختونو کې چې د وريښمو مشهور معبر يا لارې در لوده. افغانساتان د منځنۍ او جنوبي اسيا تر منځ د شيانو د ليږد را ليږد تر ټولو غوره لاره ګڼل کېږي.

منځنۍ آسيا چې نږدې څلور ميليونه کيلومتر مربع خاوره احاطه کوي، د نفتو، ګازو، اوسپني، مسو، سرو زرو، سربو، يورانيمو، المونيم، قيمتي تيږو، او داسې نورو په څير له طبعې منابعو څخه تر لاسه کيدونکي پراخ صادراتي اقلام لري او همدا شان د شيانو د بازار له لحاظه پراخ اهميت لري.

همدغه لامل دی  چې بېلابېل هېوادونه د منځنۍ اسيا هېوادونو ته د لاس  رسي او نونټلو هڅي کوي.  افغانستان له سوداګريز پلوه د خپل ستراتيژيک موقعيت له کبله چې لري يې، د يوه مناسب مديريت په ترڅ کې کولای شي د ليوالو هيوادونو له اقتصادي او تجارتي غرايزو څخه غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

استفاده وکړي او په پایله کې د سیمې له هیوادونو سره تجارتي، کلتوري او د پانګې اچونې روابط منځته راوړي.

افغانستان هڅه کړیده تر څو پدې برخه کې امکانات او اسانتیاوې برابري کړي. د حلقوي سرکونو اعمار چې ګاونډي هیوادونه یو له بل سره نښلوي، خورا اهمیت لري. له ازبکستان څخه د تورخم تر سرحد پورې د اوسپنې دپټلۍ غزولو، له ایران څخه تر هر ات پورې د ورته پټلۍ غزولو او له پاکستان څخه تر چمن یا سپین بولدک پورې د اورګاډي د پټلۍ غزولو په څیر عملي اقدامات د ورته مدعا څرګندي بیلګې دي.

افغانستان د هغه د جغرافیایې موقیعت له لحاضه منځنۍ اسیا ته ننوتلو تر ټولو اسانه او مهم معبر دی او کولای شي له منځنۍ اسیا څخه جنوبې اسیا ته د تجارتي پوتانسیل په لیږدولو کې مهم اوبارز رول تر سره کړي.

**افغانستان د ګاونډیو هېوادونو لپاره د توکیو د مهم بازار په توګه:**

نن ورځ افغانستان د پاکستاني، چینایي او ایراني توکیو او اجناسو په مهم استهلاکي بازار باندې بدل شویدی.

څکه د اوږدې جګړې په ترڅ کې د هېواد زېر بنایي تاسیسات له منځه ولاړل، داخلي تولیدات کم شول او د هېواد اقتصاد تر ډیره ځایه په سوداګرۍ باندې اتکا ته اړ شویدی.

د باندنۍ سوداګرۍ بېلانس له بده مرغه د وران کسر ښودنه کوي. سره لدې چې له یوه کاله تر بل کاله په هغه کې بدلون را منځته کېږي، خو لدې سره سره دغه تجارت یوازې واردات په بر کې نیسي، چې زموږ خلکو ته له ضرر پرته هیڅ ډول فایده نشي ور په برخه کولای. څکه پدې صورت کې له افغانستان څخه نغدې پیسې یا سرمایه لیږدول کېږي او افغانستان کومه داسې عایداتي منبع نلري چې دغه ثروت بهیدنه جبران کړای شي.

له ګاونډیو هېوادونو څخه زموږ هېواد ته د اموالو صادرات، د داخلي محصولاتو د ودې له نظره زموږ اقتصاد ته سخته ضربه ورکړیده. څکه له همدې کبله زموږ هېواد په مصرفي مارکېټ باندې بدل شوی دی، د اموالو کیفیت ښکته شویدی چې په غیر مستقیمه توګه د افغانستان د داخلي صنعت لپاره یوه ماتې ګڼل کېږي. که چیرته موږ عملي ابتکارات تر لاس لاندې ونیسو، د خفیفه صنایعو په برخه کې لنډ مهاله ګټورې فابریکې تاسیس کړو او د لبنیاتو، د حیواناتو د روزنې د فارمونو په څیر د غذایې موادو او پلاستیکي تولیداتو پروژې ترلاس لاندې ونیسو، نو له یوه لوري د هېواد والو د اشتغال لامل ګرزي او له بل لوري د ګاونډیو هېوادونو د بې کیفیته اموالو له واربدېدلو څخه مخنیوی کېږي. پدې صورت کې بهر ته د افغانستان د سرمایې د وتلو مخنیوی هم کېږي او دغه سرمایه د افغانستان په قلمرو کې په جریان کې لویږي، یوازې د یوه افغان له لاسه د بل افغان لاسته په دوراني توګه انتقال مومي چې د اقتصادي پرمختګ اساس ګڼل کېږي. تر څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د هېواد اقتصاد يوازې په خارجي تجارت باندې متکي وي او داخلي توليدات وده ونکړي، نو د اقتصادي نيک مرغۍ خوب مو هيڅکله هم په حقيقت باندې نشي بدليدلای.

**له ګاونډيو هېوادونو سره د پرمختګ په لاره کې د افغانستان ستونزې:**

افغانستان د تجارت په برخه کې له ګاونډيو هېوادونو سره زياتې ستونزې لري چې له همدې لړ څخه په وچه باندې د دې هېواد محاطه کيدل ، د مډرنو ګمرکي تاسيساتو نه شتون، اداري فساد، د ګمرکي او مالياتي سيستم د ظرفيت ښکته والی او داسې نور يې د يادونې وړ ستونزې ګڼل کېږي

خو د مخدره توکيو قاچاق يې تر ټولو مهمه ستونزه ګڼل کېږي چې د ملي عايد د کموالي او د تروريزم د تقويې لامل ګرزي او د دې تر څنګ د هېواد اقتصادي ژوند له ګواښ سره مخ کوي. سره لدې چې د دغه توليد د مخنيوي پر وړاندې ملي او نړيواله مبارزه شتون لري، خو لدی سره سره دغه بهير صعودي سير لري. د ملګرو ملتونو د راپور پر اساس په 2003 کال کې د دغه ناروا او بشر دښمنه توليد ميچه يا اندازه په افغانستان کې نژدې 3600 ټنو ته رسيدله او په 2004 کال کې دغه رقم 4200 ټنو ته لوړ شو او په 2005، ام کال کې يې د توليدا اندازه 5000 ټنو ته رسيدله.

هغه څه چې د يادونې وړدي ، د هغوی د کښت زياتوالی دی چې د ملګرو ملتونو د اټکل له مخې له يو ميليون جريبه ځمکې څخه زياته يې د کوکنارو د کښت او کروندې لپاره ځانګړې شويده. سره لدې چې زموږ په هېواد کې دغه قيمتې ماده کرل کېږي، خو ډير لږ مفاد يې زموږ د دهقانانو په نصيب کېږي. که چيرته ټوله ګټه يې زموږ هېواد ته رسيدلای، د هېواد عايدات يې تر ډيره ځايه لوړولای شوای. بېلابېل هېوادونه د ورته مادې په تجارت کې رول لري چې پدې بهير کې په ګاونډيو هېوادونو باندې هم سترګې نشو پټولای.

په هر صورت دا يوه ستونزمنه موضوع ده چې د هېواد په تجارت او توليداتو باندې منفې اغيز شيندي.

له پورتنۍ وينا څخه دا پايله تر لاسه کوو، چې افغانستان په خپل غوره جغرافيايې موقعت برسيره له بالقوه اقتصادي منابعو او طبعې زيرمو څخه مالامال دی، حاصلخيزې ځمکې، کافي اوبه، معدني ذخاير، د جامد او مايع غاز زېرمې او با استعداده بشري قواوې يې له ځانګړيو امکاناتو او امتيازاتو څخه عبارت دي.

**په دې ځای کې د يوه کانفرانس له شعار څخه يادونه کول پر ځای کار بولو چې وايې:**

**Afghanistan is not a poor country, it is pooly manged.**

يعني افغانستان کوم غريب هېواد ندی، خو غريب اداره شويدی. **(ژباړن)**

د يوې سالمې او خوا خوږې ادارې منځته راتګ د ورته امکاناتو د کارولو په موخه تر ټولو مهمه اړتيا ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې د دې تر څنګ چې سیاستونه او کړه وړه، د هېواد د بیا رغونې لپاره برابر شي، پکار ده چې د ګاونډیو هیوادونو او ښکلو سازمانونو سره د تفاهم لارې خلاصې شي. د افغانستان سیاست او تګلاره باید داسې عیار شي چې په ترڅ کې یې افغانستان د خپلو مشروع حقوقو غوښتنه وکړای شي. د مثال په توګه د ګاونډیو له خاورې څخه د ترانزیتي لارې په توګه استفاده کول او د هغوی له بنادرو څخه په مصؤنه توګه د صادراتي او وارداتي توکیو د لیږد را لیږ د وسیلې په توګه کار اخستل یې د یادونې وړ حقوق ګڼل کېږي.

پدې برخه کې یو د بل په چارو کې نه لاس وهنه، یو د بل حاکمیت ارضي تمامیت او نړیوال هویت ته متقابل احترام او ددوارو خواوود منافعو د تامین لپاره د زمینې برابرول له اساسي شرطونو څخه ګڼل کېږي.

**د لسم څپرکي د مطالبو لنډیز:**

د یوې ټولنې په بیلابیلو اقتصادي او ټولنیزو برخو کې تغیر او تحول د هغې ټولنې په اقتصادي اړیکو پورې تړاو لري. د نړۍ زیاتره هېوادونه د نا متوازنې توزیع له کبله یو له بل سره تړلي دي.

د معبر په توګه د وریښمو د لارې تاریخي سابقې ته په کتلو سره دغه هېواد( افغانستان ) د پخوانیو پیړیو په اوږدو کی د شرق او غرب تر منځ د تجارتي کاروانونو د تګ راتګ مهم مرکز پاتې شویدی چې په عنعنوي توګه د شیانو د تبادلې او لیږد را لیږ دپه برخه کې اوږده سابقه لري.

افغانستان د پاکستان، ایران، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، چین، قزاقستان، روسیې او د هند د نیمې وچې په څیر له یو لړ ګاونډیو سره تجارتي اړیکي لري. دغه اړیکي اوږده سابقه لري . افغانستان د ګاونډیو هېوادونو مصرفي بازار ګڼل کېږي.

زموږ هېواد د جنوبي او مرکزي اسیا تر منځ د ترانزیتي لارې حیثیت لري.

افغانستان هڅه کوي تر څو پدې برخه کې اړین امکانات برابر کړي. افغانستان د هغه د جغرافیایې موقعیت له مخې د منځنۍ اسیا د ورودي ګذرګاه حیثیت لري او کولای شي له منځنۍ آسیا څخه جنوبي اسیاته د تجاري پوتنشیل د انتقال په برخه کې موثر رول ولوبوي.

څنګه چې افغانستان له ګاونډیو هېوادونو سره د غوره تجارتي او اقتصادي اړیکو د پرانستلو په هڅه کې، په وچه باندې د دغه هېواد چاپیر کیدل، د بحري لارې نشتوالی، له ګاوندیو هېوادونو سره د ترانزیتي لارې ستونزي، په بنادرو کې دمډرنو ګمرکي سیستمونو نه شتون ، د مالیاتي او ګمرکي سیستم ټیټ ظرفیت او اداري فساد او داسي نور د هېواد د اقتصادي پراختیا په وړاندې د موانعو او خنډونو د ایجاد لامل ګرزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لسم څپرکي پوښتني:**

۱. له ګاونډیو سره د افغانستان د تجارتي اړیکو په برخه کې معلومات ورکړئ؟
۲. د افغانستان د مهمو تجارتي ستونزو نومونه واخلی؟
۳. د وریښمو د لاري په برخه کې لنډ معلومات ورکړئ؟
۴. افغانسان ولي د ګاونډیو هیوادونو د شیانو د مصرفي بازار په توګه پیژندل کیږي؟
۵. ترانزیټ څه شی دی په افغانسان کی ې په تجارت کی مهم نقش څه شی دی، واضیح یې کړئ؟
۶. روسیې ته د افغانستان مهم صادراتې او وارداتې توکي له څه شي څخه عبارت دی، معلومات ورکړئ؟
۷. د هند له نیمي وچې سره د افغانستان تجارتي روابط څه ډول دي، معلومات ورکړئ؟
۸. له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره د افغانستان تجارتي مناسبات بیان کړئ؟
۹. په تیرو پنځو کلونو کې د چین او افغانستا ن تجارتي روابط واضیح کړئ؟
۱۰. له ګاونډی هېواد پاکستان سره د افغانستان تجارتي اړیکي څنګه ارزوئ، معلومات ورکړئ؟
۱۱. له ایران سره د افغانستان تجارتي اړیکي او د هغوی اثرات روښآنه کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرچيني او اخځليکونه:**


۱. داکتر علی جهان خانی و داکتر پارسایان، پول ارز وبانکداری تهران سال ۱۳۸۵.
۲. اسناد ارایه شده از جانب نماینده گی بانک جهانی در کابل سال ۱۳۸۵.
۳. استفاده از معلومات انترنتی در مورد بانک جهانی ۱۳۸۵.
۴. منابع دخلی:
۵. پوهاند عبدالله حقایقی، پوهنوال دکتور عبدالقیوم عارف استادان پوهنحی اقتصاد پوهنتون کابل مبادی علم مالی کابل سال ۱۳۸۷
۶. پوهندوی سید مسعود استاد پوهنحی اقتصاد پوهنتون کابل پول کریدت بهار سال ۱۳۸۷.
۷. پوهندوی سید مسعود استاد پوهنحی اقتصاد پوهنتون کابل بانکداری جوزای سال ۱۳۸۴.
۸. پوهنمل محمد عارف غوثی قاموس اقتصاد مطبعه دولتی کابل سال ۱۳۵۲.
۹. نصیر احمد احمدیار تحلیل احصایوی تجارت خارجی افغانستان اکادمی علوم افغانستان کابل سال ۱۳۸۲.
۱۰. محمد ناصر استانکزی، وضع تجارت خارجی افغانستان اکادمی علوم افغانستان کابل ۱۳۸۲.
۱۱. سالنامه تجارت خارجی احصائیه مرکزی سال ۱۳۸۵.
۱۲. وزارت تحصیلات عالی و مسلکی، پوهنتون کابل اقتصاد جهانی تحت نظر سید غلام رسول اصغری و عزیز اریانفر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام

د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت د ښوونیز نصاب د انکشاف ریاست د ټولنې د عیني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلینو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې یې تخنیکي او مسلکي رشتې درلودې او لري یې، په لومړي سر کې یې تصمیم ونیو، چې په ښـــوونیزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بیا کتنه وکړي او ورپســـې بیا د شاګردانو او محصلینو د درسي کتابونو د تالیف لپاره مبادرت او کوښـــښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســـابدارۍ څانګې د ښـــوونکو په میرانې او همت سره د ادارې او حســـابدارۍ درسي کتابونه تالیف شول تر څو په وړیا ډول د شاګردانو او محصلینو په واک او اختیار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســـتونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شـــاګردانو او د تخنیکي او مســـلکي زده کړو د چارو له متخصصینو او همدا شـــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صمیمانه هیله کیږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښـــوونکو او د ادارې او حســـابدارۍ څانګې د مســـلکي غړو له لوري تالیف او تدوین شوي دي. د مســـلکي، تخنیکـــي او علمي مطالبـــو او مفاهیمو د څرنګوالي په هکلـــه خصوصاً د هغوی املایي او انشـــایي اشـــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شـــاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شـــان له ګرانو شـــاګردانو او محصلینو څخه هیله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســـتفادې پر مهال د هیواد اقتصادي ســـتونزې، فقر او وروســـته پاتې والی په نظر کې ونیسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زیار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلینو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنیکي زده کړو معینیت

د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست

د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مدیریت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**